# گهیځ مهالنۍ

ارګان نشراتی انجمن نویسنده گان و ژورنالستان گهیځ

دویم کال دویمه ګڼه، ۱۳۹۸ ل کال د کب ۲۹مه

شهید مژده؛ د جهاد د جذر و مد له جاذبې آزاد فرهنګي سیاستوال

نقش رسانه ها در حکومتداری خوب

زمونږ د پنځګر او کره کتونکي اړیکې ولې خرابې دي؟

امضای تفاهمنامهٔ همکاری با پوهنتون تابش



# په دې ګڼه کې!

| مطلب | صفحه |
|---|---|


۱- د ګهيځ خبره..........۳
۲- شهيد مژده؛ د جهاد د جذر و مد له جاذبې آزاد فرهنګي سياستوال..........۴
۳-ګلوی حق بريده نمی شود..........۷
۴- د شهيد احمد وحيد مژده په ياد..........۸
۵- شهيد..........۹
٦- خپل الله ته مژده ستون شوې..........۱۰
۷- معياري ژبه او رسنۍ..........۱۱
۸- نقش رسانه ها در حکومتداری خوب..........۱٦
۹- اطلاعاتو ته د لاسرسي حق..........۲۱
۱۰- رسانه ها، طفل، تربيت و رشد او..........۲۴
۱۱- په پښتو ليکنو کې ځنې املايي تېروتنې، د وصل او فصل تورو روغه کارونه..........۲۷
۱۲- که غواړئ ژورناليست شئ، نو دا پنځه کارونه بايد ترسره کړئ..........۲۹
۱۳- نقش رسانه های همګانی در روابط بين الملل..........۳۱
۱۴- اطلاعاتو ته لاسرسی؛ خبريالان او ستونزې!..........۳۵
۱۵- په تېرو دوه لسيزو کې د اسلامي رسنيو ونډه..........۳۸
۱٦- چطور می توان يک نويسنده شد؟..........۴۱
۱۷- زموږ د پنځګر او کره کتونکي اړيکې ولې خرابې دي..........۴۴
۱۸- د سر مقالې ليکنې اړينې ځانګړنې..........۴۷
۱۹- نقش تلويزيون در تحولات دو دهه اخير..........۵۲
۲۰- رسنيو ته د مسلکي راپور ليکلو تګلاره!..........۵۵
۲۱- د فساد په مخنيوي کې د رسنيو ونډه..........۵۷
۲۲- د ادبي اثارو ډېرښت او ادبي کره کتنه..........٦۰
۲۳-ګهيځ په تېرو شپږو مياشتو کې..........٦۲
۲۴- د افغانستان د ژورناليستانو د مالي ملاتړ صندوق د مشر محمد آصف وردګ پيغام..........٦۴
۲۵- د ګهيځ له البم څخه..........٦۵

## د ګهيځ خبره

# شهید وحید مژده؛
# منادی صلح خواهی و آزادی بیان

شامگاهان روز ۲۹ عقرب سال جاری خورشیدی، دو تن از دشمنان شرور اسلام و افغانستان مردی را در راه رفتن به مسجد در شهر خونین کابل، هدف گلوله قرار دادند و خود بزدلانه فرار کردند.
هر چند در فضای نا امن کابل و در میان دود غلیظ انفجار، انتحار و ترور، خبر قتل یک آدم مسن، شاید زیاد قابل دقت نبود، اما این مرد کسی نبود جز احمد وحید مژده، چهره آشنا برای مردم کابل و افغانستان که از سالیان متمادی به این سو از ورای رسانه ها و صحبت هایش، تراژیدی افغانستان را فریاد می کشید، از جنگ نیابتی دیگران که همه روزه خون جوانان این سرزمین را می آشامد انزجار داشت و از دسایس پنهان و آشکار دشمنان دین و ملت برای این سر زمین و این دیار، پرده بر می داشت.
بلی وحید مژده را ددمنشانه به گلوله بستند چون خفاشان شب، نمی توانستند پیام زیبای روشنی را که آن شهید از ورای صحبت ها و نوشته هایش به مردم غم زده افغانستان می رساند، تحمل کنند و به درستی ثابت ساختند که پاسخ منطقی آنها به تحلیل آزاد وقایع و زیر یوغ استعمار سیاه نه رفتن، فقط گلوله است و بس.
در شهر و کشوری که مهم ترین دست آورد و بزرگترین افتخار خود را آزادی بیان و آزادی رسانه ها عنوان می کنند، ترور خفاشانه وحید مژده نخستین گامی در این راستا هم نبود، قبل از آن و همزمان با قتل خاینانه وحید مژده، کسان دیگری نیز هدف قرار گرفتند و آنها اغلب افرادی بودند که با خوی و مزاج اشغالگران بیرونی و دشمنان دین و آیین این مرز و بوم سر سازگاری نداشتند و ندارند، اما این که از این میان تیر شان در مورد مژده به هدف خورد و برخی دیگر از این گونه کمین گیری های شبانه وارستند، شاید یا قسمت و تقدیر چنان بود یا هم شکل و نوع مجازات از سوی این دد منشان تفاوت داشت.
به هر حال، انجمن نویسندگان و ژورنالستان گهیځ که از بدو تأسیس تا حال، در خط مقدم دفاع از آزادی بیان و آزادی رسانه های رسالتمند ایستاده است، در حالیکه پس از شهادت وحید مژده نیز با صدور اعلامیه ی و همچنان با تدویر گردهم آیی، شخصیت گرانبهای شهید مژده را ارج گذاشت، امروز با اختصاص دادن صفحات چند از گاهنامه «گهیځ» جهت یاد بود از شخصیت این قلم به دست نستوه و روشن نگر، خواست کمترین حق این شهید راه صلح و آزادی بیان را ادا نماید و امیدواریم روزی برسد که نسل های آینده کشور با بینش وسیع تر از امروز و با توانایی ویژه تر از اکنون، روی قضایای چون به گلوله بستن یک نویسنده، پژوهشگر، و محلل سیاسی در راه رفتن به مسجد، به بحث بپردازند و چهره سیاه این آزادی ستیزی را بیش از پیش نمایان سازند.
حقا که شهید احمد وحید مژده را باید شهید راه صلح خواند و شهید راه آزادی بیان، چون شهید مذکور جز این دو موضوع چیزی دیگری نداشت که کسی از او بهراسد و او را زبونانه به رگبار گلوله ببندد.روحش شاد و یادش گرامی باد


ګهيځ

ارگان نشراتی
انجمن نویسندگان
و ژورنالستان گهیځ

د امتیاز څښتن
ګهيځ د ليکوالو او ژورناليستانو ټولنه

د کتنپلاوي ډلي مشر
سردارمحمد دیندارخېل

کتنپلاوی
- څېړندوی رحيم الله حريفال
- احمدضياء رحيمزی
- تميم لنګري
-پوهنيار ضياءالاسلام شيرانی
- شعيب رحيمي



ویب سایت: www.gaheez.af
شماره تماس: ۰۷۴۷۹۹۹۳۸۶
آدرس ایمیل:
info@gaheez.af
anjuman.gaheez@gmail.com

# شهید مژده؛ د جهاد د جذر و مد له جاذبې آزاد فرهنګي سیاستوال

استاذ محمد زمان مزمل

شهید مژده چې په یوه لوستي فرهنګي کورنۍ کې زیږیدلی ؤ، هغه د خپل ماحول نه په تأثر تر پایه د یوه فرهنګي ځواکمن لیکوال ډېر څه په ځان کې وساتل او له همدې ممبر نه یې د سیاسي او ټولنیزو جریانونو سره متوازن تعامل درلود. شهید مژده یو څو بعده لیکوال او نهضتي مسلمان ؤ:

اول: یو مؤمن نهضتي.

دویم: یو په سیاست پوه فرهنګي.

دریېم: یو متعهد او الګو لټوونکی سیاستوال.

څلورم: په واقعي معنا د سولې مبارز او شهید

پنځم: په خپل آزمېښت کې بریمن مبارز

شپږم: مژده یو نقاد فرهنګي او یو ظریف شاعر.

**اول- یو مؤمن نهضتي:**

د شهید مژده صاحب د سیاسي او نهضتي ژوند له پیل نه چې تېر شو، هغه په دې اوږده لاره کې د جهاد په مختلفو پړاوونو کې دغسې لاړ او راغی چې له خپلو سیالو او جهادي قاعدې سره روابط تر پایه متوازن او په یو ښه مسیر کې روان وساتل، د همدغسې نمط خلکو سره نه د کرکو موج واخیست او نه د افراطي محبت جذر ته کوز شو او تر هغې ورځې چې مژده پکې شهید شو، هغه له خپلو دوستانو او ملګرو سره ښه روابط درلودل. هغه پکې خپله مسلماني تر هر چا ښه وساتله، هغه له هغه نژادي نفرتونو چې امریکایي پړاو خطرناک مد ته پورته کړل، متأثر نه شو او د ژوند تر پایه د د یوه ښه افغان چې له نژادي اپلتو نه پوره بې نیازه ؤ، ښه مثال او ښه میناتور ؤ.

همداسې شهید مژده صاحب د جهاد د پیل نه او په هغو ورځو کې چې تر ده کم سواده خلک د ډلو په اجرایو کې لاندې باندې کېدل د مشرانو او محترمو شخصیتونو سره په داسې یو بې نیازه تعامل کې ور ګډ شو چې نه یې پکې د چوکۍ او معاش لپاره د یوه تنظیم او یا د مشرتابه لپاره په تعصب مقاله ولیکله او نه یې د حریف په ضد داسې څه ولیکل چې ده ته په ډله کې د یوه مقام چانس پیدا کړي.

دېرش کاله بلا عمر ؤ او شهید مژده صاحب په دې دهلیز کې د ټولو ډلو په تېره د حزب او جمعیت په اخ و ډب کې داسې د سیالیو او جګړو پړاوونه تر شا کړل چې دی پکې نه د چا له ملګرۍ نه خجالت پاتې شو او نه د چا له عکس العملي مخالفت نه سر ټیټی.

که په راتلونکي کې د مژده صاحب په شخصیت لیکنه وشي مژده د جهاد او ګډوډیو په رمزي شخصیتونو کې تر ډېرو مؤمن او تر ډېرو نورو متوازن نهضتي ؤ، یو څه چې په اخر کې یې مژده د ځینو دوستانو سره جلا کړ هغه د طالبانو په اړه د شهید مژده په انصاف ولاړ دریځ ؤ، چې له ده یې د ځینو بې معلوماتو خلکو په نظر کې طالب جوړ کړی ؤ.

**مژده صاحب د طالب په اړه دوه الګو دریځونه درلودل:**

۱: دا چې طالب او ملا په مذهبي لحاظ او بیا د افغانستان په مذهبي ټولنه کې خپل اغېز او احترام لري، مژده غوښتل چې خپله هم د دې تهذیب یوه برخه شي لکه څنګه چې مژده صاحب د لمانځه او جومات پابند انسان ؤ، هغه مذهبي علماوو ته ځانګړی احترام درلود.

۲: دا چې په دویم پړاو کې طالبان د وخت حکومت او امریکایي ایتلاف په خپل کور کې عادي ژوند ته پرېنښودل او په پای کې طالبان د اشغال پر ضد مبارزې او جهاد ته ولاړل، شهید مژده چې خپله هم په همدغه تصور ؤ هغه ونه غوښتل چې د یوې خوا د اشغال پر ضد خپل قلم بند کړي او د بلې خوا یې له انصافه لیرې ګڼله چې د امریکا او طالب په منځ کې د امریکا پلوي وکړي او یا چوپ پاتې شي، بلکې هغه د خپلو ډېرو سیالانو خلاف

د اشغال پر ضد د طالب د عملي جنګ پر ځای په کابل کې د سیاسي معرکې خوا ونیوله او تر ډېره د مژده صاحب دي دریځ هاغه سولې او مذاکراتو ته لاره هواره کړه چې نن په کابل کې د ګردي مېزو سم نیم سیاستوال د مژده صاحب د لسو کلو مخکې نظریاتو باندې ودرېدل.

**دویم- یو په سیاست پوه فرهنګي:**

شهید مژده که څه هم په بنیادا یو فرهنګي فعال انسان ؤ او هغه شاعر هم ؤ ولې هغه خپلو سنجیده لیکنو په تېره خپلو بې پرې دریځونو او نظریاتو داسې تصویر کړ چې هغه د جهاد په فرهنګي کورنۍ کې تر خپلو سیالو زیات یو سیاستوال لیکوال ؤ.

په همدې خاطر چې هغه فرهنګ او سیاست دواړه سره اوبدلي وو او په دواړو کې د نظر او دریځ خاوند ؤ، ځکه نو کله نا کله د ځینو ډلو او ځینو مشرانو سره په اخ و ډب کې لوېده ، دا به له انصافه لیرې وي که وواېو په دې اخ و ډب کې به شهید مژده خپله د اشتباه مرتکب نه وي ګرځېدلی، ولې حقیقت دا دی چې شهید مژده د خپل فهم او درک مطابق قلم چلاوه او په همدې حد کې یې له خپلو نظریاتو او دریځونو نه دفاع کوله.



هغه نه د چا په خاطر د چا پر ضد لیکل او نه یې د چا پر خاطر د هغه پر ګټه څه لیکل، له بهر نه، او بیا د ځینو بې معلوماتو کسانو پروپاګندې د شهید مژده شخصیت کله نا کله د ملامتۍ په دایره کې غورځولو، ولې څوک چې له نژدې شهید مژده پېژني هغه د همدغسې بې طرفه او په خپل قضاوت بسیا او باوري فرهنګي شخصیت لرونکی ؤ.

که رښتیا وپوښتئ نو د مژده صاحب لیکنې، تبصرې او مصاحبې په همدې خاطر ډېر لوستونکي او اوریدونکي درلودل چې هغه سیاست او فرهنګ په یو رنګین ډول سره اوبدلی ؤ. په دې اړه هغه د مقالو او کتابونو یوه درنه میراثه پرې ایښې ده. دا هم باید وواېم چې مژده صاحب په خپله طبیعي معاشره کې یو ظریف انسان او یو ظریف شاعر ؤ د مژده صاحب له ملګرو سره په دې اړه ډېر په زړه پوري یادونه شته.

**درېیم- یو متعهد او الګو لټوونکی سیاستوال:**

دا چې د ښاري تهذیب روږدی لیکوال، شهید مژده څنګه پړاو په پړاو د خپلو بلا دوستیو ملګریو په منځ کې په وروستي پړاو کې د امریکا او د طالب په لویه شخړه کې د طالب خوا ونیوله او په یو هنرمندانه ډول یې د سیاسي مبارزې مسیر د طالب سره په جنګي مسیر کې روان کړ دا خپله ښیي چې مژده صاحب هومره چې فرهنګي شخصیت ؤ، دوه برابره هغه یو سیاسي مؤمن لیکوال ؤ بیا دا چې شهید مژده په دې شل کلن وروستي پړاو کې د یوه همدغسې څپې په نیلي سپور پاتې شو او د ځینو غونډې د نوساناتو ښکار نشو دا په بل اړخ کې یو لوی ثبوت دی چې شهید مژده صاحب له دین نه بشپړ سیاسي فهم درلود.

د طالبانو تحریک چې د نورو په شان د زیاتو غلطیو مرتکب ؤ او لا دی، شهید مژده په دې منځ کې کله کله پر طالب د بحث په مهال، چې ځینې پکې افراط ته ښوییدل هغه د انصاف او مولا ته د احترام له حدودو نه ووت.زه چې خپله دوه نسله اخندزاده یم په همدې موخه کله کله د مژده صاحب دریځ ته شرمنده کېدم ځکه ډېر فرهنګي شخصیتونه او لوستي کسان په عکس العملي انداز د مجاهدینو او طالبانو تېروتنو په اپلتو سر کړل او د سیاسي بې ثباتیو ښکار شول.

شهید مژده صاحب دا شل کلن سفر د یو الګو لټوونکي سیاسي کارپوه په شان تر هر چا د شهادت پر هغه پېښه ودراوه چې لعنتي قاتل به یې خپل کشر زوی ته هم توجیهه نشي کړای.

**څلورم- په واقعي معنا د سولې مبارز او شهید:**

د انجنیر احمدشاه احمدزي په مشرۍ د سولې هغه نهضت چې په یو قرنطین کابل کې د سولې، د امریکا د اشغال او د مذهبي فتوا هغه غبر پورته کړ چې د وخت

مؤمن علماء يې د طالبانو سره په يو موازي نهضت کې ودرول.
شهيد مژده صاحب ددغه نهضت د طراحانو او مخکښانو نه ؤ، هومره چې زمونږ په منځ کې په دې اړه مژده صاحب ستوماني او خطرونه وګالل ښايې نور يکې معذور وي په ټولو اجتماعاتو کې د هغه منظم حضور او په تنګ کابل کې په اوچت مورال د مژده صاحب هڅونې، ليکنې او مقالې دا ټول هغه څه دي چې هغه د قيام د مجلې په کلکسيون کې پاتې نسلو ته پرېښودې.
په تېر څو کلن دوران کې چې د سولې ستونزمن فعاليت په کابل کې رنګ نه اخيست او د سولې خبره دلته د امريکا د پلويانو پروپاګندې د آی ايس آی سيورى تصوير کاوه، په پای کې دا کنګل د سولې مؤمنو مخکښانو مات کړ او نن په همدې کابل کې له هماغه سياستوالو او دولتي مشرانو څخه چې هغه وخت د سولې غږ پر هغوی د چوپې تمانچې دز ؤ، ډېر د سولې په کاروان کې د مژده شهيد نه مخکې مخکې روان دي.
شهيد مژده په همدغه تحول ډېره پانګونه کوله او په همدې له خطره ډک کابل کې يې د آرامۍ احساس کاوه، اميد يې درلوده چې د ملي وحدت او د يو متحد افغانستان د مخالفينو اخري قشلې به هم بالآخره دلته سپينې جنډې پورته کوي . ما چې نن د احمد ولي مسعود هوښياري خبرې په کابل ستار کې واوريدې نو له واره مې شهيد مژده سترګو ته ودرېد او له ځان سره مې ويل: ای کاش! په دې غونډه کې د عکس پر ځای په خپله شهيد مژده صاحب وای او د احمد ولي مسعود خبرې يې اورېدلې وې او څومره به خوشحاله شوی ؤ. مګر نن د سولې دعوت ژوندی روان دی ولې د سولې شهيد مژده يکې مونږ يواځې پرېښودو.

**پنځم- په خپل آزمېښت کې بريمن مبارز:**

شهيد مژده صاحب په اوږده لاره کې داسې راغی چې د جهاد د مبتکرو ډلو دريځونه يکې په مد او جذر کې روان وو، هغه د مد په دوران کې نه د فتحو څپو واخيست چې نه يې د کوم وزارت د معاونيت لپاره چاته د خندا او يا خانه توی نکړې.کچکول ونيوه او نه يې د جذر په پړاو کې د چانه د بېزارۍ او د شاتګ نذرانه ورکړه.
په اخرينې پړاو کې چې د يوولسم سپتمبر حادثې بوش د غوسې په آسمان ودراوه بيا هم زمونږ شهيد مژده يکې تر نورو ډېرو ښه پاتې شو.
د يوې ورې دمې لپاره يې په دغه مرحله کې په يو کتاب کې معتدل نظر ښکاره کړ ولې د څو مياشتو په تېرېدو مژده صاحب په هماغه استعماري ضد مدار کې واقع شو، هلته چې د مژده صاحب لپاره خپلو عزيزو ملګرو د معاونيت وړانديز وکړ هغه تکرار رد کړ.

**شپږم- مژده يو نقاد فرهنګي او يو ظريف شاعر:**

دا برخه ددې وړ ده چې په دې ډېرې مقالې وليکل شي.
شهيد مژده صاحب د جهاد له پيله او بيا تر دې ننني په وينو رنګ پای پورې، د خپلو ملګرو او ليدنو کتنو په لړ کې هغه فرهنګي نقاد انسان ؤ چې هره ورځ يې د ورځې مسايل او د دنيا حالات د ملګرو سره ژوندي مطرح کول او مربوط اشخاص او ډلې يې په خندا ډکه خوله داسې نقد کول چې د مژده صاحب په جلسه کې سړي ډېر څه زده کول او هغه چې مخامخ يې نقدول هغوی ښايي تر نورو ډېر زده کړي وي.
همداسې مژده صاحب يو ظريف شاعر ؤ، ظرافت يې په جهادي ماحول او د ملګرتوب په جغرافيه کې ډېر په زړه پوري اشعار او يادونه پرېښودل. د مثال په ډول زه چې يو مهال د تخطيط او تنظيم رئيس وم او په رياست کې د ارکانو او اعضاوو بحث، حزبي ماحول د څو ورځو لپاره تود او وپاروه، هغه ددغسې ورځو يو ښه انځور ماته راولېږه:
مزمل يار با وفا و با تمکين است
کار او کاری کرام الکاتبين است
ددې طنزيه شعر پاتې مصرې ډېرې په زړه پورې او پاروونکې وې په دې معنا چې د مزمل ترازو پانګ لري، د سړيو په تول کې خطا شوی او د تنظيم په ځای يې شته تنظيم نور هم ګډوډ کړ.
ما مې په خپلو پاڼو کې دا قصيده ساتلې او دوه مياشتې مخکې مې هغه ته ور ياده کړه چې ډېر يې وخندل.
همداسې په ترې منګل سيمه کې د يو توپ په رابطه د هغه يو طنزيه شعر د پېښور د غم پړاو تر ډېره د خنداګانو تر پوښښ لاندې ونيوه.
غواړم په پای کې د شهيد مژده صاحب د ورورۍ اخري حق ادا کړم:
خدايه!
شهيد مژده صاحب ته له خپلو خطاوو او ګناهونو ورتېر شې، له قبره، برزخه او حشره يې هاغه مقام ته په خير ورسوې چې په اړه يې وايې: «ادْخُلُوهَا بِسَلَامٍ»
آمين يارب العالمين

# گلوی حق بریده نمی‌شود

**یوسف ارسلان**

نمی خواهم در مورد وعده‌ها و بهشت آرمانی کمونیزم چیزی بگویم؛ امروز این ایدیولوژی سرمایه‌داری که نظام سیاسی آن دموکراسی است بیشترین اصرار در فراهم نمودن بهشت و سعادت در دنیا را دارد.

آزادی با انواع چهارگانه آن از ارزش‌های جوهری سرمایه داری پنداشته می‌شود. گویا سعادت و بهشت سرمایه‌داری بدون آزادی یعنی هیچ باشد. به همین‌گونه اساسی ترین وظیفه دموکراسی را صیانت از آزادی و تأمین امنیت و رفاه می‌دانند؛ اما امروز دیده می شود که سرمایه‌داری با این همه طمطراق خود به جهنمی می‌ماند که هنگام مرگ به گلوی رعیت خویش حتی قطرهٔ از زقوم هم نمی ریزد. بلندترین نعره دموکراسی آزادی است، اما کلان ترین دستاورد آن سانسور و خفه کردن گلوهاست. بزرگ‌ترین داعیه خود را امنیت و رفاه می‌داند اما بارزترین دستاورد اش ترور و بریدن حنجره‌هاست.

دموکراسی دقیقاً با همین شعار وارد افغانستان شد و با دو دهه حاکمیت خویش وحشت، فساد، ترور، فریب، سرکوب و سانسور را نهادینه ساخت. برای جامعه گفتند که رسانه‌ها رکن چهارم نظام ما و ممثل آزادی بیان است، اما پالیسی همین رسانه‌ها از سفارت‌خانه‌ها صادر می‌شد. می گفتند شما حق دارید فکر تان را فریاد زنید اما در بین تجمعات معترض به انتحار می پرداختند؛ کسانی را تطمیع و کسانی را سرکوب و زندانی می‌ساختند.

در تسلسل حملات و تهدیدهای گروه‌ها و افرادی‌که بزرگ‌ترین داشته‌های آنها قلم و زبان شان بود در می‌یابی که آزادی بیان صرف برای کسانی‌ست که باطل می‌گویند، باطل را می‌پسندند و مردم را به سوی باطل فرا می‌خوانند. بلی، افراد و نهاد های که مردم را به فحشا و فساد فرا می‌خوانند مصؤون و آزاد اند. برعکس، کسانیکه اندیشه و منافع نظام‌های حاکم را تهدید نموده و چلنج نمایند، علیه ظلم، استعمار، فحشا و فساد موقف بگیرند آنها باید حذف شوند؛ چه این حذف آنها تحریم آنها باشد یا هم به بند کشیدن و حتی ترور و حذف فیزیکی این حق‌گویان و حق طلبان. وحید مژده از مثال‌های بارز این موضوع است. او به جز از قلم و زبان چیزی با خود نداشت اما نظام های باطل و باطل پرستان او را تحمل نتوانستند و حتی تحمل و پاس‌داری داعیه‌های را که دیگران را به سوی آن فرا می‌خواندند. تنها این مورد نیست؛ با پا گذاشتن پاهای منحوس دموکراسی به این سرزمین با داعیه سعادت و بهشت دنیوی خویش، نه تنها سیاسیون و گروه‌های فکری – سیاسی دارای مصؤونیت نبودند برعلاوه بیش از یک میلیون انسان این سرزمین را قربانی کردند و به هزارها متنفذ، بزرگ قومی و عالم دینی را با شمشیر دموکراتیک خویش ترور و سلاخی نمودند.

پس ای مسلمانان و ای اهل خرد! امروز که به گونه جسورانه گلوهای حق را در ملاء عام می بُرند، بیایید و این گلوهای بریده شده را فریاد زنید! برخیزید و این مکلفیت عقلی و دینی خویش را ادا سازید! با ساتور حق به گردن باطل بکوبید تا باطل سرنگون شده و حق اعلام موجودیت و حاکمیت کند. ساتور شما اندیشهٔ شماست، ساتور شما زبان شماست، ساتور شما قلم شماست.

# د شهيد احمد وحيد مژده په ياد

محمد زبير شفيقي، د ويسا ورځپاڼې مسؤول چلونکی

زه چې کله د ځينو کسانو په باب وغواړم څه وليکم، ذهن مې را سره ياري نه کوي. الفاظ رانه تښتي، توري او کليمې رانه ورک ورک شي، نه پوهېږم له کوم ځايه يې پيل کړم او په کومو الفاظو!

د درانه قلم او قدم خاوند ارواښاد شهيد احمد وحيد مژده يو له همدغو هستيو څخه دی.

ما څو ځله غوښتي چې د خپل دغه مظلوم انډيوال او سپېڅلي قلموال په ياد په ويسا ورځپاڼې کې يو څه وليکم او يادونه يې را وسپړم خو همداسې کانه را باندې شوې چې پاس مې ورته اشاره وکړه.

شهيد مژده زما د جهاد او هجرت د تودو ورځو انډيوال ؤ، دواړو کلونه په يوه دفتر کې يو ځای کار کړی دی. په شپېتمو کلونو کې موږ د حزب اسلامي په ارشاد او فرهنګ رياست کې له يو شمېر نورو دوستانو سره يو ځای بوخت وو.

فکري تړاو مو د دې سبب شو چې له ګوندي رسنيو پرته په آزادو رسنيو لکه اميد مجله کې هم زموږ اړيکې او ګډې هڅې دوام وکړي. د ارواښاد مژده ټول يادونه او خاطرې د يوې ليکنې له حوصلې لوړې دي، يوازې څو ټکيو ته يوه اشاره کوم چې د نوموړي د شخصيت ځانګړتياوې ثابتوي:

مژده صاحب يو له هغو کسانو څخه ؤ چې په ګوندي چوکاټونو کې نه ځايېدو، برعکس د افرادو او ډلو پر ځای پر يو لړ اصولو ولاړ ؤ او سرې کرښې يې درلودې.

شهيد مژده په تېرو ۱۹ کلونو کې د ژبې، قلم او فکر داسې کرکټر ثابت شو چې دوست او رقيب دواړه پرې قايل دي.

د ۲۰۰۷ م کال په وروستيو کې د يو شمېر سياسي، فرهنګي شخصيتونو په همکارۍ د افغان څېړنيز مشورتي مرکز په نوم د يوه فکري بنسټ تيره کېښودل شوه چې وخت پر وخت يې د هېواد پر مهمو مسايلو ژور بحثونه جوړول او په درېيو کلونو کې يې څلور ګڼې مهالنۍ هم خپرې کړې چې يې د امريکايي اډو، دويم بن، د افغانستان د تجزيې هڅې او د ګاونډيو مغرضانه لاسوهنې يې پکې وڅېړلې. شهيد مژده د دغه د بنسټګرو کسانو څخه ؤ چې په مهالنيو کې يې هم ډېرې په زړه پورې ليکنې خپرې شوې.

يوه ورځ د همدې مرکز په يوه غونډه کې ما وويل چې د وخت په تېرېدو افغانان د لويو ځواکونو په تېره امريکا په موخو وپوهېدل او دا د خير يوه خبره ده.

مژده په ځواب کې راته وويل:

ستا خبره سمه ده خو امريکايان بله محاسبه لري. هغوی وايي موږ هر کال په سلګونو ځوانان د بورسونو، انجي اوګانو او نورو اړخونو له لارې جذبوو، دوی د زده کړو او ډالري امتياز تر اغېز لاندې زموږ (امريکا) ملګري کېږي، پينځه کاله وروسته دا يو لوی ځوان کدر کېږي چې د حکومت مهم واکونه به يې په لاس کې وي، بيا به د عام ولس يا عامو افغانانو منفي ذهنيت هېڅ اغېزمن نه وي. اوسنی حالت د شهيد مژده تحليل رښتيا کوي، يوه وړوکې ډله حاکمه ده، عام ولس تر وحشتونو لاندې دی ځوک يې په کيسه کې نه دي.

زه د ارواښاد مژده يوه بله خاطره چې ډېره يې تکراروله يادوم او دعا کوم چې رښتيا شي. نوموړي به دا ډېر ويل چې امريکا ماته خوړلې، له طالبانو سره د سولې خبرې يې دليل دی، دوی نور له افغانستانه وځي.

زما تحليل تل د دوی پر خلاف ؤ، زه الله ته دعا کوم چې د شهيد مژده دغه هيله رښتيا کړي. البته له دې سره چې نور د ليرې او نژدې بل پردي تر تور وحشت لاندې رانشو. آمين

د شهيد مژده شهادت په رسنيو په تېره په ټلويزيوني بحثونو کې د يوې لويې تشې په څېر ځرګند دی. نوموړی د ګوتو په شمار کسانو څخه ؤ چې استدلال او منطق يې پر احساساتو غالب ؤ. ړوند تائيد او يا رد يې له مزاج سره نه جوړېده مهذبه ژبه يې درلوده، هېڅکله يې سپکه خبره پر مهذبه ژبه چا وانه ورېده، آن تر دې چې فکري مخالفين يې په موسکا ځوابول. مژده د وطن يو صادق بچی ؤ، د يوه باوقاره افغانستان خوبونه يې ليدل او د پرديو له سيوري ژغورلی افغانستان يې ستر ارمان ؤ، شهادت يې يوازې کورنۍ نه، بلکې هر هغه افغان ويرمن کړ چې له نوموړي سره يې ارمانونه شريک وو. الله دې افغانستان وژغوري او مژده دې د نورو شهيدانو سره د خپل رحمت په غېږ کې واخلي. آمين

یادداشت: این سروده از شخص شهید مژده می باشد و از فحوای ابیات آن چنان پنداشته می شود که این شهید از شهادت خویش آگاهی داشت، این است شعر مذکور را با تشکر از خانواده شهید مژده که آن را در اختیار مان قرار داد، به خواننده گان عزیز تقدیم می داریم.

# شهید

گلگـــون بـــه خـــون خویـــش و ســـر از تـــن جـــدا شـــهید
بنمـــوده جـــان فـــدای رۀ آشـــنا شـــهید
هـــر چنـــد بـــی کفـــن بـــدل خـــاک خفتـــه اســـت
دارد بـــه تـــن زحلـــۀ جنـــت قبـــا شـــهید
بـــی حـــرص تـــاج و بـــی طمـــع تخـــت اقتـــدار
بـــی اعتنـــا بـــه ســـایۀ بـــال همـــا شـــهید
تاریـــخ ،کشـــتگان بخـــون خفتـــه کـــم ندیـــد
کـــی باشـــد از هـــزار یکـــی چـــون شـــما شـــهید
ای شـــاهدان بـــه راۀ شـــهیدان گـــذر کنیـــد
بنهـــاده از بـــرای شـــما نقـــش پـــا شـــهید
هـــر قطـــره خـــون ســـرخ تـــو چشـــمی بـــه ســـوی ماســـت
نظـــاره گـــر بهـــر قدمـــی از قفـــا شـــهید
رویـــش ســـیاه بـــاد بدنیـــا و روز حشـــر
هـــر کـــس کنـــد بخـــون تـــو بیـــع و شـــرا شـــهید

شهید وحید مژده

# خپل الله ته مژده ستون شوې!

د جومات او کور تر غاړې
شهادت دې مبارک شه
ته به نور څه له رب نه غواړې
د قلم د سرو سره
په سینه ټپي جعفره
د عمر د کمپ سرلارې
څنگه ولاړې نابېره
بېنوا کړو نامردانو
ستا د لیک او ستا د ژباړې
زه پښتون چې په تا ژاړم
یه تاجکه مسلمانه!
بې له تا ورځې ترخې شوې
په تاجکو کې افغانه
د ایمان زېرى مې واخله
نن هر قوم چې په تا ژاړي
د ملا جومات په ننگ کې
په بدی د بد پرنگ کې
خپل الله ته مژده ستون شوې
په دا خپلو وینو رنگ کې
په تا منی پسرلی شو
د تمیم د باغ په غاړې
یه د یو لورکی پلارجانه!
یه د یو زوکي پلار جانه!
چا چې کور د تا په غم کړ
څنگ به خلاص شي د الله نه
هغه هم ستا په شان دی

ستا پشان به يې غم نغاړې
پردې ژاړې خپلوان ژاړې
ستا پر قبر یاران ژاړې
د مژده اخر سفر دی
له رحمته آسمان ژاړې
نوراني دې په مزار شوې
د تمیم د مزار تراړې
یاران مات شول ته مات نشوې
چاته ټېټ او هم مات نشوې
په زربه زربه توپان کې
سوغات نشوې خو خیرات شوې
بازگړه افغانستان کې
نه ځايېږي پردی خراړې
که تاجک ؤ زمونږ د کور ؤ
د ایمان پکې پاک شور ؤ
چې شهید شوې مونږه پوه شو
په مژده کې څومره زور ؤ
ستا زخمي ارمان به پالو
که ته ولاړې پخیر ولاړې
د قلم د سرو سره
د وطن د سینې سپره
د کوژکه تر پامیره
د خمیابه تر خیبره
د قاتل په کور دې اورم
د ژړا په ځای رمباړې

**استاذ محمد زمان مزمل**

# معياري ژبه او رسنۍ

څېړوندی رحيم الله حريفال، د علومو اکاډمۍ علمي غړی

**سريزه:**
ژبه او رسنۍ هغه موضوع ده چې يو له بل سره نږدې اړيکې لري او په اړه يې په نورو هېوادونو او ټولنو کې ډېر څه ليکل شوي او ويل شوي دي. خو متأسفانه په افغانستان کې د دې برخې ارزښت او اهميت ته په کتو ډېر څه نه دي شوي، د عمومياتو تر بريده څه نا څه کار ترسره شوی، خو په تخصصي توګه دا برخه ډېره نه ده، څېړل شوې او يا هم ويلای شو، چې په ياده ساحه کې ميداني څېړنې او تحقيقات نه تر سترګو کېږي.
له ۱۳۸۲ لمريز کال را په دې خوا په هېواد کې په پراخه توګه رسنۍ منځ ته راغلې، په صوتي او انځوريزو رسنيو سربېره د انټرنټي رسنيو په برخه کې هم بېلابېل ويبسايټونه، ويبپاڼې او ويبلاګونه را منځ ته شول. دولت هم چې کله له خپلو لاسته راوړنو يادونه کوي، يوه يې هم د بيان آزادي او يا هم په رسنيزه برخه کې پيشرفت او پرمختګ دی. د دې تر څنګ چې رسنۍ به خپل امتيازونه او ګټې لري، خو په ځينو ځايونو کې يې ټولنې ته زيانونه هم اړولي دي. دلته په دې علمي او څېړنيز کنفرانس کې لومړی د معياري ژبې په اړه بحث شوی دی او د معياري ژبې په اړه مختلف نظريات را اخيستل شوي دي، ورپسې په رسنيو کې د معيار په ژبه رڼا اچول شوې ده، چې رسنۍ بايد کوم معيار په نظر کې ولري او کومه معياري ژبه وکاروي؟ په پای کې بيا په ژبه د رسنيو د اغېزو په اړه رڼا اچول شوې ده او ځينې بېلګې را وړل شوې دي. رسنۍ د معياري ژبې په وړاندې څه مسؤوليت لري؟! آيا خپل مسؤوليت يې په سمه توګه تر سره کړی او که نه؟!

**د څېړنې اهميت او مبرميت:**
رسنۍ د معياري ژبې په غوړېدا او منځ ته راتګ کې ستر رول لري، بل دا چې ژبه او رسنۍ يو له بل سره لازم او ملزوم دي، نو پکار ده چې دا موضوع لا زياته وڅېړل شي او په ياده برخه کې چې کومې ستونزې او نيمګړتياوې تر سترګو کېږي، هغه په ګوته شي او د داسې علمي څېړنو په پايله کې رسنۍ او د رسنيو مسؤولين د ژبې پر وړاندې خپل رسالت ته لا زيات متوجه شي او د ژبې د برخې متخصصين هم له رسنيو سره د خپل مسؤوليت له مخې همکاري او مرسته وکړي.
که دا ومنو چې د زده کړې يوه عمده برخه له ټولګي څخه بهر تر سره کېږي، نو بايد وواېو چې ټلويزيون، راډيو، مجلې، ورځپاڼې او سينما خلکو ته د زده کړې مسؤوليت پر غاړه اخيستی دی. که څه هم د ټولنيزو رسنيو څښتنان او مسؤولين به له دې چارې نه ډېر خبر هم نه وي او يا کېدای شي په مناسبه توګه به ورته پام نه کوي، خو حقيقت دا دی چې د ښوونې او روزنې بهير د کتاب او ښوونکي له انحصاري چوکاټ څخه وتلی دی او پراخه مفهوم يې خپل کړی دی.
له بلې خوا د رسنيو ژبه دا توان لري چې د ټولنې د محاورې د ژبې سطحه لوړه کړي. که د رسنيو ژبه د کلمو او جوړښت له نظره په مناسبه کچه کې وي، د دې وړ ده چې د ژبې د زده کړې لپاره مدرسه شي. رسنۍ د اطلاعاتو پر رسولو سربېره د ژبې د سمې بڼې او شکل د دودولو مسؤوليت هم پر غاړه لري.

**معياري ژبه:**
معياري ژبه د ويلو او ليکلو هغه بڼه ده چې زياتره لوستي او پوه کسان يې کاروي او د ډېرې خلکو له خوا د ژبې د سم او کره ډول په توګه منل شوې وي.
د معياري ژبې نړيوال منل شوی تعريف: د يوه هېواد د سياسي پلازمېنې ژبه ده او دا رسمي او د ښوونې او روزنې ژبه ده چې په اساسي قانون کې ورته څرګنده اشاره شوې ده.
دکتور علي اشرف صادقي د معياري ژبې ځانګړتياوې داسې په ګوته کوي:
«معياري ژبه داسې يوه ژبه ده چې په يوه هېواد کې له مروجو محلي او ټولنيزو لهجو څخه لوړ ځای لري او د هغو کسانو ارتباطي، ټولنيزه، علمي او ادبي وسيله ده چې ممکن په نورو ځايونو او شرايطو کې په خپلو ځانګړو

سیمه ییزو او ټولنیزو لهجو خبرې وکړي. دا ژبه د لوستو کسانو ژبه ده او په غالب ګومان د لیکنې له ژبې سره یوه ده. همدغه ژبه چې په راډیو، ټلویزیون او ورځپاڼو کې کارول کېږي او بهرنیانو ته د ژبې د ښودلو پر وخت ګټه ترې اخیستل کېږي».

یا هم هغه ژبه چې د کره کولو لپاره یې بېلابېل سیمینارونه او کنفرانسونه جوړ شوي وي او کار پرې شوی وي او د بېلابېلو لهجو له منځ څخه یوه عامه لهجه غوره شوې وي



په بېلابېلو لهجو کې د کلمو له ګڼو بڼو څخه پر یوه کره بڼه اتفاق او فیصله شوې وي، دلته مو باید یوه ټکي ته پام وي چې دا کار تر ډېره بریده د سیاسي او علمي دریځ پر بنسټ مخکې ځي؛ کومه لهجه چې د لیکلو لپاره او یا هم په دولتي او دفتري ساحه کې کارول کېږي د وخت له تېریدو وروسته یاده لهجه چې د واک او سیاسي قدرت په سیمه کې مروجه او استعمالېږي د معیاري ژبې په توګه ځای خپلوي.

دا ډول ژبه له ښوونځیو او پوهنتونو څخه نیولې بیا تر ټولو دولتي ادارو، قضایي ارګانونو د چاپ او خپرولو په ټولو مؤسسو، ټولو رسمي لیکنو، حقوقي او سوداګریزو چارو کې کارول کېږي.

**په رسنیو کې د معیار ژبه:**

د انسانانو یوه خاصه ځانګړتیا دا ده چې له نورو سره د ارتباط او اړیکو ټینګولو لوړ او عالي مهارت لري. دې چارې له یوه نسل څخه بل نسل ته د فرهنګ لېږد آسانه کړی دی. دا رابطه په دریوو بنسټیزو روښونو ترسره کېږي:

لومړی بڼه د وینا ژبه ده او دا ژبه د انسانانو تر منځ زده کړه او ټولنیزې اړیکې آسانه وي. دویمه بڼه د لیکلو ژبه ده چې د وینا له انځوریز ثبت څخه عبارت ده. دا بیا د لیکنې ژبې زده کړه او د فرهنګي میراثونو ساتنه او لېږد آسانه وي. دریمه بڼه د اشارې ژبه ده.

له شک پرته ژبه د بشري ارتباطاتو د مجموعې په زړه او هسته کې ځای لري. رسنۍ له خپلو مخاطبینو سره د ارتباط د ټینګولو په خاطر اړې دي چې له ژبې څخه ګټه واخلي، هغوی د خپلو دندو د سرته رسولو لپاره له بېلو ژبنیو کالبونو څخه استفاده کوي.

کله چې په رسنیو کې د معیاري ژبې په اړه خبرې کوو له دوو ډولونو سره مخ کېږو: د وینا او لیکنې ژبه، چې لیکلې ژبه بیا پر خپل وار نورې بڼې لري، یعنې د معیار ژبه مطلقه نه ده، دغه ژبه کېدای شي، رسنیزه، اداري، علمي، ښوونیزه ... او نورې بڼې ولري، نو دلته مقصد له یوې مشخصې ژبې څخه نه دی، د علم ژبه بې روحه ژبه ده، یعنې هغه ژبه چې ډېره دقیقه ده. هره کلمه پر خپل ځای کارول کېږي او هره کلمه یوه ځانګړې معنا لري، په دغه ژبه کې حق نه لرو چې له ادبي بڼې څخه کار واخلو.

د رسنیو په ژبه کې منځپانګې او مخاطبینو ته په کتو کولای شو له نورو بڼو څخه هم ګټه واخلو، حتی یوه رسنۍ په خپلو مختلفو پاڼو کې له بېلو ډولونو څخه ګټه اخلي. د مقالې ژبه نسبت د ګزارش ژبې ته رسمي وي، له لوستونکو سره د خبرو او مکالمې ژبه بیا ډېره عاطفي او صمیمي وي، پورتنیو ټکو ته په کتو که یو منحنی په نظر کې ونیسو، څومره چې پورته خوا ته ځو ادبي ژبې ته نږدې کېږو او څومره چې کښته لور ته حرکت کوو، عامیانه او د ورځنۍ محاورې ژبې ته نږدې کېږو، چې په واقعیت کې د معیار ژبه د دغو دواړو په منځ کې قرار لري، نه ادبي او د شعر ژبې ته نږدې ده او نه هم عامیانه ژبې ته.

د رسنیو ژبه د عوامو او د ټولنې د اوسېدونکو له نظره د معیار ژبه ګڼل کېږي، نو پر دې اساس که د رسنیو ژبه تېروتنې او اشتباهات ولري، همدغه اشتباهات بیا د خلکو په منځ کې رواج مومي او د وخت په تېرېدو سره د ژبې او ادبیاتو ژوندی انځور چې د کلتور لېږدونکی او ملي هویت دی، بدلون مومي.

د خپرونو له کمي ډېرښت او د بیا کتنې د نشتوالي له امله هره ورځ ګڼ شمېر غیر معیاري جوړښتونه او اصطلاحات په ټولنه کې رواج پیدا کوي او د ټولنې پر لیکنې فرهنګ ناوړه اغېزه کوي.

له کومې ژبې چې په رسنیو کې ګټه اخیستل کېږي، په مستقیم او یا غیر مستقیم ډول د بېلګې ژبې په توګه د مخاطبینو په منځ کې رواجېږي.
رسنۍ یا هم د رسنیو ژبه د عربي ژبې لپاره د دفاعي سپر رول ادا کوي، په دې معنا کله چې له نورو ژبو څخه د ژباړې له لارې نوي لغتونه او نحوي جوړښتونه عربي ژبې ته داخلېږي، لومړی په رسنیو او مطبوعاتو کې مطرح کېږي. د رسنیو او مطبوعاتو په ژبه کې تر منل کېدو وروسته معیاري عربي ژبې ته داخلېږي.
رسنۍ باید صمیمیت، روان والی او عمومي والی له عامیانه محاورې څخه واخلي او توانمندي، فکر پالل، بیاني او تعبیري ښکلا ګانې د معیار له ژبې څخه تر لاسه کړي. په حقیقت کې د رسنیو ژبه د محاورې او معیار د ژبې تر منځ بېلوونکی برید دی.
په رسنیو کې ژبې ته په سمه توګه نه پاملرنه د دې لامل شوې چې ځینې کسان خپل باور پر رسنیو له لاسه ورکړي او همدارنګه رسنۍ د ژبې پر وړاندې خپله دنده په سمه توګه سرته ونه رسوي. دلته یې ځینې لاملونو او بېلګو ته اشاره کوو:

**لاملونه:**

۱ــ په رسنیو کې د معیار ژبه نه تر سترګو کېږي. د خلکو ورځنۍ ژبه د رسنیو ژبې ته نږدې شوې ده او همدارنګه د معیار د کچې ساتلو هڅه هم نه کېږي او یو ډول بې سرې روانه ده، له علمي ــ څېړنیزو مرکزونو سره د رسنیو اړیکې په نشت حساب دي. په متحدانه توګه په ټولو رسنیو کې یوه ژبه نه لیدل کېږي.
۲ــ نیمه پېړۍ وړاندې په هېواد کې د رسنیو لیکوالان ډېری له فرهنګي او سیاسي شخصیتونو څخه وو. دغو لیکوالانو چې په ټولنه کې یې رسمي نوم درلود، په رسنیو او مطبوعاتو کې یې قلم خوځاوه، تر څو د رسنۍ عزت، باور او اعتماد و اوسي. دغه ځانګړنه په تدریج سره له منځه ولاړه او په وروستیو کلنو کې د رسنیو لیکوالان زیاتره نوم ورکي اشخاص تشکیلوي چې د مطبوعاتو پر ځمکه را ټوکېدلي یا هم ویلای شو چې په رسنیز نشر سره را ژوندي کېږي او د رسنیو په هوا کې ساه اخلي او رسنیزه پېژندګلوي لري، دوی خپل شهرت د رسنیو مدیون ګڼي.
۳ــ د یوه لیکدود نشتوالی، تر اوسه پورې موږ په علمي او ښوونیزو کتابونو کې هم یو لیکدود نه لرو. په یوه کتاب کې یوه کلمه یو ځای شوې وي او په بل کتاب کې بیا جلا لیکل شوې وي، چې دا کار پر رسنیو هم اغېزه کوي او بیا د رسنیو له لارې ټولنې ته لار مومي او د ټولنې اوسېدونکي له یو ډول تشتت او حیرانتیا سره مخ کوي.
۴ــ څوک چې رسنیزې برخې ته داخلېږي، هغوی باید ادبي ذوق ولري، اما د ژورنالیزم په ډګر کې داسې کسان دي چې د جملې او عبارت تر منځ توپیر نه شي




کولای او د دې ترځنګ د ژورنالیزم په پوهنځیو کې د ژبې زده کړې ته پوره پاملرنه نه کېږي، بلکې د ژبې مضمون ته د یوه اضافي مضمون په سترګه کتل کېږي او بده خو لا دا چې په ځینو رسنیو کې داسې کسان په دندو بوخت دي، تخصصي زده کړې خو څه چې لوړې زده کړې لا نه لري، نو په داسې شرایطو کې به موږ څنګه په رسنیو کې د معیاري ژبې او د ژبې د زده کړې هیله ولرو.
۵ــ سیاست او د خپلو همفکره کسانو ګومارل، په رسنیو کې بله هغه ستونزه ده چې ژبې او یا هم که په عمومي توګه ووایو تخصص ته ستر زیان اړولی دی او څوک تخصص ته ډېره لږ توجه نه کوي. د دې ترځنګ

تجارتي اړخ هم د رسنيو په کار او مؤثريت منفي سيوري غورځولی دی. د چا چې څه ډول زړه غواړي هماغسې ژبه کاروي او خپله دغه ناپوهي بيا نوښت او بلاغت بولي.

**بېلګې:**

په رسنيو کې بيړه او نه پاملرنه د دې لامل شوې چې ژبې ته زيان ورسوي او د ژبې يا هم معياري او رسمي ژبې په اړه چې کوم مسؤوليت لري، هغه په سم ډول سرته ونه رسوي:

١. «د فعل زماني ته نه پام کول دي. په دې مثال کې لولو: ((نيويارک ټايمز په خپلې پروني ګڼې کې د افغانستان په اړه مقاله ليکلې ده او په يوه برخه کې يې ليکي: ...)) دلته لومړی جمله د تېرې زماني خبره کوي ((ليکلې ده)) خو دوهمه د اوس مهال ((ليکي)). په داسې مواردو کې ښه به دا وي چې په دواړو جملو کې د عين زماني فعلونه وليکو مثلاً په دې مثال کې بايد دوهمه جمله داسې وليکو: ((په يوه برخه کې يې ليکلي دي)) ښايي ژورناليستان د فعل د تکرار د مخنيوي په هدف د فعلونو زماني بدلوي. لکه په دې مثال کې چې ((ليکلي)) ژر تکرار شوي ده. خو موږ د فعل تنوع په بله لاره هم پيدا کولی شو. د دوهمې ((ليکلي)) پر ځای ((راوړي دي)) مناسب بديل ګڼلی شو.» )

٢. د اشنا راډيو انټرنټي پاڼې په يوه راپور کې داسې ليکلي دي: «افغانستان په لسو ولايتونو کې د پوليو يا ګوزڼ شپږ ورځنی فرعي کمپاين پيل شو.»

٣. او اوس د (د) حذفول يو موډ ګرځېدلی دی، خو په پورتني متن کې يې د يوه راپور عنوان خومره بې خونده کړی او که کېدای شي د همدې يوه (د) له امله ټول راپور خوک ونه لولي.

٤. د درې تنه ملکي وګړو په ګډون پنځه تنه امريکايي پوځيان ووژل شول.

دلته ((په ګډون)) د انګريزي ژبې د ((including)) ناسمه ژباړه ده چې په فارسي کې هم همداسې غلطه ترجمه کېږي. دا جمله په انګريزي کې داسې مانا ورکوي چې په وژل شوو کې درې تنه ملکي وګړي او پنځه تنه امريکايي پوځيان شامل دي. خو ((په ګډون)) د جمع کولو او سره يو ځای کولو معنا لري. په دې جمله کې ملکي وګړي او پوځي امريکايان سره يو شان ګڼل شوي دي. د جملې سمه بڼه دا ده: ((اته تنه وژل شوي چې درې يې ملکي وګړي او پنځه تنه يې امريکايي پوځيان دي.)) او دغه بله بڼه يې هم ستونزه نه لري: ((په وژل شويو کې درې تنه ملکي وګړي او پنځه تنه امريکايي پوځيان شامل دي.))

٥. بل زيان چې رسنيو پښتو ژبې ته رسولی دی. هغه دادی چې زياتره وخت پښتو رسنۍ د خبرونو او نورو مطالبو په وړاندې کولو کې مخکښې نه دي، نو له دې امله پښتو ژبه د ژباړې د ژبې په توګه کارول کېږي او بيا په رسنيو کې د داسې مسلکي کسانو کمی هم دی، چې د خپلې ژبې په جوړښت او د ژباړې په اصولو ډېر برلاسي نه دي. د بېلګې په توګه:

٦. قبايلي علاقو مي مسلح طالبان موجود هی

٧. طالبان مسلح در مناطق قبايلي وجود دارد

٨. نو په پښتو کې به داسې ليکي: په قبايلي سيمو کې وسلوال طالبان شتون لري.

خو که هسې اضافه او يو نا اشنا ترکيب په خپله ژبه کې رواج نه کړو او د نورو ژبو جوړښت په خپله ژبه ونه تپو، نو بايد داسې وليکو: په قبايلي سيمو کې وسلوال طالبان شته.

او که غواړو په خپله خبره ټينګار وکړو، له (شته) وروسته (دي) راوړو.

په قبايلي سيمو کې وسلوال طالبان شته دي.

دا خو يې ځينې بېلګې وې، چې لنډه اشاره ورته وشوه، خو ځينې رسنۍ بيا په پراخه پيمانه املايي او انشايي تېروتنې لري، چې دا تېروتنې بيا ژبې ته ستر زيان اړوي، ځکه په ټولنه کې هغه کسان چې زده کړې يې کمې کړې وي او حتی کله نا کله لوستي کسان هم د رسنيو ژبې ته د معيار د ژبې په توګه ګوري، نو همدا تېروتنې بيا په ټولنه کې ځای نيسي او ژبې ته ستر نقصان رسوي.

په نورو هېوادونو کې هم ژبې له پورتنيو ستونزو سره مخ دي، د بېلګې په توګه په امريکا کې چې خلک يې د جملو په لنډون او خلاصه کولو کې ځانګړې مهارت لري او هغه په خاصو اصطلاحاتو اړوي، خو هلته د رسنيو مسؤولين او مديران د محاورې ژبې ته د رسنيو ژبې يا معياري ژبې ته د زيان او تاوان رسولو اجازه نه ورکوي. د هغوی په رسنيو کې داسې کسان په دندو بوخت دي، چې د ليکوالۍ او ژبې له اصولو سره بلد دي او هڅه کوي چې د خپل هېواد ژبه له دا ډول زيانونو خوندي لري وساتي. اما زموږ د رسنيو په اړه بيا داسې نه ده، زموږ د رسنيو مسؤولينو لار پرانيستې

پرېښي ده او هر ډول خلک چې رسنيز ډګر ته داخل شول باک نه لري. پوښتنه دا ده چې کله يو څوک د ژبې له ګرامر سره اشنا نه وي، څنګه د يوې رسنۍ مسؤول مدير ټاکل کېدای شي!؟

**پایله:**

په نړۍ کې به داسې ژبې نه وي، چې بېلا بېلې لهجې ونه لري، لهجه: کوم ګروپي تغيير او بدلون، چې د يوې ژبې په وييز او غږيز سيستم او بڼه کې پېښيږي يا ليدل کېږي لهجه ګڼل کېږي. مختلفې او بېلا بېلې لهجې د يوې ژبې لپاره ګټورې تماميږي، خو کله چې يوه ژبه له محلي او سيمه ييزې کچې څخه لوړېږي يا هم د نظام، سياست، علم او ټکنالوژۍ ژبه ګرځي، بيا هلته نو د همدغو لهجو له منځ څخه يوه لهجه د مختلفو عواملو پر بنسټ د معياري لهجې په توګه مخکې راځي او د معيار حيثيت غوره کوي، يعنې معياري ژبه د ځانګړو شرايطو په ترڅ منځ ته راځي، د بېلګې په توګه کومه لهجه چې د معياري لهجې او يا هم ژبې په توګه را منځ ته کېږي، دغه لهجه د سياسي نظام ژبه ګرځېدلې ده، د اقتصاد ژبه ګرځېدلې ده او بالآخره له هره اړخ نه ورته پاملرنه شوې ده. پښتو ژبه هم د يوې نسبي معياري ژبې درلودونکې ده، ځينې پوهان داسې نظر ورکوي، چې پښتو ژبه لا تر اوسه د معيار تر کچې پورې رسېدلې نه ده، خو دا خبره څکه درسته نه ښکاري، چې معياري ژبه په يو ځل او يا د کومې پرېکړې په اساس منځ ته نه راځي، بلکې د وخت په تېرېدو سره د ټولنې اوسېدونکي په يوه لهجه اتفاق سره کوي او قرار ــ قرار نومړې لهجې د معيار ژبه جوړېږي، چې اوس له ځينو د ګوتو په شمېر کسانو نه پرته په افغانستان کې د پښتو ژبې ويونکي په مرکزي لهجه د معياري ژبې په توګه اتفاق سره لري. همدغه ژبه د کتاب ليکلو ژبه ده، د اداري ژبه ده، بهرنيانو او د نورو ژبو د ويونکو لپاره د پښتو ژبې د زده کړې او ښوونې ژبه ده او د رسنيو ژبه ده، نو د دغې معياري ژبې د لا غوړېدا لپاره رسنۍ ځانګړې ځای او مسؤوليت لري، که چېرې رسنۍ له ژبې سره سطحي او سر سري چلند وکړي، ژبې ته ډېر زيان ور اړوي، چې مخکې موږ په تفصيلي توګه خبرې پرې وکړې. په ځانګړې توګه رسنۍ بايد له علمي او څېړنيزو مرکزونو سره نږدې اړيکې ولري او څېړنيز مرکزونه هم وخت په وخت د ژبې په برخه کې له رسنيو سره نوي معلومات او بدلونونه شريک کړي. د نيولوګېزم يا په ژبه کې چې کوم نوي لغتونه جوړېږي، نومورې چاره بايد د ژبپوهنې د برخې پوهان د نورو برخو له پوهانو سره په ګډه تر سره کړي، بيا دې له رسنيو سره شريک کړي او بيا همدا رسنۍ دي، چې له اولس او ټولنې سره يې شريکوي او حتی په ځينو هېوادونو کې په ټولنه کې د نويو لغتونو د کارېدنې او په ټولنه کې د تعميم لپاره ځانګړې رسنۍ موجودې دي او دا چاره سر ته رسوي.

**وړانديزونه:**

۱ ــ په علمي ــ څېړنيزو مرکزونو کې د داسې کړنلارو جوړول، ترتيبول او خپرول، تر څو يې رسنۍ په خپلو خپرونو او کار کې مراعت او پلي کړي.

۲ ــ د نويو لغتونو د جوړولو صلاحيت دې له رسنيو څخه واخيستل شي، بلکې په علمي ــ تحقيقي مرکزونو کې دې رامنځ ته شي او بيا دې د همدغو رسنيو له لارې په ټولنه کې د دود کېدو لپاره خپاره شي.

۳ ــ د معياري او کره ژبې لپاره بايد په رسنيو او مطبوعاتو کې د ليکوالانو، ژباړونکو او شاعرانو رول ته جدي پاملرنه وشي.

۴ ــ رسنۍ په ځانګړې توګه راډيو او ټلويزيون دي، د ژبې لپاره خپرونې او پروګرامونه ځانګړي کړي او په دغو خپرونو کې دې، د ژبې پوهان او په دې برخه کې د علمي ــ تحقيقي مرکزونو غړي او متخصصين له ځان سره ولري.

ماخذونه:

۱ ــ شاد، منصوري، طيبه. د ارتباطاتو د علومو ارشده کارپوه. ويژګی های زبان مطلوب مطبوعات، مقاله.

۲ ــ زغم، محب، د خبريالانو ځينې ژبنۍ تېروتنې، مقاله. www.tand.com

۳ ــ غزا، نور غزا. پښتو رسنۍ او بې غورۍ، مقاله. www.tand.com

۴ ــ منګل، علي محمد. پښتو لهجې، د افغانستان د علومو اکاډمي: کابل، ۱۳۸۷ ل کال.

۵ ــ تنيوال، مولاجان. پښتو ژبه او ژبپوهنه، د علومو اکاډمي، د اطلاعاتو او عامه اړيکو رياست، شمشاد هاشمي مطبعه: کابل، ۱۳۹۷ ل کال.

۶ ــ لودين، دولت محمد. ژبه او ټولنه، ختيځ ادبي بهير: ننګرهار، ۱۳۹۵ ل کال.

۷ ــ زيار، مجاور احمد. پښتو وييپوهنه او وييرغاونه، دانش خپرندويه ټولنه: کابل، ۱۳۹٦ ل کال.

# نقش رسانه ها در حکومتداری خوب

تمیم لنگری عضو کمیسیون اجرایی انجمن گهیځ

**چکیده**
رسانه ها در حکومتداری خوب نقش برازنده دارند. مولفه های اساسی حکومتداری خوب از طریق نهاد تبلیغاتی رسانه به سمع مردم رسانیده می شود. پایه های اساسی در حکومتداری خوب چگونگی ارائه خدمات، تمرکز زدایی، سیستم بروکراتیک مشارکتی، ایجاد برنامه های شهروند-محور، بازار آزاد، تشویق خصوصی سازی و از همه مهمتر تطبیق مدیریت نوین عامه در خدمات ملکی دولت، با در نظرداشت اصول مثل شفافیت، حسابدهی و جوابدهی می باشد.

**مقدمه**
رسانه ها به مثابه قوه چهارم در دموکراسی ها، نقش برازنده و تعیین کننده در آن دارند. رسانه و رسانه نگاری مهمترین وسیله اطلاع دهی و ذهنیت سازی در جامعه مردم سالار می باشد. در بالا بردن رضایت شهروندان و سهم دادن ایشان در پالسی سازی، نیز رسانه های جمعی نقش قابل ملاحظه دارند.
رسانه ها در سطوح مختلف، مرکز، ولایات و سطح محلات در انتخاب و چگونگی شکل گیری برنامه های دولت رول اساسی دارند. در این سه سطح، هر نوع از فعالیت ها در چارچوب پالیسی شکل می گیرد. در ساخت پالیسی ها و برنامه ها نظریات و پیشنهادات شهروندان مهم می باشد. البته بدون خواست و میل اکثریت جامعه، استراتیژی ها قابل تطبیق نبوده الی اینکه این برنامه از طرق مختلف به خصوص از رسانه ها به سبب گسترش ساحه پوشش و تأثیرگزاری شان، آگاهی دهی قبل از تنظیم آن صورت نگیرد.
ارائه خدمات و یا تولیدات از آدرس نهادهای حکومتی به شهروندان سبب مستحکمتر شدن مشروعیت و قوت داخلی دولت ها می شود. این امر تأثیر مستقیم بر سیاست گزاری های بیرونی دولت ها نیز مؤثر و کارساز می باشد.
دستگاه اداره عامه یا خدمات ملکی دولت در ارتباط مستقیم با شهروندان پالیسی های حکومت را می توانند به وجه احسن به منصه اجرا برسانند. همچنان باز خورد تطبیق پالیسی در چگونگی شکل گیری برنامه های بعدی حکومت تعیین کننده می باشد. لذا، حکومت که بخش اجرائیه دولت است. قوانین و مقررات شاخه های باقی دولت را تطبیق می کند. در همین حال از نقش نظارتی رسانه ها قبل و در جریان عملی شدن برنامه های دولت، نمی توان به سادگی گذشت.
بنابراین، دستگاه قوی اداره عامه عامل قوت داخلی یک دولت است. زیرا این نهاد با عام شهروندان در تماس اند. شهروندان، محور تمام بحث های استراتیژیک شان محسوب می گردد. شکل گیری پالیسی های خدمات ملکی دولت های مدرن دموکراتیک، شهروند-محور است. برنامه موفق و با اثربخشی بیشتر، برنامه ایست که سهم شهروندان در آن چشمگیر باشد. برای شهروند-محور شدن برنامه ها و استراتیژی ها بدون استفاده از قدرت ارتباطات و رسانه، ممکن نیست. به همین دلیل رسانه ها در جوامع دموکراتیک مردم سالار به مثابه رکن چهارم آن حتی بیشتر محسوب می گردد.
علاوه بر آن، رسانه ضمن پل ارتباطی بین شهروندان و حکومت بوده و حکومت ها در صدد آن اند تا از قدرت نرم رسانه ها در جهت نیل به اهداف شان که همانا رضایت و خوشی شهروندان است، استفاده برند. به همین دلیل، دولت ها برای برقراری ارتباط بیشتر با شهروندان، دست به ایجاد رسانه های (تصویری، صوتی، چاپی) دولتی میزنند. این امر در همه یی نظام های دنیا حتی در نظام بسته مثل سیوسیالیسم نیز وجود دارد. کمونست ها و باقی مکتب های ایدولوگ برای رساندن پیام شان به سمع مردم شان از نهاد رسانه به گونه گسترده کار می گیرند.
بنابر این رژیم های سیاسی در بستر خود رسانه های مختلف را تشویق و حتی تمویل و حمایت سیاسی می کنند تا باشد از پالیسی های دولت حمایت نموده و

شهروندان را برای اشتراک در پروسه های ملی تشویق و ترغیب نمایند. و رسانه ها در ذهنیت دادن و سمت دهی نسبت تأثیر گزاری شان، مورد توجه مخاطبین قرار می گیرند.

در جهان سوم رسانه بیشتر بر اساس آزادی بیان و گفتمان تعامل و مدارا شکل می گیرند. اما با گذشت زمان و نوع نقش شان در جامعه، با موانع متعدد روبرو می شوند. حکومت در قدم اول اشخاص و افراد ذینفوذ در مرحله بعدی، وجود رسانه ها را در برابر خلاف کاری های شان مانع بزرگ دیده، اقدام به حذف خبرنگاران و نهاد های رسانه یی می کنند. آمار های سازمان حمایت از خبرنگاران نشان می دهد که بیش از صد تن از خبرنگاران بعد از سال ۲۰۰۱ میلادی کشته شده اند.

کشور ما به یک تعبیر کشور در حال جنگ یا گزار از جنگ است. بعد از سال ۲۰۰۱ میلادی پایه های اساسی دولت دوباره شکل گرفت، برای دولت داری مدرن نظام سیاسی مردم سالار ایجاد شد. قانون اساسی و قوانین در زمینه رسانه ها مثل قانون رسانه های همگانی برای حمایت از آزادی بیان و اهل رسانه از طرف دولت به وجود آمد. ضمن جامعه مدنی در لایه های مختلف اجتماع جای پا یافت.

بعد از شکل گیری دولت جدید، ده ها رسانه جواز فعالیت گرفتند و جهت آگاهی دهی و سرگرمی مردم، برنامه های را آماده نمودند. رسانه ها در تبلیغ و آماده نمودن اذهان عامه در انتخابات افغانستان به حیث عنصر بی سابقه در تاریخ کشور ما، نقش فعال را ایفا کردند. با نشر و بخش اخبار و گزارشات پای هزاران شهروند را برای رأی دادن کشاندند.

آزادی بیان، مردم سالاری، انتخابات از مولفه های اساسی در حکومتداری خوب است. ارزش های فوق به گونه گسترده از طریق رسانه های جمعی حمایت و تبلیغ می گردد.

**کلید واژه ها**

حکومت داری خوب و اصول آن، مفهوم حکومتداری خوب، حکومت و حکومتداری، مدیریت نوین عامه و شاخص های اساسی آن، رسانه ها و بخش بندی آن

حکومتداری خوب (good governance):

اصطلاح حکومت داری خوب بار اول در سال ۱۹۹۲ میلادی توسط بانک جهانی به کار برده شد. این اصطلاح متشکل از دو کلمه است:

حکومتداری و خوب، حکومتداری یا (governance) از واژه یونانی اقتباس شده که به معنی (to steer) رهبری کردن و رهنمایی کردن آمده است. و واژه خوب یا (good) به معنی خوب ضد بد و ضعیف آمده است. در حقیقت حکومتداری عمل حکومت کردن است. مفهوم حکومتداری کاربرد و معنی بیشتر نسبت به حکومت کردن دارد. حکومتداری خوب مفهوم کیفی دارد در حالیکه حکومت وجود فزیکی دارد.

حکومت از جمله یکی از بازیگران (actors) حکومتداری می باشد در حالیکه در سطوح مختلف حکومت (مرکز، ولایات و سطح محلی) را نیز شامل می شود.

اهمیت مفهوم حکومتداری خوب در سال ۱۹۹۰ میلادی توسط سازمان های کمک کننده بین الملل بیشتر برجسته شد. و نبود حکومتداری خوب را مانع جدی سر راه توسعه اقتصادی کشور های در حال توسعه می دانند.

حکومت داری خوب حکومتداری حداقل و خدمات حداکثر را می گویند. در مقابل حکومتداری خوب ما اصطلاح حکومتداری ضعیف را داریم. از ممیزات حکومتداری ضعیف، پالیسی سازی مستبدانه، بیروکراسی غیر مسؤول، سیستم های قضایی غیر منصفانه، سوء استفاده از قدرت، فساد گسترده و عدم سهم گیری جامعه مدنی در امور عامه می باشد.

به نظر «اوسبورن و جیبلر» حکومت داری خوب، عملی است که مشکلات ما را حل می کند و حکومت وسیله ایست که ما آن را استفاده می کنیم. بنا بر این، حکومتداری بکار بردن قدرت به هدف تنظیم و هدایت فعالیت عامه جهت منافع مردم است.

اصول حکومتداری خوب در محور حکومت و نهاد های آن می چرخد. نهاد های حکومتی که دارای مشروعیت بوده و در محدوده قوانین فعالیت داشته باشند. از معیار های قانونی که توسط نهاد قانون گذار تصویب می شود تابعیت داشته باشند. و جوابگوی اعمال شان به مجلس قانون گذار و بالآخره شهروندان باشند. بناءً حکومتداری خوب به گونه مثبت بالای رشد اقتصادی تأثیر می کند و

منتج به کاهش فقر در جامعه می شود.
حکومتداری خوب بر بازار آزاد، رقابت سالم، حقوق بشر و دیمکراتیزه کردن تأکید دارد. حکومتداری خوب نقش حکومت را در فعالیت های استراتیژیک و مسایل کلان کشوری برجسته می کند، به خاطر عملی شدن حکومتداری خوب، به کارگیری و داشتن (new public management) مدیریت عامه نوین، کمک می کند.

**مدیریت عامه نوین (NPM):**

کریستوفر هوود در سال ۱۹۹۱ میلادی اصطلاح مدیریت عامه نوین (NPM) را طرح کرد. از نام های دیگری که بجای مدیریت نوین در علوم مدیریت کاربرد دارد مثل: مدیریت گرایی (managerialism)، حکومت کار آفرین (entrepreneurial government)، مدیریت عامه به اساس بازار (market based public administration) و بالآخره راه سوم third way between public administration and private administration) ( بین مدیریت عامه و مدیریت خصوصی می باشد. مدیریت نوین به عنوان یک دسپلین از علوم سیاسی و مدیریت اقتباس شده است.
استند فورت می گوید: مدیریت نوین عامه NPM دوباره مفهوم سازی اداره عامه (public administration ) بوده که شامل ترکیب های مرتبط به هم می باشند. در حقیقت مدیریت نوین یا مدیریت عامه، ایدولوژی بازار-محور است. به دنبال وارد کردن نظریات بخش خصوصی در بین سکتور عامه شکل می گیرد.
در مدیریت عامه نوین فعالیت بر اساس سه شاخص( ,3Es economy, efficiency, effectiveness ) ارزیابی می گردد.

۱. کارآیی
۲. اثربخشی
۳. اقتصاد

کار آیی و اثر بخشی دو شاخص عمده هر سازمان می باشد. کار آیی استفاده از منابع جهت افزایش تولید و خدمات می باشد. و اثر بخشی کمترین استفاده از منابع با دستآورد بیشتر می باشد. اثر بخشی نسبت به کارآیی در سازمان ها از اهمیت زیاد برخوردار می باشد. مدیریت نوین از بخش ترکیب شده است:

۱. بازاریزه کردن: یعنی معرفی رقابت بازار به بخش تولید عامه.
۲. جداسازی: جدا سازی عملکرد ها و پالیسی یعنی جدایی بین اداره و سیاست.
۳. تشویق گرایی: ارتباط مشوق ها به انجام فعالیت.

در مجموع مدیریت نوین دو گرایش دارد. اول اینکه دقت بر انجام کار دارد تا ساختار و پروسه سازمانی و ثانیا، دنبال واضح نمودن مشکل از راه متعدد می باشد.
هر چند مدیریت نوین و حکومتداری خوب دارای پارامیترهای مشابه اند ولی حکومتداری خوب دارای مفهوم وسیع تر از مدیریت نوین می باشد. در نظر نگرفتن منافع عامه و به مشکلات بسیار پچیده جواب های نهایت ساده را می دهد. ضمنن بیشتر مشکلات در اداره عامه سیاسی است و از این مسله به آسانی نمی شود گذشت.
حکومتداری خوب با سه فاکتور زیر رشد نموده است:

۱. عدم تمرکز (decentralisation)
۲. مدیریت اشتراکی (participatory management)
۳. سهم گیری شهروندان در تصمیم گیری (-citizen participation in decision making)

تمرکز زدایی در مکتب کلاسیک در اصول چهارده گانه فیوول تذکر رفته است. به پروسه ای اطلاق می شود که قدرت و مسؤولیت را از مرکز به محل یا از مافوق به مادون انتقال بدهد. مدیران جهت نیل به داده های درونی و بازخورد از زیردستان به این شیوه مدیریتی دست یازند. مدیران با نفوذی استند و برای کارمندان موقع اظهار نظر را می دهند.
سهم گیری شهروندان در پروسه پالیسی سازی از مهمترین مولفه نظام مردم سالار است. در هر مرحله از پالیسی سازی شهروندان جایگاه خاص شان را دارا می باشد.
از طرف حکومت یا (government) نفوس و قلمرو به تنهایی یک دولت را شکل داده نمی تواند. باید دارای دستگاه سیاسی (political machinery) باشد تا قدرت عالیه دولت را تمرین کند. حکومت آن دستگاه سیاسی است که از طریق آن خواست دولت در چوکات استراتیژی ها و پالیسی ساخته، بیان و اجراء می گردد. حکومت به لحاظ قلمرو به سه بخش محلی، ولایتی و مرکزی تقسیم می شود. و از لحاظ عملکرد نیز به سه بخش تقسیم می شود: ارگان قانون گذار، اجرائیه و قضائیه تقسیم می شود. بخش قانون گذار خواست دولت را می سازد و اجرائیه آن را تطبیق می کند و قضائیه تفسیر می کند.

**رسانه ها:**

رسانه به عنوان یک نهاد مهم و تأثیر گزار در جامعه بشری مورد توجه بیشتر است. نهاد های خبررسانی در عصر اطلاعات و ارتباطات از جایگاه بارز جهت پخش و نشر اخبار برخوردار می باشند. شهروندان برای آگاهی به رسانه های جمعی گوش می دهند تا از تحولات و اخبار منطقه و کشور شان باخبر شوند. رسانه ها اخبار را از منابع موثق و معتبر در قالب ژانر های مختلف به خور مخاطبان خود می دهند. روزانه صد ها خبر در سراسر

جهان تولید می شود. مخاطبان رسانه با در نظرداشت اهمیت و مجاورت، به اخبار و اطلاعات رسانه ها توجه می کنند.
رسانه ها در حقیقت پل ارتباطی ایست بین مردم و حکومت، به این معنی که پیشنهادات و نظریات شهروندان را به گوش مسؤولین می رسانند برعکس آن از عملکرد نهادهای حکومتی به مردم اطلاع می دهند. به گونه دوامدار عملکرد نهاد های حکومتی زیر نظر رسانه ها قرار می داشته باشد تا بتواند طیف های مختلف جامعه را از فعالیت های دولت باخبر سازند.
رسانه ها می توانند بازوی قوی برای گزار از حکومتداری ضعیف به سمت حکومتداری قوی باشند. با گزارش ها و اخبار موثق از فساد حکومتی، بیروکراسی پیچیده، سیستم قضایی ناعادلانه، نبود آزادی بیان، بازار آزاد منفی، و عدم خدمات عامه، نظام را به طرف شفافیت و پاسخگویی بکشانند.
با آنهم، رسانه ها نه تنها زبان گزارشدهی نهاد های عمل کننده مثل حکومت است، بلکه از طرف نهاد های غیر دولتی نیز می توانند برای آغاز و تطبیق برنامه های از تربیون رسانه ها جهت آگاهی دهی مردم استفاده برند. در سطح ولایات و محل، رسانه ها دیداری به خصوص رسانه شنیداری نقش تعیین کننده در سهم گیری مردم در تطبیق پالیسی های دولت بازی می کند.
برای گام نهادن به سمت حکومت داری خوب، باید دولت در جهت توسعه اقتصادی کشور برنامه های مؤثر را روی دست گیرد. بنابراین، انسجام و تشویق و ترغیب نیروی درونی و سرمایه گذاری از طریق مجرای رسانه ها مفید تمام شده و سرمایه گزاری را به سمت توسعه پایدار اقتصادی میکشاند.
وجود رسانه های متعدد در جامعه خود نمایان گر تقویت پایه های حکومتداری خوب است. علاوه برآن، رشد نهاد های جامعه مدنی و احزاب، گزار به طرف حکومتداری خوب می باشد. برعکس آن، نبود رسانه های آزاد و بی طرف، جامعه مدنی، آزادی بیان و شفافیت و حساب دهی از عملکردها و استراتیژی ها خود نمایان گر حکومتداری ضعیف و متزلزل می باشد.

**بخش بندی رسانه**

رسانه های دیداری، شنیداری، چاپی و شبکه های اجتماعی از ابزار های رسانه یی بشمار می روند. که می توانند نقش بستر ارتباطی را برقرار کنند. هر ابزار و روش و یا وسیله که برای ارتباط به کار برود، رسانه گفته می شود. رسانه زمانی شکل می گیرد که پیام (محتوا) نیز در آن وجود داشته باشد. و مخاطبین برای دریافت پیام منتظر باشند.

- رسانه های چاپی print media
- رسانه های شنیداری audio media
- رسانه های دیداری video media
- رسانه های مجازی social media

رسانه ها وسایل جمعی اند که برای تعدادی زیادی از مخاطبان پیام را به اشکال مختلف و با استفاده از نرم افزار و سخت افزار انتقال می دهند. این پیام می تواند خبر باشد یا تولید هنری و فیلم... جامعه شناسان نهاد های رسانه یی را در قطار نهاد های همچون خانواده، دولت و حکومت قرار داده و این موضوع دال بر اهمیت و تأثیرگذاری آن در جوامع مدرن و عصر انفجار اطلاعات و ارتباطات می باشد. زیرا در عصری که ما قرار داریم عصر جهانی شدن است. جهان به دهکده ای مبدل شده که برقراری ارتباطات را سهل نموده است.
روزنامه نگاری و ژورنالیزم در قرن ۱۵ بعد از ایجاد صنعت چاپ در اروپا به وجود آمد. در ابتداء سخنان و گفته ها به شکل غیر تخصصی روی کاغذ نوشته می شد و در بین مردم به گونه رایگان یا به قیمت ناچیز توزیع می گردید. تدریجاً مطبوعات در بین مردم و اهل خبره جای خود را پیدا نمود. در قرن نزده و بیست در معادلات سیاسی داخلی امریکا، مطبوعات نقش برازنده یی را بازی نمود. نقش مطبوعات با وجود آمدن رسانه شنیداری (رادیو) کمتر شد. رادیو توانست تعداد مخاطبین نو را به طرف خود بکشاند و با توجه به سوی معادلات سیاسی و گزارش دهی از ساحات جنگ در جریان جنگ اول جهانی و دوم جهانی از شهرت بالای برخوردار گردد.
اوایل قرن بیست اولین تصاویر متحرک در اروپا اختراع شد با اختراع تصاویر سیاه و سفید متحرک موج جدید در دنیای رسانه ها به وجود آمد. این نخستین گام در راستای ایجاد رسانه های دیداری بود بعد در بین نسل های متعدد در جهان گسترش پیدا کرد. و امروزه بیشترین بیبینده را در خود دارد.
رسانه ها در قرن بیست ویکم بستر ارتباطی را رنگ و بوی دیگری بخشید. صفحات اجتماعی و پخش و نشر صدها خبر و موضوعات اجتماعی، ذهن میلیون ها انسان را در خود درگیر نموده است. بانهم، اخبار دروغ و بخش اطلاعات بی اساس در شبکه های اجتماعی مخاطبین را واداشت تا نسبت به آنها بی اعتبار گردیده و اعتماد شان سیر نزولی را به خود گیرد.

**نقش رسانه ها**

رسانه ها در جوامع مردم سالار در پهلوی اصول مشخص، از یک سلسله نقش های عمده یی هم برخودار می باشند که بگونه مختصر روی چهار نقش آن پرداخته می شود.

۱. نقش اطلاع دهی:

نقش اساسی رسانه ها، نقش اطلاع دهی آن می باشد. رسانه جهت آگاهی بخشی به شهروندان اطلاعات را از منابع موثق و معتبر در قالب ژانرهای مختلف ریخته و مخاطبان را نسبت به وقایع آگاهی می بخشند. بنا بر این حکومتداری خوب همیش در صدد آنست که مردم را




از فعالیت هایش باخبر نموده و گزارشات از نتایج پالیسی اش را نیز از طریق رسانه به سمع مردم برساند.

۲. نقش عملکرد نظارت بر کارکرد دولت:

رسانه ها در جامعه مردم سالار در کنار اطلاع دهی، نقش نظارت بر عملکرد دولت را نیز داشته و فعالیت های دولت را به شهروندان به گونه مستمر و بی طرفانه انتقال می دهند.

طرح پالیسی ها و تطبیق آن از وظیفه حکومت هاست، از طرف دیگر نظارت آن بر می گردد به قوه مقننه منحیث ناظر عملکرد های دولت، رسانه ها نیز نقش بسزای در نظارت بر عملکرد دولت را دارند.

۳. نقش ذهنیت بخشی:

رسانه ها از قدرت تبلیغ و تحریک افکار عامه برخوردار است. سمت دهی و ذهنیت بخشی در رسانه ها از ممیزات بارز آنها است. رسانه ها در زندگی و حتی تمایلات انسان قرن بیست ویکم نقش دارند. انتخاب کالا و برند های تجارتی اکثرا از اثر اعلانات تجارتی است که همه روزه به طور گسترده از رسانه ها بخش می شوند.

٤. نقش ارتباطی بین شهروندان و دولت:

رسانه ها به عنوان نهاد تأثیر گزار در حقیقت پل ارتباطی بین شهروندان و دولت است. دولت ها برای آگاهی بخشی و برقراری ارتباطات دوامدار با شهروندان، رسانه ها را انتخاب می کنند. حتی ما در میان رسانه، رسانه های داریم که دولت برای تبلیغ برنامه های خویش، حمایت مالی می کنند. احزاب سیاسی، نهاد ها نیز دست به ایجاد رسانه میزنند تا از قوت آن سود برند.

**نتیجه گیری:**

دولت هایی که به سمت توسعه اقتصادی روان اند، می توانند در ایجاد حکومتداری خوب اقدام کنند. توسعه اقتصادی از اساسی ترین مولفه گام گذاشتن به حکومت داری خوب می باشد. حکومتداری خوب حداقل رساندن حکومت کردن و حداکثر رساندن خدمات را گویند. برای موفقیت هر برنامه یی نیازمند ابزار ارتباطی می باشیم. مهمترین وسیله برقراری ارتباط با مردم و در مجموع مخاطب عبارت از رسانه است.

رسانه ها در تبلیغ ترویج حاکمیت قانون، شفافیت در عملکردها، جوابدهی از انجام فعالیت ها و حسابدهی از نتایج عملکردهای نهادهای دولتی به شهروندان می باشد. اصول فوق از بنیاد حکومتداری خوب را تشکیل می دهد.

در درون حکومتداری خوب، داشتن سیستم مدیریت نوین عامه لازمی ایست، مدیریت نوین عامه ترکیز بیشتر بالای بخش خصوصی و استفاده از تجارب و پالیسی آنها در نهاد های دولتی یا مدیریت عامه می باشد.

رسانه ها و نقش آن می تواند در حکومتداری خوب بارز باشد. اطلاع دهی از فعالیت های دولت، نظارت بر عملکرد نهاد های دولتی، سمت دهی و تبلیغ و ترویج افکار عامه از نقش اساسی رسانه ها در جوامع مردم سالار می باشد.

برای شهروند-محور شدن برنامه ها و استراتیژی ها بدون استفاده از قدرت ارتباطات و رسانه، ممکن نیست. به همین دلیل رسانه ها در جوامع دموکراتیک مردم سالار به مثابه رکن چهارم آن حتی بیشتر محسوب می گردد. پس ضرورت تحقیق گسترده علمی در این زمینه است.

# اطلاعاتو ته د لاس رسي حق

څېړندوی عبدالصبور مبارز، د علومو اکاډمۍ علمي غړی

د فرانسې د ۱۷۸۹میلادي کال د بشر حقونو او ښاريانو د اعلامیې ١٦مه ماده وايي: «په هره هغه ټولنه کې چې د افرادو حقونه نه وي تضمین شوي، هغه ټولنه هېڅ اساسي قانون نه لري.» (۱)

د اسلام تر مبارک دین را وروسته د لومړي ځل لپاره د افرادو اساسي حقونه د اروپا د تیاري دورې (Dark ages) څخه وروسته مطرح شول. کله چې په اروپا کې د فیوډالیزم او مسیحي کلیسا واکمني وه، نو د هغوی د ظلمونو څخه خلک په تنګ شول او د دغه دوه نظامونو په مقابل کې يې پاڅون وکړ، پاڅون بریالی شو او دغه دوه نظامونه له منځه لاړل. له خلکو سره دا فکر پیدا شو چې باید موږ اوس داسې يو نظام رامنځته کړو چې زموږ په لاس او زموږ په خوښه وي او بیا د واکمن لپاره یو داسې قانون رامنځته کړو چې له یوې خوا د هغه واکونه پکې محدود شوي وي او له بلې خوا زموږ حقونه پکې تضمین شوي وي او هماغه وو چې دوی د لومړي ځل لپاره اساسي قانون رامنځته کړ.

حقوق پوهانو د افرادو د اساسي حقونو د لاسته راوړلو او رامنځته کېدلو دري نسلونه یاد کړي دي:

• د حقونو د لاسته راوړلو لومړنی نسل د فرانسې د انقلاب (۱۷۸۹م) څخه پیلیږي، د فرانسې د انقلاب پرمهال د لومړي ځل لپاره د فرانسې د بشري حقونو او ښاريانو اعلامیه رامنځته شوه چې په دې اعلامیه کې د لومړي ځل لپاره د افرادو اساسي حقونه ومنل شول. دا حقونه اکثره فردي حقونه وو چې په مدني او سیاسي حقونو راڅرخېدل.

• دویم نسل تر دویمې نړیوالې جګړې وروسته د ځینې حقونو لاسته راوړنکي شول. په دې دوره کې پر فردي حقونو سربېره د ځینو ټولنیزو حقونو او د دولت څخه د غوښتنې حقونه (Les Droits creances sur I) Etat) هم رامنځته شول.

• دریيم نسل د ۱۹۷۰میلادي کال څخه وروسته د ځینو حقونو لاسته راوړنکي شول. په دې دوره کې ځینې مهم حقونه چې نوي لاسته راغلل په دې ډول وو: د سولې حق، د پراختیا حق، د چاپېریال ساتنې حق، د بشردوستانه مرستو د لاسته راوړلو حق، د اړیکو حق، اطلاعاتو ته د لاس رسۍ حق او داسې نور.... چې تر ډېره په عمومي بین المللي حقونو پورې اړه لري. (۲)

د پورتني بحث څخه وروسته دې پایلې ته رسېږو چې اطلاعاتو ته د لاس رسي حق یو له هغو حقونو څخه دی چې دریيم نسل ترلاسه کړی دی او یا دا چې هغه حق دی چې د ۱۹۷۰میلادي لسیزې څخه وروسته د هېوادونو په اساسي قوانینو کې ځای پر ځای شوی دی.

د اطلاعاتو د آزادۍ اصطلاح د لومړي ځل لپاره د امریکا په متحده ایالاتو کې منځته راغلې ده. (۳) اطلاعاتو ته د لاس

رسي حق معنی دا ده چې د یوه هېواد وګړي کولای شي چې ټولو هغو اطلاعاتو ته لاس رسی پیداکړي چې د دولت په عمومي ارګانونو پورې اړه ولري. (۴)

اطلاعاتو ته د لاس رسۍ حق د اتباعو د اساسي حقونو له جملې څخه ګڼل کېږي، په دې معنی چې اتباع کولای شي له دولت سره د شته معلوماتو څخه اطلاع ترلاسه کړي، د دولتي ادارو د کارونو، مصارفو، راپورونو او فعالیتونو څخه خبر شي، دا حق له دې امله اهمیت لري چې له یوې خوا اتباع کولای شي د دولت په کړنو نظارت وکړي او یا هم ځینې هغه مهم معلومات چې دوی ورته اړتیا لري ترلاسه کړي، او له بلې خوا دولت دې ته اړ کوي تر څو کار وکړي، ځکه له هغوی سره به همېشه دا وېره وي چې هسې نه څوک ترې اطلاعات په دې برخه کې وغواړي، نو دا حق ولس ته فرصت ورکوي تر څو د دولت کړنې تر څارنې لاندې ونیسي.




دولت د اطلاعاتو او معلوماتو مالک نه، بلکې امانت دار دی. په دې معنی چې معلومات د ولس حق او د یو امانت په ډول له حکومت سره پراته دي، هر وخت چې ولس وغواړي باید دغه امانت ته لاس رسی پیدا کړي. (۵)

د فرانسې په اساسي قانون کې دې حق ته (اداري اسنادو ته د لاس رسۍ آزادي) ویل کېږي. د کاناډا په اساسي قانون کې ورته (اطلاعاتو ته لاس رسی) اصطلاح استعمالېږي. (٦) او زموږ د هېواد د اساسي قانون د پنځوسمې مادې په درېیمه فقره کې ورته (اطلاعاتو ته د لاس رسۍ حق) اصطلاح استعمال شوې ده. (۷)

په دیموکراتیکو ټولنو کې وګړي په حکومت باور کوي تر څو اطلاعات د هغوی په ګټه برابر او راټول کړي. معلوماتو ته د لاس رسۍ حق د بیان د آزادۍ له حق سره هم تړاو لري.

د ټولیزو رسنیو قانون په پنځمه ماده کې هم دغه حق منل شوی دی، دا ماده وایي: (هر شخص حق لري، معلومات وغواړي او ترلاسه یې کړي. دولت د هېواد د اتباعو له غوښتنې سره سم، هغه معلومات چې غوښتل کېږي، برابروي، خو که چېرې غوښتل شوي معلومات محرم راز وي، افشاء کول یې د هېواد امنیت، ملي ګټې او ځمکنۍ بشپړتیا په خطر کې واچوي او یا د نورو حقونو ته زیان ورسوي) (۸)

## اطلاعاتو ته د لاس رسۍ د حق محدودیتونه:

د اساسي قانون د پنځوسمې مادې په درېیمه فقره کې، اطلاعاتو ته د لاس رسۍ د حق په اړه یواځې دوه قیدونه ذکر شوي دي، یو دا چې د نورو حقونو ته یې زیان ونه رسېږي او دوهم دا چې عامه امنیت ترې متضرر نشي، دلته ځینې موارد یادوو، چې په دې مواردو کې یو چا ته اطلاعات نشي ورکول کېدای او لامل یې هم دادی چې یا ترې د خلکو حقونه متضرر کېږي او یا هم ترې امنیت ته زیان رسېږي:

### ۱ـ حساس او مهم مسایل:

په دولتي سطحه ځینې داسې حساس او مهم مسایل شته چې که چېرې هغې ته عام خلک لاس رسی پیداکړي، نو کېدای شي امنیت ته ترې زیان ورسېږي، لکه: د ملي امنیت پورې مربوط ستراتیژیک پلان او ځینې معلومات، نظامي ستراتیژیک پلان او ورپورې تړلي ځینې معلومات، ځینې وخت دولت نه غواړي چې ځینې سیاسي او اقتصادي برنامې هم له خلکو سره شریکې کړي او علت یې هم دا وي چې هسې نه د یادو برنامو د له منځه وړلو لپاره څوک اقدام وکړي او امنیت ترې زیانمن شي.

### ۲ـ سري او پټې محاکمې:

رسنۍ او ژورنالیستان د هغو محاکمو او یا محاکماتي جلسو په اړه چې سري اعلان شوي دي، نشي کولی چې معلومات او اطلاعات ترلاسه کړي، او که احیاناً ترلاسه یې هم کړي

د خپرولو اجازه يې نه لري.
لکه: د اطفالو او کوچنيانو د محاکمې پرېکړې چې قانوناً د هغې خپرول په ځينو دلايلو منعه دي. چې په اړه يې د کوچنيانو او اطفالو د تخلفاتو د قانون ۳۲مه ماده ۲ فقره داسې صراحت لري: (د اطفالو او کوچنيانو د محاکماتي جلسو جريان، د شاهدانو د شهادت او د اهل خبره د نظر خپرول او نشرول په ټولنيزو رسنيو کې قانوناً جواز نه لري).(۹)
په همدې ډول د اخلاقي جرايمو د محاکماتي جلسو د جريان نشرول هم جواز نه لري، د ښځو پر وړاندې د تاو تريخوالي



د مخنيوي قانون ۱۹مه ماده د جنسي تېري د مجني عليه د هويت د ثبت او نشر په اړه دا ډول صراحت لري: (هغه شخص چې د جنسي تېري او فحشا ته د مجبورې شوې مجني عليه هويت ثبت کړي يا يې له قانوني دليل پرته افشاء او يايې تصوير خپور کړي، داسې چې د هغې ښځې شخصيت ته صدمه ورسوي، مرتکب په متوسط حبس چې د درې کالو څخه کم نه وي محکوميږي).(۱۰)

**۳- د ځينو عادي محاکمو جريان:**
سره له دې چې د محاکماتي جلسو جريان د قانون پر بنسټ علني او ښکاره ښودل شوی دی، اما په ځينو ځانګړو حالاتو کې ممکن په ځينو ملحوظاتو، محاکم خپلې جلسې سري او پټې اعلان کړي، لکه: عامه نظم ته د زيان په صورت کې او يا هم په کورنۍ پورې اړونده موضوعاتو کې، نو په دې صورت کې هم رسنۍ او ژورناليستان نشي کولی چې په دې اړه معلومات او اطلاعات راټول او بيا يې نشر ته وسپاري.

**۴- پارلماني جلسې:**
د پارلماني جلسو د جريان د نشرولو په اړه د معلوماتو او اطلاعاتو په راټولولو کې هم ځينې وختونه محدوديتونه رامنځته کېږي، خصوصاً په هغو مواردو کې چې پارلمان ځينې جلسې په ځينو دلايلو سري اعلان کړي، نو په اړه يې معلومات او اطلاعات راټولول او يايې د جريان نشرول او خپرول جواز نلري.

**۵- ډيپلوماتيکي موضوعات:**
د ډيپلوماتيکي معلوماتو او اطلاعاتو د خپرولو په اړه هم ځينې وخت ستونزې رامنځ ته کېږي، چې معمولاً دا ډول موضوعاتو ته د لاس رسی په اړه معيار او وخت ټاکل کېږي، لکه: د افغانستان د بهرنيو چارو وزارت دغه ميعاد ۳۰ کاله ټاکلی دی، يعنې رسنۍ او ژورناليستان تر ۳۰ کالو پورې نشي کولی چې ډيپلوماتيکي معلومات تر لاسه او خپاره يې کړي.

**مأخذونه:**
۱- لاهيجی، بيژن عباسی. مبانی حقوق اساسی، انتشارات جنگل: تهران، ۱۳۹۳ هـ.ش، مخ. ۳۰۳.
۲- مخکينی مأخذ، مخ. ۳۰۴.
۳ـ نياز، عبدالوحيد. مقدمه يی بر حقوق اساسی جمهوری اسلامی افغانستان، انتشارات سعيد: کابل، ۱۳۹۳ هـ.ش، مخ. ۱٦۸.
۴ـ مخکينی مأخذ، مخ. ۱٦۸.
۵ـ مبارز، عبدالصبور. د اساسي قانون تحليل او شننه، سلام خپرندويه ټولنه: جلال آباد، ۱۳۹٦ هـ.ش، مخ. ۵۵۴.
٦ـ مقدمه يی بر حقوق اساسی جمهوری اسلامی افغانستان، مخکينی مأخذ، مخ. ۱٦۸.
۷ـ د افغانستان اسلامي جمهوريت، مجموعه قوانين اساسی افغانستان، د افغانستان د اسلامي جمهوري دولت اساسي قانون (۱۳۸۲ هـ.ش)، عدليې وزارت: کابل، ۱۳۹۲ هـ.ش، ۵۰ ماده، دريمه فقره.
۸ـ د افغانستان اسلامي جمهوري دولت، د ټوليزو رسنيو قانون، عدليې وزارت: کابل، ۱۳۸۴ هـ.ش، ۵ ماده.
۹ـ د افغانستان اسلامي جمهوري دولت، د کوچنيانو تخلفاتو ته د رسيدګۍ قانون، عدليې وزارت: کابل، ۳۲ مه ماده، دوهمه فقره.

۱۰- د افغانستان اسلامي جمهوري دولت، د ښځو پر وړاندې د تاوتريخوالي د منع قانون، عدليې وزارت: کابل، ۱۹مه ماده.
۱۱- شمس، شمس الهدی، اطلاعاتو ته د لاس رسی حق او محدوديتونه يې، ناچاپ علمي مقاله.

# رسانه ها، طفل، تربیت و رشد او

محمد مصطفی نوید

منظور از رسانه در این نوشته مشمول رسانه های دیجتالی با ابعاد شنیداری و دیداری آن می باشد.
دیدگاه روانشناسان تربیتی و کودک به تداخل رسانه ها در تربیت و رشد کودکان همیشه مترددانه می باشد، حتی اگر تحقیقی تبعات منفی رسانه ها را تأیید هم کند، با این حال در این نوشته روی اثر گذاری رسانه ها بالای کودک و رشد او بحث خواهیم کرد، در ادامه دنبال پاسخ گویی به این سوال و یا سوالات هستیم که آیا حضور رسانه در خانه خانه ما، تأثیر بر رشد اطفال مان خواهند داشت و اگر بلی، این تأثیر چه خواهد بود؟ و آیا کنترول بر آن داشته باشیم؟ و این کنترول تا چه حد باشد؟ بنابر این خواندن این بحث برای پدران و مادران و اهل رسانه توصیه می شود. برای اهل رسانه از آن جهت مهم میدانیم تا پیامد های احیاناً ناسنجیده‌ی حرکت را پیش بین بوده و برای عموم جامعه از آن جهت مهم است که آنچه را در رسانه می بینیم، می شنویم و یا می خوانیم، نه به آن سادگی بی اثر است که بعضاً تصورش را می کنند و نه به آن پیچدگی و پر از توطئه است که حرامش بدانیم.
تأثیر رسانه ها بالای رشد کودکان، از همان اوایل دسترسی عامه به رادیو و تلویزیون، ۱۹۷۰ میلادی مورد توجه روانشناسان قرار گرفته و تحقیقات مختلف بر مثبت، منفی و تعیین حد و حدود بر تماشا، و یا پخش برنامه های آنها گذاشته اند، بیشترین این بحث ها روی رشد و یادگیری شناختی و اجتماعی اطفال و نوجوانان بوده است، مطالعات مختلف نشان داده است که محتویات علمی و تعلیمی متنوع و با کیفیت می تواند یادگیری کودک را تسریع ببخشد، تحقیقاتی که در سال ۲۰۰۱ میلادی صورت گرفته نشان می دهد که کودکان با سن ۵- ۱۵ ساله با تماشای برنامه Sesame Street و Mr. Rogers (دو برنامه تلویزیونی با محتویات آموزشی برای کودکان در امریکا) کمتر وقت شان را بدون مطالعه گذشتاندند و نمرات



خوبی داشته و از عزت نفس بالا و فعالیت بیشتر برخوردار بودند با این تفکیک که کودکان زیر ۲ سال نمی توانند از اسکرین و رسانه چیزی را بیآموزند ، بلکه آنها از فعل و انفعالات حقیقی اطرافیان می آموزند. ژان پیاژه این دوره سنی (تولد تا دو سالگی) را مرحله حسی حرکی نامیده است، در این دوره طفل خصوصیات اشیا را به وسیله حواس

می آموزد و با فعالیت های حرکی (چنگ زدن به اشیا، چارغوک کردن، راه گشتن و...) راههای جدیدی برای برخورد با موقعیت ها را می آموزد بناً گذاشتن کودک در این سن به مدت طولانی در مقابل اسکرین رسانه نه تنها سبب رشد کودک نمی شود، بلکه مانع رشد جسمی، حرکی و شناختی طفل می گردد، باید یاد آور شد که حتی فعال گذاشتن تلویزیون در پس زمینه در حالیکه کودک مصروف بازی خود هست، می تواند اثر منفی بر او و رشد او داشته باشد چون صدا و نور تلویزیون سبب برهم خوردن تمرکز کودک بر بازی می شود و زمانیکه کودک دوباره به بازی اش بر می گردد اینکه چه می کرد و مثلاً داشت گودیگگ (عروسکش) را در چادر می پیچاند فراموش خواهد کرد.

نتایج یک (meta-analysis) در سال ۲۰۱۹ میلادی نشان می دهد که هرچه اطفال زمان بیشتر به تلویزیون و ویدیو گیم اختصاص بدهند به همان اندازه دست آورد آموزشی کمتر می داشته باشند .

اما این هرگز به این معنی نیست که اطفال را به صورت کلی از این دنیا محروم کنیم، بلکه نباید کودکان وقت بیشتر و مفید شان را به رسانه و بازی های دیجتالی مصرف کنند، این وسایل جزء زندگی امروز ماست و فراگیری آن از دانش و تجربه محسوب می شود اما اصراف در هر پدیده‌ی مفید نیست.

با آنکه در مبحث رسانه ها و کودک بیشتر مدت زمانیکه طفل در معرض رسانه قرار می گیرد مطرح است یعنی چه اندازه کودک به تلفون هوشمند پدر و یا مادر و یا تبلیت و کمپیوتر بزرگترهای خانواده {و یاتلویزیون} دسترسی دارد اما در کودک بالاتر از سن دو سالگی محتویات مواد رسانه ها مهم تر از زمانی است که کودک در استفاده از رسانه می گذراند والدین بیشتر از اینکه نگران این باشند که کودک شان چند ساعت پای وسیله الکترونیکی گذشتانده اند دقت کنند که طی این مدت چه برنامه های را می بینند و از نظر ارزشی چگونه است و آنچه را که می بینند چه اندازه با ارزش های دینی و مذهبی، اخلاقی و خانوادگی هم خوانی دارد؛ مثلا: دیدن فلم سینمای هالیود و بالیود



بدون شک محتویات ناهمگون با ارزش های اجتماعی و دینی ما دارد، و یا استفاده از شبکه های اجتماعی مانند انستاگرام، تیک تاک و... که محتویات مخالف ارزش ها دینی و فرهنگی جامعه به آسانی در آنها در دسترس است، موزیک و آهنگ های که حاوی مطالب جنسی و تصاویر جنسی می باشد می تواند به صورت نامرئی مطالب غیر مطلوب و مخالف ارزش های خانوادگی را ارائه کند. ادبیات به کار رفته در شعر، تصاویر و جلوه های استفاده شده در کلیپ ها هریک می تواند نامناسب ویا مناسب کودک باشد. بنابراین، این وظیفه والدین است که برای کودکان و نوجوانان خود رسانه و محتوای آن را انتخاب کند.

اما حالا سوال این است که در وضعیت که اطراف کودک را رسانه پیچانیده است آیا می توان کنترول بر استفاده کودکان از رسانه داشت و باید Screen time کودک را محدود کرد؟ در حالیکه به تعداد اعضای فامیل، موبایل هوشمند با حافظه چند جی بی، تبلیت و کمپیوتر با محتویات متفاوت، تلویزیون ها با برنامه های متنوع و هریک داری مطالب مفید و غیر مفید.

پاسخ بلی و باید است، والدین باید کنترول متداوم اما مناسب و با هدف بالای استفاده کودکان از رسانه داشته باشند. متداوم از آن لحاظ که برای یک و یا چند روز و یا برنامه و رسانه خاص نباشد، بلکه شکل دوامدار و هدفمند ادامه داشته باشد، با هدف به این معنی که والدین باید بدانند که چرا این برنامه و یا آن رسانه را بالای کودکانشان تحریم می کنند؛ مثلاً آیا محتویات خشونت

بار، جنسی و غیر مناسب دارد؟ آیا مطالبی را ارائه می کند که هنوز وقت است کودکان آن را بدانند؟ و در تضاد با دین، مذهب و فرهنگ است و یا هر دلیل دیگری، به هر حال والدین باید دلیل روشن و واضح از تحریم رسانه بالای کودک داشته باشند. آکادمی اطفال امریکا (AAP) پالیسی های متعدد وحتی فورم زیر نام (Family Media Plan ) جهت استفاده درست خانواده ها از رسانه ها را گذاشته اند. روشن بودن و در دسترس بودن همیشگی رسانه در خانه می تواند تداخل غیر قابل کنترول به زندگی اطفال و حتی شما داشته باشد. که بدون شک راه کنترول آن داشتن پلان منظم فامیلی برای دیدن و استفاده از رسانه ها می باشد. آکادمی اطفال امریکا در ذیل پلان خود مسایل چون استفاده نکردن تلویزیون و یا موبایل در هنگام نان خوردن؛ قدم زدن، نشست های خانوادگی، سیر و سفر کوتاه با موتر، دور بودن رسانه از اطاق خواب و هنگام خواب کودک و.... را آورده است، همچنان انتخاب برنامه های آموزشی و حذف برنامه های مخالف ارزش های اخلاقی و اجتماعی و عدم حضور اطفال قبل از سن جوانی در شبکه های اجتماعی از مباحثی است که باید در نظر گرفته شود.

اینکه چگونه می توان آنرا عملی کرد قوانین خانوادگی بهترین راه رسیدن به این و سایر اهداف تربیتی کودکان می باشد، والدین باید یک سلسه قوانین را در خانواده وضع کنند و خودشان بیش از همه به آن پایبند بوده عمل کنند. داشتن قانون خانوادگی تأثیرات مثبت بی شماری بر شخصیت اطفال دارد که در طی نوشته جداگانه ی خواهیم شمرد، اما عجالتا داشتن قواعد در خانه، کودک اصول گرا، با استرس پایین تر و با شخصیت که میداند کجا؟ چه؟ عملکردی داشته باشد را تربیت خواهند شد.

توصیه دیگری روانشناسان برای کاهش اثرات منفی محتویات رسانه ها بالای کودکان، این است که کودکان را در استفاده رسانه ها همراهی کنید به این معنی که هنگام دیدن و استفاده رسانه به وسیله کودکان ۳ ساله الی نوجوانی کنارش باشید و در مورد برنامه و یا هرمحصول رسانه ی که در معرض آن قرار گرفته بحث کنید، تلاش کنید تا جنبه های مثبت آنرا برجسته بسازید و جنبه و نقش منفی محصول رسانه ی را منفی جلوه دهید. تا کودک نکات و شخصیت های منفی را الگو خود انتخاب نکند. اینجا نکته مهم اینست که ممکن است در جریان تماشا و یا استفاده رسانه به کرات با سوالاتی کودکان مواجه شوید که با صبر و حوصله باید پاسخ داد.

سخن آخر اینکه رسانه می تواند نقش بسیار مؤثر در رشد و یادگیری کودکان داشته باشد مدام که به صورت هدفمند و پلان شده مورد استفاده قرار گیرد، کودکان نمی



توانند خوب و بد رسانه ها را تفکیک و انتخاب کنند، بلکه این وظیفه پدر و مادران است که به صورت جدی به آن رسیدگی نمایند، اگر استفاده رسانه به وسیله کودکان و یا در مجموع فامیل بدون هرگونه قید و شرط ادامه یابد، جنبه ها مختلف از زندگی آنها اعم از ارزش های خانوادگی، دست آوردی های علمی و آموزشی را متأثر خواهند ساخت.

منابع:

- (Linebarger, 2017)
- (Linebarger, 2017) به نقل از Anderson
- (AAP, 2013)
- (کدیور, 1392)
- (Tiffany A. Pempek, 2014)
- (AAP, Screen Media Use and Academic Performance Among Children and Adolescents, 2020)
- (Linebarger, 2017)
- (Ari Brown, 2015)
- (How to Make a Family Media Use Plan, 2019)
- (Megan A. Moreno, M.D., M.S.Ed., M.P.H., FAAP, 2016)

# په پښتو ليکنو کې ځنې املايي تېروتنې

# د وصل او فصل تورو روغه کارونه

محمد شعيب قريشي، د ملي اصلاح مياشتنۍ مجلې مسؤول

پښتو ژبه په ليکنه او وينه کې تر نورو سيمه‌ييزو ژبو لږه ګرانه او په ګرامري اړخ کې تر نورو هغو د قوت څښتنه ژبه ده، همدا علت دی چې پښتو ژبه يې لږه ګرانه کړې ده، بلخوا د پښتو ژبې د ځنو تورو مخرجونه تر ډېره سخت دي چې په خپله پښتانه ماشومان او نوي ځوانان يې هم په روغه توګه نه شي ادا کولی چې کله له يو لوري دا کار پښتو ژبه د نورو له پاره ګرانه کړې ده، خو بلخوا د همدې ګرانۍ ښکېنه داده چې پښتانه په ټوليز ډول نورې ژبې په ډېرې آسانۍ سره او روانې زده کوي، ځکه چې تر ډېره د نورو ژبو ګران مخرجي توري په پښتو کې شتون لري او پښتانه ورسره بلد دي.

له دې ټولو سره سره پښتو ژبه په ليکنه کې هم تر فارسي او نورو ژبو ډېر دقت ته اړتيا لري او ډېری پښتانه روغه پښتو نه شي ليکلای، تر دې چې ځنې پښتانه ليکوال هم د پښتو ژبې په ليکنه کې ستونزه لري او په ځانګړې توګه د وصل (تړون) او فصل (بېلونې) توري په روغه توګه نه کاروي چې دا چاره د ليکنې ښکلا ته زيان رسوي، که څه هم لوستونکي ترېنه مفهوم واخلي.

**د (د) او (له) او (ستا) او (زما) ناسمه کارونه:**

اکثره پښتانه ليکوال د (د) او (له) په سمه کارونه کې ستونزه لري او يو د بل پر ځای يې په ليکنو کې کاروي، چې په اصل کې دا دوه توري خپل د کارونې ځايونه لري چې د مفهوم په لحاظ خپله معنا ورکوي او دا دوه توري د عربي دوه تورو (عن او مِن) ته ورته دي چې هلته هم خپل د استعمال ځايونه لري.

په پښتو کې (له) ډېری د انتقال لپاره کارول کېږي او روغه کارونه يې هم همدا ده، لکه: له کابل څخه ننګرهار ته لاړم. له احمد څخه مې کتاب واخيست. له تا څخه مننه، او داسې نور. چې ډېری کسان د (له) پرځای په پورته جملو کې (د) کاروي چې دا ناسمه کارونه ده، لکه: د کابل څخه ننګرهار ته لاړم، چې دا ناسمه کارونه ده.

د (د) توری اکثره د ملکيت، تړون او اضافې (مضاف او مضاف اليه) لپاره کارول روغه کارونه ده، لکه: د هغه کتاب، د جمهور رئيس فرمان، د کتاب مخ، د افغانستان بيرغ او داسې نور.

همدا راز ډېری ليکوال د (ستا) او (زما) پرځای هم د (د) څخه ګټه پورته کوي، چې دا کار د هېواد د جنوبي سيمو پښتانه تر ډېره کوي، لکه چې وايي: د تا کتاب، چې روغ يې ستا کتاب دی او يا د ما کتاب، چې روغ يې زما کتاب دی. او يا هم د تا کور ته درغلی وم، چې سمه کارونه يې ستا کورته درغلی وم.

**د (په) او (پر) ناسمه کارونه:**

اکثره لوستونکي او ليکونکي په پښتو ليکدود کې (په) او (پر) سم او پرځای نه کاروي، يا هر ځای (په) ليکي او يا هم بې‌ځايه (پر) استعمالوي.

په پښتو کې د (پر) توری په هغه ځای او جمله کې کارول روغه کارونه ده چې هلته د بروالي او اوچتوالي مفهوم نغښتی وي، يا په حقيقي ډول، لکه: پر ميز کتاب پروت دی. او يا هم ستا پرځای کېناستم. او پر چت ويده شوم. او يا هم په معنوي ډول، لکه: پر ما دې احسان وکړ. چې



په دي جملو کې د بروالي مفهوم له ورايه تر سترګو کېږي او په پورتنيو جملو کې د (پر) پرځای د (په) کارونه ناسمه ده.

د (په) توری ډېری په هغو ځايونو کې کارول کېږي چې هلته د منځ او دننه مفهوم پروت وي، لکه: د په کوټه يا خونه کې ويده شوم، په باغ کې ونې دي، په جيب کې مې پيسې دي، په کتاب کې مې ولوستل (يعنې دکتاب د پاڼو په دننه کې مې ولوستل).

همدا راز د (په) توری په پښتو ليکنو کې د کارونې او استعمال ډېر ځايونه لري او د (پر) لفظ په لږو ځايونو کې کارول کېږي، چې هغه يوازې د بروالي مفهوم پکې نغښتی وي.

**د (شتون) ناسمه کارونه:**

اکثره پښتانه ځوان ليکوال له ځو کلونو راهيسې د شتون کلمه ډېره کاروي، چې زما په انده د استعمال ځای يې غلط دی، لکه چې ځنې ليکي: زمونږ په هېواد کې جګړه شتون لري، چې ساده او روانه يې داسې ده: زمونږ په هېواد کې جګړه شته.

شتون اصلا د (بودن) په معنا دی، چې مصدر دی او ما تر اوسه هم په هېڅ پښتو ليکنه کې د شتون سمه کارونه نه ده لېدلې، او اکثره ليکوال يې د تکلف له مخې ليکي او د پر دې ورته ځان بد بريښي چې ساده ليکنه وکړي.

د بېلګې په ډول: يو کس ما ته په مسجد کې ليکلي ؤ چې زه په کور کې شتون لرم. يعنې شتون کوم بل شی دی چې دی يې په کور کې لري، لکه څوک چې ووايي: زه په کور کې کټ لرم، او ساده او روانه جمله داسې ده چې زه په کور کې يم. حتې دا هم ناسمه ده چې څوک ووايي: زه په کور کې شته يم.

**د (دوه) او (دوې) توپير:**

په پښتو ليکنو او خبرو کې اکثره کسان د (دوه) او (دوې) توپير نه شي کولای او يا يې هم نه کوي، په داسې حال کې چې په پښتو عددونو کې يوازې (يو) او (دوه) هغه عددونه دي چې نارينه او ښځينه جملو کې ځان ته کارونه لري.

دوه د نارينه لپاره او دوې د ښځينه لپاره، لکه: دوه سړي او دوې ښځې، يا دوه کتابونه او دوې کتابچې. همدا راز يوه ښځه او يو سړی، چې (يو) او (يوه) کې هېڅ پښتون هم تيروتنه نه کوي، خو په (دوه) او (دوې) کې بيا ۹۰ سلنه پښتانه غلطي کوي او په هر ځای کې (دوه) کاروي. له (۲) پورته نور عددونه په نارينه او ښځينه جملو کې يو شان دي.

په عربي ژبه کې هم تر ډېره د اعدادو کارونه پښتو ژبې ته ورته ده، چې هلته هم يو او دوه عددونه ځانته کارونه لري او له دوو پورته تر نهو بيا ځان بيا بل شان ده.

په دي لنډه ليکنه کې ما ځنو هغو تورو او کلمو ته اشاره وکړه چې په پښتو ليکنو او محاورو کې يې کارونه ډېره ده او اکثره غلط کارول کېږي، په راتلونکي کې به (ان شاءالله) په دي اړه نورې ليکنې هم ولرو.

# که غواړئ چې ژورنالیست شئ، نو دا پنځه کارونه باید ترسره کړئ!

ژباړه: فوزیه حسن خېله

که تاسو د ژورنالېزم محصل یاست، یا تاسو غواړئ په Mass Communication(رسنیزو اړیکو) کې د لیسانس یا ماستری تر کچې زده کړې وکړئ، نو د بریالیتیوب د سند تر اخیستو وړاندې، باید دا پنځه کارونه هرو مرو ترسره کړئ. دا کارونه باید ستاسو د ورځې کارونه وي، بېخي همداسې لکه څنګه چې د غاښونو برس کول، د سهار چای او ناشتا کول، جرابې په پښو کول او وېښتان ږمنځول ستاسو ورځني کارونه دي.

لومړی کار: له دې پینځو کارونو څخه لومړنی کار مطالعه ده، تاسو مطالعه خپل داسې یو عادت وګرځوئ، لکه د سهار چای څښل. تاسو د درې ډوله سیاسي کتابونو مطالعه وکړئ:

١. تر ټولو نوی سیاسي کتاب: دا کتاب کېدای شي د نړیوالو سیاستمدارانو، رهبرانو او د لوړ پوړو چارواکو د ژوند او یا د دوی د لیکل شویو اثارو په اړه وي. د بېلګې په توګه نن سبا د رابرټ ګیټس کتاب (دنده) ډېر مشهور دی. له دې نه مخکې د بل کلنټن کتاب (زما ژوند) او د جارج بش کتاب (Decision Points) ډېر مشهوره وو. تاسو د دې کتابونو مطالعه وکړئ.

٢. تاسو هغه کتابونه مطالعه کړئ، کوم چې ستاسو د پیدایښت او د ښوونځي لومړنیو زده کړو په وخت کې بازار ته راغلي وي. دا کتابونه هم باید د سیاست، جغرافیې او یا د هغوی د تېر ژوند په اړه وي. تاسو د نامتو ژورنالیستانو د تېر ژوند په اړه او د ادیبانو، شاعرانو او ټولنیزو کارکوونکو د ژوند په اړه هم مطالعه وکړئ.

٣. تاسو له خپل پیدایښت څخه شل کاله مخکې لیکل شوي کتابونه مطالعه کړئ، دا کتابونه به ستاسو علم ډېر کړي. که تاسو د ادب او هنر برخه خوښوئ، نو لس - شل سلنه ادبي کتابونه هم ولولئ. تاسو هره ورځ لږ تر لږه دوه ورځپاڼې هرو مرو ولولئ. له تاسو سره باید د لاس په اندازه یوه وړوکې کتابچه وي چې که په کتابونو او اخبارونو کې مو هر څه خوښ شول، ژر یې په کتابچه کې ولیکئ او هر وخت مو چې وخت پیداکړ، خپله کتابچه راوباسئ او نوټونه مو ولولئ، په دې کار سره به ستاسو له ماغزو نه د معلوماتو ذخیره جوړېږي، تاسو به د خپلو نورو ټولګیوالو څخه له فکري اړخه مخکې اوسئ.

دویم کار: تاسو درې ژورنالیستان وټاکئ، یو باید محلي یا سیمه ییز ژورنالیست وي، دویم یې باید د هېواد په کچه مشهور او درېیم یې باید له نړیوالو رسنیو څخه وي. تاسو د دوی ټولې لیکنې، راپورونه او تحلیلونه ولولئ. کتابتون ته لاړ شئ، د دوی ټولې لیکنې راوباسئ او وې لولئ. تاسو د دوی د شخصیت، د کار کولو بڼه، د کورني ژوند او د دوی ژوند د فلسفي پوري اړوند مسایل ولولئ. کله مو چې هغه په پوره توګه وپېژانده، نو هڅه وکړئ چې ورسره وګورئ. تاسو د ده زده کوونکی او مرسته کوونکی جوړ شئ. ستاسو دا هڅه به تاسو له وړتیاوو ډک ژورنالیست کړي.

د بېلګې په توګه ما له « آرټ بک والډ» سره هم وکتل، په ډېرې ستونزې سره مې له هغه سره د لیدنې وخت وټاکه، لیدنه پیل شوه او بیا همداسې روانه وه. ما به چې کله هم له هغه سره اړیکه نیوله، نوموړي به هرو مرو بېرته ماته زنګ وهلو. هغه غوښتل چې زمونږ خواته راشي، خو بس قسمت نه ؤ او د خدای –جل جلاله- هغه ته دا مهلت ور نه کړ. ما له هغه نه زده کړل چې: ((د نړۍ ټول هنرونه «ډله ییز کارونه» وي، تاسو به تر هغې بریالي نه شئ چې د یوې ډلې جوړولو توان تر لاسه نه کړئ.)).

هغه به ویل «زما سره دلته ځوانان دي چې له ما څخه زده کړه کوي، بیا زه دا خلک له بازار سره په اړیکه کې کوم. دا ځوانان زما له خوا د ژورنالېزم لپاره ډالۍ وي.»

په دې توګه تاسو هم د دریو غوره ژونالیستانو لست جوړ کړئ، تعقیب یې کړئ، دا خلک به له تاسو څخه

ژورنالیست جوړ کړي.
دریم کار: د ژورنالېزم څلور بنسټيزې برخې دي (ایډېټ کول(سمونه)، رپورټ جوړول، لیکوالي، شوټنګ). د ژورنالېزم نورې برخې د دې څلورو برخو بچیان دي. تاسو له دې برخو څخه یوه برخه وټاکئ او د زده کړې په دوران کې دا کار هم زده کړئ. تاسو له یوه ژورنالیست سره زده کوونکی شئ، تاسو په ورځ کې د څو ساعتونو لپاره د خپل استاذ لوري ته ولاړ شئ او په کارونو کې ورسره مرسته وکړئ، دغسې مرسته کول به تاسو ته د فراغت تر سند وړاندې هنر او مهارت در زده کړي او د کار کولو هنر به هم درته وښایي. دا کار به تاسو ته د پیاوړیتوب عادت هم درکړي. ما به د پوهنتون د درس په موده کې له یوه مشر ژورنالیست څخه د ایډېټ زده کړه کوله. هغه به هره ورځ په ما باندې درې خبرونه ایډېټ کول، د دې درې خبرونو په بدل کې به ما هغه په اونۍ کې دوه ځلې د شپې درې بجې خپل کور ته رساوه، دا به تر ټولو ستونزمن پړاو ؤ، ځکه چې هغه به په نشه کې غرق ؤ، د خپل کور پر ځای به د بل چا کور ته ننوتلو او دا به زما دنده وه چې هغه خپل کور ته ورسوم، ما به خپله دنده په پوره ایمانداری ترسره کوله. د هغې سختۍ ګټه دا شوه چې کله زه له پوهنتون څخه فارغ شوم، نو د سند سره سره زما د خبر ایډېټ کول هم زده وو او زما نور ټولګیوال په دې معامله کې بېخي ړانده وو، د همدې ناپوهۍ له امله یې و نشو کولی چې د ژورنالېزم په ډګر کې پاتې شي.
څلورم کار: ژورنالېزم د اړیکو برخه ده. په دې دنده کې ټولنیزې اړیکې د رهبرۍ ارزښت لري. که تاسو اړیکې نشئ جوړولی، نو ستاسو د ژورنالیست کېدو چانس کم دی، تاسو د زده کړې له دورې څخه ټولنیزې اړیکې جوړول پیل کړئ. سیاستمدارانو سره وګورئ، له دوی څخه د سیاست او پارلمان په اړه پوښتنې وکړئ. زندان ته لاړ شئ او د هغه ځای کارکوونکو څخه قانوني معلومات ترلاسه کړئ. که چېرې ستاسو د اوسېدو په سیمه کې پولیس کوم غټ مجرم ونیسي، نو تاسو د پولیسو له اړوند افسر سره وګورئ، د هغه ستاینه وکړئ، هغه به تاسو ته د خپل بریالیتوب داسې څو خبرې وکړي چې تاسو به په اخبارونو کې هم نه وې لوستې. د خپلې سیمې د پولیسو حوزې له مشر سره اړیکه ټینګه کړئ، د خپلې ولسوالۍ له ولسوال او امنیه قوماندان سره هم وګورئ. همدارنګه تاسو د سیمې ټولو دولتي دفترونو ته لاړ شئ، له کارکونکو او آمرینو سره لیدنه وکړئ او له هغوی څخه د اداري د کار د بنې په اړه پوښتنه وکړئ. ستاسو کور ته به برق، ټیلیفون او اوبه رارسېږي، خو تاسو به تراوسه پورې دا فکر نه وي کړی چې ستاسو کور ته اوبه له کوم ځای څخه راځي؟ د تشنابونو پایپ آخر کوم ځای ته ځي؟ د ټیلیفون ملي نیټ ورک چېرته دی؟ ګاز له کوم ځای نه راځي او چېرته رسېږي؟ په برق کې بنسټیز انتقالي لاین کوم یو دی، (فیډر) څه ته وایي او د ترانسفرمر کار څه دی. تاسو د محصلۍ په دوره کې دې دفترونو ته لاړ شئ، له دوی څخه بنسټیز معلومات ترلاسه کړئ او که خدای مه کړه د هېواد په کوم انتقالي لاین کې کومه ستونزه راشي، نو تاسو کارکوونکو پسې لاړ شئ او د دې ستونزې په اړه ترې پوښتنې وکړئ. تاسو پوسټ مارټم (هغه معاینه چې پس له مرګ څخه کېږي) وګورئ. په نظامي ځای کې کېنئ او د هغوی پلټنه وکړئ. د محکمې په نظم باندې د پوهېدو هڅه وکړئ. دا معلومات او اړیکې به په علمي ژوند کې ستاسو ډېرې په کار راشي.
پنځم کار: ژورنالېزم یوازې دنده نه ده، بلکې یوه مینه او لېوالتیا ده. ترڅو چې تاسو دا مینه و نه ګڼئ، تر هغه وخته نه شئ بریالي کېدلی. تاسو دا دنده په ختیځو هېوادونو کې د ښځو نکاح ته ورته یو کار وګڼئ، که تاسو یو ځل دې مسلک ته ور ننوتی، نو پوه شئ چې اوس مو باید له دې ځایه یوازې مړی ووزي، ډولۍ نه. که تاسو روښان فکره نه یاست، خپل مهال وېش نه تعقیبوئ، په دنده کې د رخصتۍ او د دندې پرېښودو کې عادي یاستئ او یا هم تاسو غواړئ په ډېرې تېزۍ سره مخکې لاړ شئ، نو بیا ژورنالېزم ستاسو مسلک نه شي کېدلای، ځکه دا په دم سره پخېدو والا خوراک دی، برګر یا سانډویچ نه دی چې اوچت یې کړئ او خولې ته مړی ترې جوړه کړئ. که تاسو غواړئ چې ژورنالیست شئ، نو باید د خشونت سنګ غونډې صبر، (مستقل مزاجي) او له ژورنالېزم سره مینه او لېوالتیا ستاسو د شخصیت یوه برخه وي. خشونت سنګ د پخواني هند او پاکستان لوی ژورنالیست ؤ، په ۲۰۱۴ زېږدیز کال کې د مارچ په شلمه په ۹۹ کلنۍ کې ومړ. ده به ټول ژوند د شپې اته بجې ډوډۍ خوړله، لس بجې به ویده کېده او د سهار څلور بجې به راپاڅېده. د خشونت سنګه همدې مهال وېش هغه نه د ۳۵ کتابونو لیکوال او د پخواني هند او پاکستان تر ټولو لوی ژورنالیست جوړ کړ. تاسو هم خشونت سنګ جوړېدای شئ، خو دې لپاره باید تاسو د خشونت سنګ مهال وېش او نظم خپل کړئ. که تاسو دا نه شئ کولای، نو بیا تاسو خو ژورنالیست جوړېدی شئ خو ښه او بریالی ژورنالیست نه شئ جوړېدی.

له بهرنیو سرچینو څخه

# نقش رسانه های همگانی در روابط بین الملل

حمیدالله امیری عضو کمیسون اجرايي انجمن گهیځ

**چکیده**
رسانه ها در عصر کنونی بهترین ابزار به دست قدرت های بزرگ جهانی است، با این وسیله، برای به دست آوردن منافع شان نه تنها در سطح ملی و منطقوی که حتی در سطح جهانی تلاش می نمایند. این رسانه ها است که جایگاه کشورها را در نظام بین المللی تعریف نموده و قدرت نمایی آنها را در مقابل کشور های رقیب به مانور می گیرد و برعلاوه خود را مدافع حقوق بشر در جهان معرفی می کنند تا افکار عامه را به طرف خود جلب نموده و عملکرد های شان را توجیه نمایند.
به همین اساس بزرگترین آژانس های خبری، رسانه های بین الملل در اختیار قدرت های بزرگ جهانی می باشند و کشور های بزرگ سالانه ملیاردها دالر را از بودجه ملی شان در راستای تقویت این رسانه ها به مصرف می رسانند.

کلید واژه ها: رسانه های همگانی، رسانه های جهانی و سیاست خارجی، دیپلوماسی جدید، دیدگاه های تئوریک

**مقدمه**
ظهور گسترده رسانه های همگانی بین الملل به ویژه شبکه های ماهواری و شبکه های اجتماعی در عصر کنونی، فضای جدید را در جهان به وجود آورده است. در این فضای جدید قدرت رسانه های همگانی، مردم، فرهنگ، در کنار قدرت نظامی و تسلیحاتی نقش چشم گیرِ دارد. روابط میان ملت ها بیش از روابط میان دولت ها در شکل گیری حرکت ها و تصمیمات سیاسی و بین المللی تأثیر گذار شده است.
در این میان پیام از حوزه ملی به سطوح منطقوی و جهانی گام نهاده است. در عصر کنونی، روابط بین کشورها را تنها حاکمیت ها تعیین نمی کنند، بلکه مجموعه یی دولت ها، افکار عامه و فنآوری های اطلاعاتی_ارتباطی، معادلات روابط بین الملل را می سازند. در این میان نقش رسانه ها با بکارگیری تکنیک ها در این روابط تأثیرگذار است.
از این رو، بزرگترین آژانس های خبری جهانی و شبکه های ماهواره یی تلویزیونی، رادیویی، نشریه های چاپی، شبکه های اجتماعی، فلم ها، سریال ها ... در عصر امروز در چنگال کشورهای مانند: ایالات متحده امریکا، انگلیس، فرانسه، جرمنی، قطر، روسیه، چین، ترکیه، و هند قرار دارد که در حوزه های مختلف: خبری، سیاسی، اقتصادی، فرهنگی، نظامی، آموزشی، ورزشی و ترویج افکار عامه فعالیت چشم گیر دارند.

**تعریف رسانه همگانی:**
رسانه‌های همگانی یا رسانه‌های جمعی مجموعه‌ای از وسایل ارتباطی است که عموماً ارتباط یک سویه را دنبال می‌کنند. رسانه‌های دیداری و شنیداری مانند تلویزیون و رادیو و... از جمله مهمترین رسانه‌های همگانی هستند. از سوی دیگر رسانه‌های همگانی چاپی نیز دسته یی دیگری از رسانه‌های جمعی هستند و به گفته جان لاک همچنان جایگاه خود را به عنوان رکن چهارم دموکراسی حفظ کرده‌اند.
امروز با گسترش و استفادهِ افزونِ از انترنت، رسانه های برآمده از فضای سایبری جایگاه ویژه ای پیدا کرده‌اند. اینگونه رسانه‌ها مانند ویب سایت‌های انترنتی و خبرگزاری‌ها، امکان تعامل مخاطب را نیز فراهم می کنند و این امر موجب می‌شود که امکان شناسایی نیازهای واقعی مخاطب برای صاحبان اینگونه رسانه‌ها فراهم شود.

**روابط بین الملل:**

از عمر رشته علمی مستقلی به نام «روابط بین المللی» زمان زیادی نمی گذرد، شاید به همین دلیل، این رشته از علوم انسانی را پدیده ای پس از جنگ جهانی دوم دانسته اند .

یکی از زمینه های مطالعاتی در تاریخ دنیای مدرن، روابط بین المللی است که در سه دهه اخیر به عنوان موضوع مهم در توصیف تاریخ دیپلماسی به شمار می آید. و در خصوص آن تئوری پردازی و مدل سازی شده است. رشته روابط بین الملل یک پدیده جدید بعد از جنگ جهانی دوم است. اگرچه این موضوع نیز قبل از این تدریس می شد، اما به عنوان یکی از زیر بخش های موضوعات علمی سازمان های بین المللی، حقوق بین المللی و تاریخ دیپلماسی مورد مطالعه قرار می گرفت. پس از جنگ جهانی دوم، دانشمندان آمریکایی به مطالعه و بررسی علمی خاص در موضوع روابط بین المللی روی آوردند و با وجود جنگ سرد، این رشته را نیز با جهان بینی دنیایی و سیاست خارجی خود عجین کردند. با این وجود، اروپا تا سال ها از داشتن رشته علمی مستقل به نام روابط بین المللی (International Relation) بی بهره بود. اما این رشته در عصر کنونی بیشتر گسترش پیدا کرده است و در اکثر دانشگاه های معتبر دنیا تدریس می شود.

**دیدگاه های تئوریک در حوزه رسانه ها و روابط بین المللی:**

دیدگاه های نظری در حوزه روابط بین المللی را می توان در چهار دیدگاه مطرح کرد، که فعالیت های متخصصان، دولت ها، دست اندرکاران رسانه ها و آحاد مردم را در زمینه ارتباطات بین الملل طی چهل سال اخیر تبیین کرده اند .

۱ - دیدگاه ایدئالیستی راسانیستی: در این نظریه، ارتباطات بین الملل به عنوان وسیله ای برای کنار هم قرار دادن ملت ها و به عنوان قدرتی که به سازمان های بین المللی در انجام خدمات خود به جامعه جهانی کمک می کند، از این نقطه نظر، ارتباطات با ایده آل ترین شکل آن به عنوان زمینه ساز درک متقابل میان ملت ها و صلح مورد توجه قرار می گیرد

۲ - دیدگاه تبلیغ سیاسی (Political Proselytization): این دیدگاه ارتباطات را به عنوان تبلیغات، مواجهه ایدئولوژیکی آگاهی سازی و آفرینش اسطوره ها مدنظر قرار می دهد. اینگونه موارد در ارتباطات معمولاً یک سویه است و همه آنها نیازمند قدرت سازماندهی شده متمرکز اند. این نظریه بر روابط میان دولت ها تأکید دارد و برخلاف دیدگاه امپریالیستی که با اهداف ترویج تفاهم فرهنگی و اخلاقی به ارتباطات بین المللی می نگریست برحسب تقویت موقعیت سیاسی و قدرت اقناع به آن می نگرد .




۳ - دیدگاه اقتصادی: در این دیدگاه، اطلاعات در حوزه بین الملل به عنوان قدرت اقتصادی محسوب می شود، طرح های توسعه بین المللی، اقدامات بازرگانی، بازاریابی، تجارت و انتقال تکنالوژی مورد توجه این دیدگاه است. آنان نوگرایی کشورهای عقب افتاده به روش غربی را سبب تسلیم بیشتر در برابر کنترول کشورهای غربی می دانند .

٤ - دیدگاه قدرت سیاسی: در این نگرش، ارتباطات و اطلاعات در روابط بین المللی به عنوان قدرت سیاسی تلقی می شود.

از سوی دیگر با مطالعه در خصوص رسانه های بین المللی می توان دریافت که این گونه ابزارها در کشورهای اندکی متمرکز است و با انتقال اطلاعات به کشورهای دیگر، محتوای فرهنگی کشور منبع نیز منتقل می شود. این عدم تعادل موجود در دسترسی به اطلاعات، سبب

طرح «جریان جدید و متعادل اطلاعات» از سوی جهان سوم به جای «جریان آزاد اطلاعات» مورد نظر غرب شده است. (١٤) نظریه های سلطه ارتباطی جهانی و دیدگاه های انتقادی همچنین در سه دهه اخیر به موازات آگاهی های کشورهای جهان سوم یا در حال توسعه به شیوه های نوین و غیرمستقیم سلطه جهانی کشورهای سرمایه داری غربی، نظریه های سلطه ارتباطی جهان مطرح شدند و مفاهیم جدیدی همچون «امپریالیسم فرهنگی»، «امپریالیسم ارتباطی» و سرانجام «امپریالیسم خبری» برای معرفی شیوه های سلطه جهانی به کار گرفته شدند .

**روابط رسانه یی و سیاست خارجی:**

روابط رسانه ها تا اواخر دهه ی ۱۹۶۰ میلادی با سیاست خارجی از بسیاری جهات محدود بود و در باره ی آن تقریبا هیچ تحقیقی صورت نگرفته است. تحقیقات پیشین نیز بیش تر بر نقش رسانه ها در امور داخلی متمرکز بود. این امر دلایلی داشت از جمله دسترسی نداشتن رسانه ها به اطلاعات در باره سیاست خارجی و بی علاقگی عموم نسبت به امور خارجی، توسعه نیافتگی فناوری رسانه ها، عدم تخصص گرایی رسانه ها در امور خارجی و این رسانه ها به عنوان نهادهای اجتماعی به اندازه ای که این رشته از امور بین الملل مورد توجه بودند. رشد نکرده بود ولی امروز اکثریت متخصصان موضوع به این نکته واقفند که «ارتباطات بین المللی تمام سیاست بین الملل را در بر می گیرد» در آن زمان تحقیق در باره روابط میان رسانه ها و سیاست خارجی بر دو موضوع مرتبط با هم متمرکز بود؛ یکی نفوذ رسانه ها بر افکار عامه و دیگری مطالعه ی انقلاب الکترونیک در ارتباطات. تأثیر رسانه ها بر افکار عمومی در سیاست خارجی یکی از ملاحظات اصلی محققان این رشته در طی آن سال ها بود. مطالعات زیادی از دهه ی ۱۹۶۰ میلادی به بعد در باره ی رسانه ها و سیاست خارجی انجام شد، در بسیاری از این تحقیقات به تأثیرات متقابل رسانه ها، دولت و ملت توجه شده است. در یک سوء طیف پژوهش گرانی معتقد بودند که رسانه ها همچون نگهبان ناظر و مستقل، شریک فعال یا سازمان دهنده می باشند. این تلقی توسط خود ژورنالستان و صاحبان رسانه ها و محققانی که روش مطالعه ی آنها کاربردی بوده ارائه شده است.

براین اساس، از رسانه های همگانی می توان به منظور ایجاد تغییرات مطلوب بهره برد. دراین نوع نگرش رسانه ها به مثابه ابزار احکام مورد استفاده واقع نمی شود، بلکه خود تأثیر گذاری عمیقی برسیاستگذاران و افکار عمومی خواهند داشت. این برداشت در باره ی رسانه ها بیش تر فرستنده-محور است. به این شکل رسانه ها خود کم ترین تأثیر پذیری را از سیاست گذاران داشته و نقش محرک را در بسیاری زمینه ها ایفا می کند.

از سوی دیگر محققانی وجود دارند که رسانه ها را هم چون اسیران بازی سیاست می پندارند و معتقد اند که قدرت سیاسی آنها را در اختیار دارند. که در این نگرش رسانه ها ابزاری به حمایت از طبقه حاکم و نخبگان سیاسی مقابل است.

و حتی برخی به این معتقد اند رسانه ها بخشی از یک مدل تبلیغاتی به شمار می روند که وظیفه دارند قربانیان را به دو دسته تقسیم کنند. قربانیان با ارزش و قربانیان بی ارزش؛ قربانیان با ارزش از ظلم و جوری که به آنها شده، باید پرده برداری شده، عامل قربانی شدن آنها را باید شناخت و به پنجه قانون سپرده و مجازات کرد. قربانیان بی ارزش را باید به گونه ای نمایشی تبلیغ نمود تا اذهان عمومی جهان برای اتخاذ سیاست های سخت و آهنین علیه دشمنان خود آماده کرد.

برنارد کوهن در سال ۱۹۶۰ میلادی در یک تحقیق، یک نظریه ی دو وجهی را مطرح کرد. به اعتقاد او روزنامه نگاران امور خارجی همزمان دارای دو نقش کلی هستند: یکی اطلاع رسانی به عموم و تشریع سیاست خارجی و دیگری مشارکت در روند سیاست خارجی از طریق تأیید و ترویج یا زیر سوال بردن و انتقاد از سیاست گذاران دولت. و همچنین دانشمند دیگری بنام مارتین واکر اظهار می دارد:«بیش تر دولت های جهان، سفارت خانه ها و مقام های شان درک خود از دنیا را از صافی روزنامه های مهم می گیرند».

**رسانه ها و دیپلماسی جدید:**

بعد از جنگ دوم جهانی با آغاز جنگ سرد، به تدریج دولت ها متوجه اهمیت رسانه های همگانی در تأثیر برافکار عمومی و همچنین کاربرد رسانه ها برای انتقال پیام های سیاسی شدند زیرا تعارضات ایدئولویک و اثبات برتری در این عرصه، گفتمان غالب بر فضای روابط بین الملل شد. دولت ها به تدریج با این حقیقت آشنا شدند که به منظور بقاء و ادامه حیات سیاسی و حضور فعال در عرصه روابط بین الملل ناگزیر به استفاده حد اکثری

از ظرفیت ها رسانه ای خود خواهند بود. روشن تر این که رسانه ها جایگزین سفارتخانه ها و در مواردی ابزاری کارآمد برای دیپلمات ها و رهبران سیاسی و در شرایطی مکانیسمی برای اعمال نظر و اعلام نظر دولت ها شده اند.
به عباره دیگر با پدیده ای بنام دیپلماسی رسانه ای مواجه شده ایم که در نوع خود در تاریخ بی سابقه است، زیرا رسانه ها جهانی به ویژه شبکه های ماهواره ای تصویری، رادیوی، انترنتی و آژانس های خبری در عمل کارهایی را انجام میدهند که وزارت امور خارجه و هیأت های دیپلماتیک به طریق سنتی به انجام آنها مبادرت می ورزیدند و حتی در اغلب موارد آنها به مراتب قوی تر، مؤثر تر و نیز کار آمد تر از نهادهای مذکورعمل می کنند. در حالیکه با گسترش شگفت آور رسانه ها در اقصی نقاط جهان، در عمل سفیر در حد ایفای نقش اجتماعی تنزل یافت است.
در دیپلماسی سنتی، سفرا و نمایندگان دولتی چندین زمینه مهم دیپلماسی را در اختیار داشتند؛ نمایندگی کشورهای خود، برقراری ارتباط با مقامات دولتی، مذاکره و انعقاد قراردادها، جمع آوری اطلاعات در باره کشورهای محل ماموریت و توصیه های لازم به سیاستمداران کشور خود، اما انقلاب ارتباطاتی و اطلاعاتی جایگاه و موقعیت سفیران را در تمام این چهار حوزه دچار فرسایش کرده است.
راس پرو کاندیدای ریاست جمهوری ایالات متحده، در سال ۱۹۹۲ میلادی در این رابطه میگوید:»سفارت خانه ها بقایای دوران کشتی های بادبانی است در این زمانی که هیچ ارتباط جهانی وجود نداشت، سفرا از جانب کشورهای خود صحبت می کردند. ولی اکنون با ارتباطات سریع در سرتاسر جهان، در وهله نخست در یک نقش اجتماعی قرار دارند». مایکل اونیل سردبیر سابق نیویورک دیلی نیوز هم با این نظر موافق بوده و بیان می کند: «با توجه به انقلاب ارتباطات و تکنالوژی جدید، جهان قدیم دیپلماسی رو به ویرانی نهاده است». در حقیقت، هم اکنونی سران دولت ها و وزرا به طور مستقیم (به طور سری یا آشکار) با یک دیگر مذاکره می کنند. مذاکرات آنها در وهله نخست از طریق ملاقات های رسمی و غیر رسمی و نیز از طریق ارتباطات جمعی و شخصی انجام می شود. علاوه برآن در بسیاری از بحران های اخیر پوشش تلویزیون جهانی جایگزین سفیران و متخصصان شده است و ارتباطات دیپلماتیک نمی تواند پا به پای شبکه تلویزیونی سی ان ان حرکت کند.

**نتیجه گیری:**

عصر کنونی عصر جهانی شدن، عصر ارتباطات و یا به عباره دیگر عصر رسانه های همگانی است، هر جامعه ای برای حفظ ارزش های خود یا برای برقراری ارتباط با جوامع دیگر، به ارتباطات نیازمند است تا که از کارکردهای مثبت آنها به منظور ارتقا و کارآیی خود بهره گیرند و منافع ملی خود را در سطح نظام بین الملل تعریف نموده و جایگاه خود را تثبیت نماید.
رسانه های همگانی نقش تعیین کننده ای در سیاست گذاری های ملی، فراملی و جهانی دارند از سوی هم در انتقال و آموزش پرورش و ترویج فرهنگ، افکار عامه نقش بارز را بازی می کنند.
امروز کشورهای قدرت مند جایگاه رسانه های همگانی را درک کردن و ارزش رسانه ها را بیشتر از هر زمان دیگر می دانند که بدون داشتن رسانه جهانی نمی تواند که جایگاه مناسب در سطح نظام بین الملل داشت.
و دیپلماسی رسانه را بهترین گزینه برای گفتگوها، منازعات، تبلیغات سیاسی، تبلیغات بازرگانی، ترویج فرهنگ، ترویج افکار جهانی در سطح سیاست خارجی شان می دانند.از همین رو سالانه میلیاردها دالر را صرف رسانه های همگانی مثل شبکه های ماهواره یی، تلویزیونی، رادیویی، آژانس های خبر، رسانه های چاپی پر تیراژ می نمایند و دیدگاه های شان را از طریق رسانه ها به خور جوامع بین المللی می دهند و در چنین رقابت های کشورهای بزرگ نسبت به همه پیشتاز اند.

منابع:

۱- رنجبر، وحید (۱۳۹٤) نقش شبکه الجزیزه در دیپلوماسی قطر؛ فصلنامه عملی پژوهشی سیاست خارجی شماره (۱).
۲- حسینی، عبدالرضا (۱۳۹۳).نقش رسانه های جهانی در سیاست خارجی امریکا پس از ۱۱ سپتامبر؛ مجله سیاست دفاعی سال دوم شماره (۷۸).
۳- دهقان، علی رضا (۱۳۷۸) بررسی تأثیر رسانه ها به افکار عمومی؛ فصلنامه علوم اجتماعی شماره (۱۸).

# اطلاعاتو ته لاسرسی؛ خبریالان او ستونزې!

نعمت الله عزیزي، د پوهنتون استاذ او د ګهیځ ټولنې غړی

اطلاعاتو ته لاسرسی بشري حق، د اغېزمن ژوند او سمو پرېکړو کولو او د پوهې ترلاسه کولو بنسټیز عنصر دی. انسانانو دې حق ته د رسېدو لپاره سختې ستونزې ګاللې او لا هم دا لړۍ دوام لري، آن په ۲۱ مه پېړۍ (د اړیکو پېر) کې هم انسانان په دې تړاو له خورا ستونزو سره مخ دي او هڅه کوي د یوه طبیعي او بشري حق په توګه یې په دیکتاتورو نظامونو او واکمنو ومني.

الله -جل جلاله- انسان یو پلټونکی او د هر څه په هکله د پوهېدو لپاره هڅه کوونکی مخلوق پیدا کړی او د پوهې ترلاسه کولو امر یې ورته کړی، خو اطلاعاتو او معلوماتو ته نه لاسرسی یې پر وړاندې ستر خنډ دی، ځکه اطلاعاتو ته لاسرسی د پوهې بنسټ او د الله پاک د دې امر د عملي کولو بنسټیز اصل ګڼل کېږي.

**اطلاعات څه دي؟**

معنا لرونکي او تنظیم شوي معلومات اطلاعات بلل کېږي. یا په لنډ ډول که وواېو د مشخصې موضوع په اړه تنظیم او ترتیب شویو معلوماتو ته اطلاعات ویل کېږي.

همدارنګه اطلاعاتو ته د لاسرسي قانون په دریمه ماده کې: «هر ډول ضبط شوي یا ثبت شوي، لیکل شوي، انځوریز، غږیز، نمونه یا موډل سند او معلومات اطلاعات بلل شوي دي.»

**په نړیوالو او ملي قوانینو کې اطلاعاتو ته لاسرسی:**

لکه څنګه مو چې اطلاعاتو ته لاسرسی بشري حق، د پوهې د ترلاسه کولو او د الله پاک د امر د عملي کولو بنسټیز عنصر وبللو، په دې برخه کې څېړو چې نړیوالو او ملي قوانینو دې حق ته په کومه سترګه کتلي دي.

اطلاعاتو ته لاسرسی د نړیوالو قانوني اسنادو په ځانګړي ډول د بشري حقونو د نړیوالې اعلامیې په ۱۹ ماده او همدارنګه د مدني او سیاسي حقونو د نړیوالو میثاق په ۱۹ مه ماده کې



د انساني حقونو له ډلې ګڼل شوي او ملاتړ یې شوی دی.

د دې تر څنګ په ۲۰۱۵ زېږدیز کال کې د یونسکو عمومي کنفرانس کې د سپټمبر ۲۸ مه، اطلاعاتو ته د لاسرسي د نړیوالې ورځې په توګه اعلان شوه، چې هر کال د نړۍ په ګڼو هېوادونو کې په دې هکله د شته ستونزو په شننه او ارزونې سره، دا ورځ نمانځل کېږي.

له نېکمرغه د افغانستان د اساسي قانون په ۵۰ ماده کې هم، اطلاعاتو ته لاسرسی د افغانانو قانوني حق پېژندل

شـوی دی.
«د افغانستان اتباع حق لري د قانون د حکمونو په حدودو کې له دولتي ادارو څخه اطلاعات ترلاسه کړي. دا حق د نورو حقونو او عامه امنيت ته له زيان رسولو پرته، حدود نه لري.» (د اساسي قانون ۵۰ مه ماده)

د دې تر څنګ د افغانستان د ټوليزو رسنيو قانون په پنځمه ماده کې هم دا حق په رسميت پېژندل شوی او دولتي اداري مکلفې شوې چې غوښتل شوي اطلاعات د هېوادوالو په واک کې ورکړي.

له دې سربېره په افغانستان کې اطلاعاتو ته د لاسرسي ځانګړی قانون د ۱۳۹۳ لمريز کال د تلې په ۲۶ مه په ٦ څپرکو او ۳۲ مادو کې تصويب او د ولسمشر له خوا توشيح شوی دی. ترڅو په دې هکله شته ستونزې کمې او اطلاعاتو



ته د لاسرسي حق د قانون په چوکاټ کې لا ښه تنظيم شي. چې له نېکمرغه دا قانون د محتوا او اطلاعاتو ته د لاسرسي د آسانتيا په هکله د نړۍ او سيمې له ډېری هېوادونو غوره بلل کېږي او تېر (۱۳۹۷) لمريز کال د کاناډا د حقوقو او ډېموکراسۍ مرکز چې په نړۍ کې اطلاعاتو ته د لاسرسي چارې ارزوي، دغه قانون د نړۍ په کچه مخکښ او تر ټولو غوره قانون وبللو.

**په عملي ډګر کې خنډونه او ستونزې:**

په داسې حال کې چې اطلاعاتو ته لاسرسی بشري حق او په افغانستان کې هم د قانون له مخې يو پېژندل شوی حق ګڼل کېږي، خو په عملي ډګر کې په دې برخه کې ستونزې لا پر خپل ځای دي او اطلاعاتو ته لاسرسی لا هم د ځينو له خوا د قانوني حق په توګه نه پېژندل کېږي.

خبريالان چې د ټولنې د سترګو حيثيت لري او اطلاع رسونه يې يوه له مهمو دندو ګڼل کېږي په دې برخه کې له خورا ستونزو سره لاس او ګرېوان دي، په داسې حال کې چې دا قانون اطلاعاتو ته پر وخت د لاسرسي لپاره نافذ شوی دی، خو دولتي اداري او مسؤول چارواکي تل په دې هکله ستونزې لري او خبريالانو ته پر وخت اطلاعات نه ورکوي.

سره له دې چې د دې قانون د اتمې مادې په دوهمه برخه کې اداري مکلفې شوي دي چې خبريالانو او رسنيو ته ژر تر ژره يا حد اکثر د يوې کاري ورځې په ترڅ کې غوښتل شوي اطلاعات ورکړي، خو ډېر وخت په خپله ويندويانو او د اطلاع رسونې چارواکو ته هم لاسرسی نه کېږي او پر وخت نه موندل کېږي، له لاسرسي وروسته هم کوم اطلاعات يې چې خوښه شي له خبريالانو سره شريکوي او کوم يې چې خوښه نه وي، خبريالان د مياشتو په انتظار سره هم ورته لاسرسی نه لري. آن تر دې چې له رسنيو او خبريالانو سره دوه ګونی (مور او ميرې) چلند کوي له ځينو رسنيو او خبريالانو سره اطلاعات شريکوي او له ځينو سره آن خبرو کولو ته هم نه حاضرېږي.

خو د څېړنيزو خبريالانو پر وړاندې ستونزې بيا څو چنده دي، ځکه مسؤول چارواکي فکر کوي چې څېړنيز خبريالان يې د فساد، بډو، اختلاس او... په هکله راپور چمتو کوي، نو په دې اساس تر ډېره هڅه کېږي چې اطلاعات پټ پاتې شي او خبريال تېرايستل شي، د دې لامل هم په فساد کې د چارواکو ښکيلتيا ده چې ځينې راپورونه او د خبريالانو تجربې هم د همدې خبرې ګواهي ورکوي.

کله مې چې د يوه رسنيزې اداري سره د څېړنيز خبريال په توګه کار کولو، اطلاعاتو ته د لاسرسي په هکله دې پايلې ته ورسېدم چې په افغانستان کې د هر څه قانوني کېدو لاره ډېره اوږده ده او لا ډېر کار ته اړتيا شته چې لږ تر لږه له قوانينو خپله چارواکي او قانون پلي کوونکي خبر شي.

د بېلګې په توګه کله مې چې په هېواد کې د بې کارۍ د وضعيت په هکله راپور جوړولو له اړوندو چارواکو مې معلومات وغوښتل، هغوی هڅه کوله چې شته اطلاعات پټ کړي کله مې چې د قانون يادونه وکړه وايي: (قانون مانون پرېږده ته بايد رسمي مکتوب ولرې مونږ څه پوهېږو چې دا معلومات څه کوې مونږ هم مسؤوليت لرو...)

که له يوې خوا خبريالان پر وخت اطلاعاتو ته لاسرسی نه

لري او په دې برخه کې له قانون څخه د چارواکو ناخبري او قانون ته نه ژمنتیا سترې ستونزې ګڼل کېږي، نو له بلې خوا د مسؤولو چارواکو نه دقت هم ستره ستونزه ده او ډېر وخت ناکره معلومات رسنیو او خبریالانو ته ورکوي چې بیا رسنۍ او خبریالان هم تر نیوکو لاندې راځي.

د بېلګې په توګه د سرک جوړونې د یوې سترې پروژې په هکله مې د اړوندې دولتي ادارې څخه د اطلاعاتو غوښتنه وکړه چې د قانون خلاف د څو اونیو انتظار وروسته ناکره او له دقت لرې معلومات راته واستول شول چې په ترڅ کې یې د یادې پروژې د سرک اوږدوالی چې ۷۰۵ کیلومترو په شاوخوا کې ؤ، ۳۶۰ کیلومتره ښودل شوی ؤ او د بیا بیا ژمنو سره سره یې سم او کره اطلاعات را سره شریک نه کړل.

دا کوچنۍ بېلګې دي چې یادونه یې وشوه، افغان خبریالان له ډېرو داسې ستونزو سره مخ دي چې ډېر کله یې ویل ناشوني وي او دا چې هره شېبه له نا مناسب چلند، توهین، تحقیر، وهلو ډبلو، د وسایلو ماتولو او آن د مرګ له ګواښ سره مخ دي او هېڅ ډول خوندیتوب نه لري، په هکله یې ډېر څه لیکل شوي چې بیا یادونه یې مناسبه نه ګڼم.

د افغانستان د بشري حقونو خپلواک کمېسیون د ۱۳۹۷ لمریز کال په لومړیو کې (په افغانستان کې د بیان د آزادۍ حق ته د لاسرسي) تر سرلیک لاندې یوه سروې ترسره کړه چې ښکاروي نږدې ۱۰ سلنه مرکه کوونکو ویلي دي چې له ادارو څخه اطلاعاتو ته لاسرسی نا ممکنه ده.

همدارنګه ۴۳.۷ سلنه خلکو ویلي چې اطلاعاتو ته لاسرسی محدود او تر کنټرول لاندې دی، نږدې ۳۱ سلنه خلکو بیا ویلي چې اطلاعاتو ته لاسرسی ډېر ستونزمن او پروسه یې اوږده ده او یوازې ۱۴.۳ سلنه خلکو ویلي چې اطلاعاتو ته لاسرسی آسانه او له کومې ستونزې سره مخ نه دي.

دا شمېرې هیښوونکې ځکه دي چې اطلاعاتو ته د لاسرسي د قانون د نافذېدلو څخه ۵ کاله وروسته هم یوازې ۱۴.۳- سلنه خلک اطلاعاتو ته د لاسرسي په هکله د ستونزو یادونه نه کوي، خو پر وړاند یې نږدې ۷۵ سلنه د ستونزو او محدودیتونو یادونه کوي او پاتې نږدې ۱۰ سلنه لا هم په دې باور دي چې له دولتي ادارو څخه اطلاعات ترلاسه کول نا ممکن دي.

**څه باید وشي؟:**

سره له دې چې اطلاعاتو ته د لاسرسي کمېسیون، د خبریالانو او رسنیو څخه د ملاتړ بېلابېلې ټولنې او د رسنیو او حکومت ګډه کمېټه د خبریالانو څخه د ملاتړ، شته ستونزو ته د رسېدنې او اطلاعاتو ته لاسرسي د چارو د ښه تنظیم په موخه فعالیت کوي او په ډېری برخو کې یې کړنې د ستاینې وړ هم دي، خو لکه څنګه مو چې مخکې اشاره وکړه په دولتي ادارو کې د دې قانون څخه آن د رئیسانو تر کچې مامورین خبر نه لري او ځان ورته ژمن نه ګڼي، ټیټ پوړي خو آن ورته د کوم سند په سترګه هم نه ګوري، نو دې وضعیت ته په کتو سره باید د حل لارې ولټول شي.

زما په باور د اطلاعاتو ته د لاسرسي د کمېسیون مکلفیت او دنده ده چې د دې قانون په هکله لومړی په دولتي ادارو کې د عامه پوهاوي پروګرامونه جوړ کړي او بیا د ټولیزو او ټولنیزو رسنیو له لارې دا پروګرامونه پراخ کړي او همدارنګه لکه څنګه چې د دې قانون د دولسمې مادې پر بنسټ اداري مکلفې دي چې د اطلاع رسونې مسؤولې مراجع او ځانګړي کارکوونکوي ولري- نو دا مراجع او چارواکي باید د خپلې اړوندې اداري مامورینو ته د دې قانون په هکله عامه پوهاوی ورکړي چې دا کار په ډېرې آسانۍ سره د روزنیزو ورکشاپونو له لارې د عملي کېدو وړ دی په داسې حال کې چې ډېری دولتي اداري آن د دې قانون څخه خبر نه لري.

**مأخذونه:**

۱- د عدلیې وزارت.(۱۳۸٦) د ټولیزو رسنیو قانون. کابل: عدلیه وزارت.
۲- د عدلیې وزارت. (۱۳۹۳) اطلاعاتو ته د لاسرسي قانون. کابل: عدلیه وزارت
۳- د عدلیې وزارت. (۱۳۸۲) اساسي قانون. کابل: عدلیه وزارت
۴- د ملګرو ملتونو سازمان. (۱۹٦٦ز) د مدني او سیاسي حقونو میثاق. د ملګرو ملتونو سازمان عمومي غونډه.
۵- د ملګرو ملتونو سازمان. (۱۹۴۸ز) د بشري حقونو نړیواله اعلامیه. پاریس: د ملګرو ملتونو سازمان عمومي غونډه.
٦- د بشري حقونو خپلواک کمېسیون. (۱۳۹۷) په افغانستان کې د بیان آزادۍ حق ته لاسرسی. کابل: د بشري حقونو خپلواک کمېسیون دفتر.
۷- د یونسکو سازمان. (۲۰۱۵ز) اطلاعاتو ته د لاسرسي نړیواله ورځ نومول/ د غونډې راپور. پاریس د یونسکو سازمان عمومي غونډه.
۸- خپلې تجربې (د خبریالۍ ۸ کلن کار شخصي تجربې.)

# په تېرو دوه لسيزو کې د اسلامي رسنيو ونډه

عبدالظاهر حميدي، د ګهيځ ټولنې پخواني رئيس

په افغانستان کې د امريکايانو له راتګ سره سم په هېواد کې د رسنيو بازار ګرم شو. د دولتي رسنيو ترڅنګ، ګڼ شمېر نادولتي او شخصي رسنيو په کار پيل وکړ. اوس مهال په ټول افغانستان کې بې شمېره ټلويزوني او راډيويي چېنلونه، چاپي نشريات او انټرنټي سايټونه له دولت سره ثبت شوي او په کار بوخت دي.رسنۍ سره له دې چې د عامه خپراوي تر ټولو اغېزمنه وسيله ده او د ټولنيز بدلون په راوستلو کې لوی لاس لري، خو په افغاني ټولنه يې مثبتې اغېزې ډېرې کمې دي. يوه مثبته اغېزه يې دا کېدی شي چې خلک د بېلا بېلو مسايلو، اشخاصو او ادارو په اړه هر ډول موافق يا مخالف نظر ښکاره کولو کې تر پخوا ډېره په آزادي سره بيانولی شي. د رسنۍ موخې او اهداف دا دی چې د ټولنې رښتينی کلتور او ارزښتونه په ټولنه کې خپاره کړي. متأسفانه افغاني رسنۍ د دې پر ځای چې افغاني اخلاق عام کړي، ډېری يې بې بندوباري، کورنۍ شخړو، قوم پالنې، سمت پالنې او ژبني تعصب ته لمن وهلې.په افغانستان کې اوس مهال هر څوک کولی شي له هر ډول خنډ پرته يوه رسنۍ پرانيزي.

په ټلويزيوني برخه کې اوس په کليو او بانډو کې د ځايي ټلويزيوني خپرونو ځای سټلايټ او ډېش آنتن نيولی او هره کورنۍ تر يوه زيات سټلايټي چېنلونو ته لاس رسی لري، متأسفانه د افغانستان حکومت تر اوسه په دې هکله کومه مشخصه لايحه نه لري، په داسې حال کې چې د سټلايت او ډېش آنتن په خپرونو کې ټول چېنلونه خلاص دي او د هر سټلايټ ليدونکي کولی شي هر رنګه خپرونې وګوري چې دا په ديني، ټولنيز او کلتوري لحاظ بله ستونزه ده او د ټولنې په تېره بيا د ځوان کهول په اخلاقي ضعف کې عمده رول لوبوي.

که دا ډول رسنۍ او دغه ډول خپرونې روانې وي او په اساسي شکل يې مخنيوی ونه شي د افغانستان راتلونکی نسل او اخلاقي ناخوالې به ورځ تر بلې ډېرې او ستونزې به لا ډېرې شي. بل اړخ ته متأسفانه دلته داسې اسلامي او ملي چېنلونه هم نشته چې ددې ناوړه خپرونو بديل وګرځي او په دې توګه ولس مو د تفريح او پوهاوي ترڅنګ خپل ملي او اسلامي ارزښتونو ته ژمن وروزل شي.

کاش چې د ټولنې هر يو ديني مشر يوه ديني رسنۍ درلوداى.او دديني ارزښتونو په خپراوي کې ونډه اخيستې واى .په ټولنه کې د بديل په توګه د اسلامي رسنيو د نشتوالي يا کموالي له کبله ډېری له ستونزو سره مخامخ دي يا به ددې موجوده رسنيو نه ګټه اخلي يا به بهرنيو رسنيو لور ته مخه کوي، چې په دې توګه له بلا ستونزو سره لاس او ګرېوان دي.

**د اسلامي رسنيو ځانګړتياوې:**

د اسلامي رسنيو ځانګړتياوې کومې دي او څرنګه کولی شو معياري اسلامي رسنۍ ولرو او تر کومه زمونږ رسنۍ اسلامي دي؛ دې موضوع ته په لاندې ټکو کې اشاره کوو .

**۱: خلکو ته د حقايقو روښانه کول**

د اسلامي رسنيو يو عمده هدف د ټولنې وګړو ته د رښتينو معلوماتو وړاندې کول او همدارنګه ټولنه په هر ډول سختو شرايطو کې سمې لارې ته برابرول دي.

خلک ملي وحدت او يووالي ته رابولي او هم د ملي ګټو لپاره کار کوي. او همدا د ژورنالېزم مهم اصل دی چې رسنۍ يې بايد په همدې چوکاټ کې مراعت کړي، خو بدبختانه ځينې بيا د ملي وحدت پر ځای د نفاق اور ته پکې وهي او سمتي او قومي تعصباتو ته لمن وهل کېږي.

**۲: د اخلاقي فساد مخنيوی**

اسلامي رسنۍ په دې هڅه کې دي، چې په ټولنه کې اسلامي او ټولنيز اخلاق خپاره کړي او د بدو اخلاقو مخنيوي کې برخه واخلي او دا تر ټولو ستره دنده ده چې رسنۍ يې پرمخ بيايي. همدارنګه د کورنيو مشران دې ته وهڅوي تر څو د خپلو اولادونو په اصلاح او سالمه روزنه کې مهم رول ولوبوي او هغوی خپلو مسؤوليتونو ته متوجه کړي.

**۳: د حق او باطل ترمنځ فرق کول**

د اسلامي رسنيو يوه بله موخه او هدف د ظالم څخه د

مظلوم د حق غوښتل، خلکو ته د رښتینو معلوماتو وړاندې کول دي او همدارنګه د خلکو په منځ کې د ژوندانه د ټولو چارو په تړاو د عدل او انصاف د پلي کولو لپاره هڅه د اسلامي رسنیو له مهمو اهدافو څخه دي، په دې برخه کې هم ډېر کار ته اړتیا شته؛ که څه هم دلته د بیان د آزادۍ خبرې ډېرې کېږي اما بیا هم د اداري او نظام د مشکلاتو څخه یو دادی چې دلته تر اوسه هم زور حاکم دی او د باطل پلویان نسبت د حق پلویانو ته ډېر دي او په داسې ټولنه کې کار کول هم ډېرې ستونزې لري.

**۴: د لویدیځ د کلتوري یرغل مخنیوی**

د اسلامي رسنیو له شرعي اهدافو څخه یو هم د غربي استعمارګرو او ښکېلاکګرو له لوري پر اسلامي هېوادونو د فرهنګي یرغل مخنیوی دی.

بهرنیان غواړي چې خپل غربي فرهنګ په اسلامي ټولنو کې د اسلامي ارزښتونو پر وړاندې وکاروي او په دې ډول، په اسلامي هېوادونو کې هغه غربي فرهنګ دود کړي چې تر ډېره بریده له اسلامي احکامو او وطني ارزښتونو سره سر نه لګوي. بهرنیان او لویدیځ وال په اسلامي هېوادو کې د خپل کلتور او فرهنګ د دودولو په موخه تر ډېره بریده له رسنیو کار اخلي او ځینې مخصوصې مجلې، اخبارونه، ټلوېزیونونه او د راډیو چینلونه دي چې د لویدیز والو د اهدافو پلي کولو لپاره کار کوي تر څو اسلامي ټولنې فاسدې کړي، نو ددې په مقابل کې د اسلامي رسنیو دنده او وظیفه داده،تر څو د لویدیز والو د فکري او فرهنګي یرغل په وړاندې په ولسونو کې وېښتیا را منځ ته کړي، د لویدیز والو توطیې بر بنډې کړي او په مقابل کې یې داسې اسلامي او وطني خپرونې جوړې او خپرې کړي، چې ددغو مبتذلو خپرونو ښه بدیل و ګڼل شي.

**۵: د مسلمانانو تر منځ د وروروليٰ فضا جوړول**

د اسلامي رسنیو بل هدف دا دی، چې د مسلمانانو تر منځ ورورولي را منځته ته شي او همدارنګه تعصبات له منځه لاړشي، په دې هکله هم دین او وطن ته ژمنو رسنیو په هېواد کې د ورووليٰ فضا د را منځ ته کېدو لپاره کار کړی دی او اوس هم د خپلې ژمنې سره سره په کار لګیا دي. په داسې حال کې چې ډېرې پردۍ رسنۍ دا کوښښ هم کوي چې د بې اتفاقۍ تخم دلته وشیندي او د نورو برنامې عملي کړي، خو چې ددې مخه هم تر ډېره نیول شوې ده.

٦: د الله –جل جلاله- د دین لوري ته بلنه

د اسلامي رسنۍ رسالت او وجیبه دا ده چې د خلکو په منځ کې د الله تعالی د دین لورته بلنه عامه کړي، د دیني ارزښتونو د ساتنې او پالنې په اړه مثبت ذهنیت رامنځته کړي تر څو د امت ځوانان په ذهني لحاظ د دین د ارزښتونو په اهمیت خبر او د ساتلو لپاره یې لاړې چارې وسنجوي. الحمد لله زمونږ په ملک کې په شمېر کمو اسلامي رسنیو دا دنده هم تر یوه حده ښه سرته رسولې او نن ګورو چې ډېری خلک د اسلامي ارزښتونو په اهمیت پوه دي او هغو ته پاملرنه یې د ژوند لومړیتوب ګرځولی او دا یو مثبته اغېزه ده.

**په تېرو دوه لسیزو کې د اسلامي رسنیو ونډه:**

متأسفانه په افغانستان د اسلامي رسنیو کار له هغه وخت نه سم پیل نشو چې کله دلته د بهرنیانو په مرسته د رسنیو بازار ګرم شو، په لومړي سر کې دلته بله ستونزه دا وه چې هر اسلامي کار او هرې اسلامي رسنۍ ته د طالبانو او القاعدې په سترګه کتل کېدل، له همدې امله هم چا ډېر زړه نشو ښه کولای چې دلته دې د یوې اسلامي رسنۍ بنسټ کېږدي.

خو د الله په فضل، په کرار کرار دا مسایل حل شول تر دې چې په کابل ښار کې د اصلاح غږ تر نامه لاندې لومړنۍ راډیویي اسلامي خپرونې پیل شوې، څه موده وروسته بیا د تمدن او دعوت راډیو او ټلویزیون خپرونې پیل شوې او بیا د عالم په نامه راډیو خپل نشرات پیل کړل، دې کار د کابل پر رسنیزه فضا داسې تأثیر وکړ چې د خلکو د دلچسپۍ له امله نورو رسنیو هم د اسلامي برنامو خواته مخه وکړه او نن ګورو چې په ډېرو رسنیو کې اسلامي او دیني خپرونې موجودې دي او خلک ترې نه استفاده کوي، اما ددې سره سره باید ووایو چې متأسفانه مونږ تر اوسه هم پیاوړې اسلامي رسنۍ نه لرو، ممکن مونږ دلته یوازې د همدې څو رسنیو په کړنو خبرې وکړو:

**په کابل ښار کې اسلامي ټلویزیونونه او راډیو ګانې:**

**نور ټلویزیون:**

نور تلویزیون؛ په ۱۳۸٦ لمریز کال د صلاح الدین رباني لخوا چې د مرحوم استاذ برهان الدین رباني زوی دی جوړ شو، دا ټلویزیون ۲۴ ساعته نشرات لري چې په کابل، بلخ، هرات، ننګرهار، قندهار، کندز او بامیان کې لیدل کېږي نور ټلویزیون؛ د صاحب امتیاز له لوري تمویلېږي. دوی وایي چې مونږ لومړنی اسلامي سني ټلویزیون یو چې د اسلام د مبین دین د اصولو پربنا او د اهل سنت والجماعت د منهج مطابق خپرونې لرو موقعیت یې کابل ښار کې دی.

**تمدن ټلویزیون:**

تمدن ټلویزیون؛ د پخواني جهادي او اوسني روحاني مشر مرحوم آیت الله محمد آصف محسني لخوا په ۱۳۸۷ کال کې جوړ شوی دی، دا ټلویزیون هم ۲۴ ساعته خپرونې لري د افغانستان په شمول په آسیا، شمالي افریقا او جنوبي استرلیا کې هم لیدل کېږي دا ټلویزیون د مؤسس

او سوداګرو لـه لـوري تمویـل کېږي دا یـوه دینـي او اسلامي رسنۍ ده چې ډېـر فقهـي مسایل یې د اهـل تشیع د فقهې پـر بنـا دي، همدارنګـه د دینـي او اسـلامي خپرونـو ترڅنـګ سیاسي برنامې هـم لـري.

**دعوت ټلویزیون:**

دعـوت ټلویزیـون؛ د جهـادي رهبـر اسـتاذ عبدالـرب رسـول سـیاف لـه خـوا پـه ۱۳۸۹ کال کـې جـوړ شـوی، دا ټلویزیـون شـپږ سـاعته نـشرات لـري چـې د سـهار لـه ٦ بجـو د غرمـې تـر ۱۱او ۳۰ دقیقـو پـورې پـه یـوه پـړاو کـې او بیـا د مازیګـر لـه ٥ او۳۰ پیـل تـر ۱۱ بجـو د شـپې پـه بـل پـړاو کـې دوام لـري، د پوښـښ سـاحه یـې د کابـل ښـار دی .تمویـل یـې د مؤسـس لـه خـوا تـرسره کېـږي دا هـم یـو اسـلامي او دینـي ټلویزیـون دی. دې ټلویزیـون کـې موسـیقي نـه خپرېـږي پرځـای یـې جهـادي او اسلامي ترانـې نشرتـه سـپارل کېـږي.

**اصلاح غږ راډیو:**

د اصـلاح غـږ راډیـو fm ۱۰٤,۳ یـوه اسـلامي او دینـي راډیـو ده چـې د هېـواد پـه مرکـز کابـل، بلـخ، کنـدز او پـه ختیـځ کـې خپرونـې لـري. دا راډیـو د جمعیـت اصـلاح افغانسـتان لـه خـوا پـه ۱۳۸۷ لمریـز کال کـې پـه کابـل کـې فعالـه شـوه ١٦ سـاعته نـشرات لـري چـې د سـهار لـه پنځـو د شـپې تـر لسـو بجـو خپرېـږي تمویـل یـې د مؤسـس او د اهـل خیـر او سـوداګرو لـه خـوا تـرسره کېـږي پوښـښ سـاحه یـې کابـل او د کابـل څلـور اړخونـو تـه تـر ٥٠ کلیـو متـره پـورې شـاوخوا سـیمې دي.



**عالم راډیو :**

عـالم راډیـو پـه ۱۳۸۹ لمریـز کال کـې د هغـه وخـت د مخابراتـو وزارت د معلومـاتي ټکنالـوژۍ معیـن ښـاغلي ایمـل مرجـان لخـوا جـوړه شـوه، دا راډیـو چـې اسـلامي خپرونـې خپـروي پـه ورځ کـې ۱۸ سـاعته نـشرات لـري او پوښـښ سـاحه یـې د کابـل پـه شـمول کاپیسـا، پـروان، میـدان وردګ او د لوګـر ځینـې سـیمې دي د عـالم راډیـو مصـارف د مؤسـس لـه لـوري او د اعلاناتـو لـه درکـه تـرسره کېـږي او ټولـې خپرونـې یـې اسـلامي او دینـي دي.

**دعوت راډیو:**

دعـوت راډیـو د دعـوت ټلویزیـون مربـوط ده او ډېـرې خپرونـې یـې لـه ټلویزیـوني چینـل څخـه اخیسـتل کېـږي او د ټلویزیـون سره همهالـه پیـل شـوې ده د پوښـښ سـاحه یـې هـم د کابـل ښـار شـا او خـوا سـیمې دي.

**وړاندیزونه:**

- داچـې د افغانسـتان نهـه نـوي سـلنه وګـړي مسـلمانان دي، نـو د افغانسـان اسـلامي جمهوریـت دې د اسـلامي راډیـو ګانـو پـه رشـد کـې کوټلـي ګامونـه واخلـي.
- د افغانسـتان اسـلامي جمهوریـت دې د ټولـو اسـلامي رسـنیو د جوازونـو مصـارف او مالیـه معـاف کـړي او پـه وړیـا ډول دې هرڅـه دوی تـه پـه واک کـې ورکـړي.
- د اطلاعاتـو او کلتـور وزارت دې پـه ټولـو رسـنیو بانـدې ٥٠ سلنه نـشرات اسلامي کـړي دا پـه دې خاطـر چـې ددې ملـک نهـه نـوي سـلنه وګـړي مسـلمانان دي.
- د اسلامي رسـنیو ترمنـځ دې بایـد پخـې خپـل منځـي اړیکـې او ګـډه همغـږي ایجـاد شي تـر څـو د افکـارو او خپرندویـه مـوادو پـه راکـړه ورکـړه کـې یـې آسـانتیا رامنـځ تـه شي او پـه دې توګـه خلکـو تـه د اسـلامي دیـن پیغـام پـه مؤثـره او اغېزناکـه بڼـه ورسـېږي.

**پایله:**

بایـد صادقانـه اعـتراف وکـړو چـې مونـږ پـه تېـرو دوو لسـیزو کـې داسـې مـلي او اسلامي رسـنۍ چـې واقعـا زمونـږ د هېـواد حالاتـو او اړتیـاو تـه پـه کتـو د خپلـو تولیداتـو څخـه داسـې برنامـې وړانـدې کـړي چـې ولـس مـو یـو موټـی او متحـد وګرځـوي، ولـس تـه سـم پوهـاوی ورکـړي، د خلکـو ترمنـځ یوالـی راولي، د مـلي فرهنـګ لپـاره ګټـور ګامونـه واخـلي او پـه ټولنـه کـې اسـلامي اخـلاق او اسـلامي ارزښـتونه خپـاره کـړي، نفرتونـه او دښـمنۍ لـه منځـه یـوسي او د ولـس دردونـو تـه دوا شي، نـه لـرو او پـه دې مـوده کـې بدبختانـه دا کار نـه دی شـوی. پـه داسـې حـال کـې چـې پـه تېـرو دوو لسـیزو کـې زمونـږ پـه هېـواد کـې اکثـره رسـنۍ د پردیـو لـه خـوا تمویلېـږي او د ټولنـې د دینـي ارزښـتونو د سـاتنې پـر ځـای یـې متأسـفانه لـه اسـلامي اصولـو او اسـلامي ارزښـتونو سره دښـمني کـړې ده، ددې سره سره اسـلامي رسـنیو هـم تـر یـوه بریـده خپـل مسـؤولیت اداء کـړی او کـه دا هـم نـه وای ممکـن حالـت تـر دې هـم بدتـر شـوی وای او نـن چـې پـه هېـواد کـې کـوم اسـلامي فعالیتونـه او د مـلي هویـت ننـداره تـر نظـره راځـي هغـه هـم یـوازې د همـدې اسـلامي رسـنیو د کار او هڅـو پایلـه ګڼـل کېـدای شي.

مأخذونه:
۱- درآمدی برعلم دعوت د. محمد ابو الفتح البیانونی.
۲- المدخل الی الاعلام الاسلامي ــ عبدالعزیز شرف.
۳- النظرة الاسلامیة للاعلام ــ محمد کمال امام.
٤- ګڼ شمېر مختلف وبسایټونه.

# چطور می توان یک نویسنده شد؟

بسم الله ذکی

**مقدمه**

برای اینکه اهمیت نوشتن در ذهن خواننده برجسته تر شود، بحث را با طرح دو سوال شروع می کنیم، چرا در مورد ما قبل التاریخ (دوره که هنوز خط اختراع نشده بود) ما هیچ اطلاع نداریم؟ اگر اندک اطلاعات هم موجود است، آن هم آمیخته با افسانه ها می باشد، چون زیاد تر آن اطلاعات با استفاده از نشانه های به جا مانده از آن روزگار است. جواب خیلی واضح است، چون در آن زمان خط نبود که بشر علم و دانش و اوضاع و احوال روزگار خویش در دفترچه ها به ثبت برساند.

سوال دیگر این است که اگر امروز مردم به نوشتن و خواندن بلد نمی بودند، چه واقع می گردید؟ پاسخ این سوال نیز می تواند واضح و آفتابی باشد؛ بشر هرگز نمی توانست به این جایگاهی که قرار دارد برسد، نه علم و دانشی به این وسعت و پیمانه وجود می داشت و نه هم تخنیک و تکنالوژی به این حد رشد می کرد... از جواب دادن به سوالات فوق به جایگاه نوشتن در زندگی انسان ها پی می بریم، که جایگاهی بزرگی است.

با وجود که اهمیت نوشتن به این حد و پیمانه است، متأسفانه در کشور ما به این امر مهم کمتر توجه صورت می گیرد. طوری که از میان جامعه (به اساس تخمین ها) سی و پنج میلیونی ما، کمتر کسانی پیدا می شوند که نویسنده خوبی بوده و خوب نوشتن را بلد باشند.

جوانان که از مکتب و پوهنتون فارغ می شوند، در بیشتر موارد، حتی نوشتن و خواندن را بلد نمی باشند، چه رسد به اینکه درست بنویسند و روان بخوانند، که این می تواند برای یک ملت و یک کشور فاجعه باشد ... اگر تمام بدبختی های کشور ما از عدم درست نویسی و درست خوانی منشاء نگیرد، به یقین که یک قسمت از این نابسامانی ها ریشه در عدم درست نوشتن و درست خواندن دارد. چون بدون درست خوانی و درست نویسی علم نمی تواند آموخته شود و انکشاف نماید.

با وجود نارسایی های ملی در مورد درست نوشتن و درست خواندن، استادان و نویسندگان بزرگواری نیز وجود دارند که با استفاده از امکانات محدود شان در این راه با نوشتن کتاب های مفید، برگزاری سیمینارها و کورس ها ... گام های استوار و متینی را برداشته اند.

درست نوشتن یا به اصطلاح دیگر نویسنده شدن، یک امری است یاد گرفتنی. همانند هنرهای دیگری که می توانیم آن را با تمرین و تمرین و تمرین یاد بگیریم، مشروط بر اینکه حوصله نوشتن را به طور مداوم داشته باشیم.

**تصمیم گیری:**

هر کاری بزرگ بشری دنیا در نخست از یک تصمیم آغاز شده است، اگر آن شگافتن دل اتوم باشد و یا اینکه رفتن به کره ماه ... بزرگترین نویسند گان و نخبگان حرفه نویسندگی نیز کارهای شان از تصمیم برای نویسنده شدن آغاز کرده اند. از اینکه تصمیم گیری نخستین گام است در راستای نویسندگی؛ کسانیکه می خواهند نویسنده شوند، ناچار اند که تصمیم بگیرند که نویسنده می شوند.

تصمیم گیری دو نوع است: یکی اینکه ما در ذهن خود و یا هم با زبان خود می گوییم که من می خواهم این کاره شوم و این کار را به شکل حرفوی دنبال می کنم. و دیگر ما عزم خود را جزم کرده با قاطعیت و ثبات، بر انجام کاری تصمیم می گیریم. که در این جا منظور همان تصمیم قاطع نوع دوم است.

**نوشتن:**

پس از آنکه قاطعانه تصمیم گرفتید که می خواهید نویسنده شوید. قلم و کاغذ را برداشته به نوشتن آغاز کنید، چون نوشتن همانند سایر کارهای که به شکل عملی یاد گرفته یک کار عملی است. از این هراس نداشته باشید که اشتباه می نویسید و در مورد چه می نویسید، زیرا تمام نویسندگانی بزرگ که امروز در سراسر دنیا وجود دارند و یا هم در گذشته های دور و نزدیک وجود داشته اند، کار شان را در ابتدا از سوژه های عادی آغاز کرده و باطله دانی ها را از نوشته های اشتباه شان پر کرده اند. شما و کسانی که پس از شما می خواهند نویسنده شوند، ناچار

می باشند که این دوره را بگذرانند.
این قاعده هر کاری است که انسان در مسیر آموختن آن، با عبور از جاده اشتباهات و کاستی ها به سرزمین درست کاری می رسد. اگر نویسندگی یک کار است چگونه می تواند از زیر چتر این قانون به دور باشد؟
هستند کسانی که می خواهند نویسنده شوند، اما، نمی دانند در مورد چه بنویسند. در این مورد می شود گفت: در مورد هر سوژه ی که به دست تان می رسد، بنویسید. از هر آنچه که احساس می کنید گرفته تا آن چه که به آن کم و بیش علم و دانش دارید. علاوه بر این می توانید خاطرات روزمره خود را یادداشت کنید، نامه بنویسید، اخبار روز را یادداشت کنید و ...
خلاصه اینکه اگر مصمم هستید که نویسنده شوید، فقط نوشتن را آغاز کنید، فرقی نمی کند که در مورد چه و چگونه می نویسید، و نیز از اشتباه نوشتن هرگز هراسی را به دل نداشته باشید. و نیز این را بدانید، تنها کسانی نویسنده خوب می شوند که در راه نوشتن افراط می کنند.

**مطالعه:**

مطالعه کردن یکی از ابزارهای خیلی اساسی برای نوشتن است. چون توسط مطالعه است که ما می توانیم نه تنها اینکه سطح معلومات خود را بلند برده و از آن در راستای نوشتن کار بگیریم، بل، می شود که به طور ناخودآگاه در ذخیره لغات ما افزایش بعمل آمده و سبک نگارش ما بهتر و بهترتر شود.
این کاملاً منطقی است که در ابتدای کار باید هرچه را به منظور تمرین نویسندگی نوشت، اما، که نمی شود این روش را تا آخر کار ادامه داد. پس از آنکه دوره تمرین ابتدایی مان تمام می شود دیگر زمانی فرا می رسد که ما در مورد مسایلی بنویسیم، که ارزش خواندن را داشته باشد که این هدف از راه مطالعه عمیق و مداوم به دست می آید.
نسبت به کسانی دیگر که مصروف کارهای غیر از نویسندگی هستند، برای نویسنده الزامی است که بیشتر وقت خود را به مطالعه اختصاص دهد. کسانی که می خواهند یک نویسنده حرفوی باشند حتمی است که در موارد ذیل عمیقاً به مطالعه بپردازند:
۱ – زبان و ادبیات مادری: یک نویسنده باید در مورد زبان و ادبیات خویش مطالعات عمیقی نموده و در این مورد تبحر حاصل نمایند. چون نوشتن مشابه به صحبت کردن است اما بر روی کاغذ ، اگر یک انسان نتواند در زبان مادری خویش خوب سخن بگوید، چطور می تواند در روی صفحه کاغذ خوب صحبت نماید؟ بر علاوه این، مطالعه رومان و داستان ها و اشعار نیز نویسنده را در امر خوب نوشتن کمک می کند. و همچنان فرا گرفتن یک زبان دیگر، غیر از زبان مادری نمی تواند برای نویسنده عاری از مفاد باشد.
۲ ـ مطالعه تخصصی: در هر رشته که می خواهید تخصص داشته باشید یا که دارید، شما می توانید در همان رشته مطالعه عمیق و دوامدار کنید، تأثیر مطالعه در این حوزه می تواند دو جانبه باشد، یکی اینکه شما را در خوب نوشتن کمک می کند، و دیگر اینکه توسط همین خوب نوشتن می توانید اندوخته های علمی – تخصصی تان را به شایقین حوزه تخصصی تان انتقال دهید.
۳ – مطالعه عمومی: از اینکه مطالعه عمومی سبب می شود که معلومات عمومی تان بلند برود، شما می توانید با داشتن معلومات وسیع از طریق مطالعات عمومی در مجال های گوناگونی به نویسندگی بپردازید. و نیز مطالعه عمومی سطح نگرش و درک شما را ارتقا بخشیده و به شما کمک می کند که در نوشته های تحقیقی و تحلیلی با دیدگاه وسیعی تر و چشم بازتری بنویسید.
ذهن نویسنده یی صاحب مطالعه مانند کیسه ی است پر از زر، که می تواند از آن به دیگران خیری برسد، اگر این کیسه تهی باشد چگونه می شود از آن دیگران کمک دریافت بدارند.

**استاد رهنما:**

داشتن استاد رهنما در یاد گرفتن بسیاری از حرفه ها خیلی ضروری است، و خیلی کم واقع شده است که کسی توانسته باشد چیزی را به شکل خوب و عالی بدون استاد یاد گرفته باشد. حرفه نویسندگی نیز از همین قانون پیروی می کند نه از کدام قواعد دیگر ... برای اینکه قادر شوید و زودتر و بهتر به سر منزل مقصود (نویسندگی) برسید، برای تان انتخاب یک استاد رهنما می تواند ضروری باشد، چون از یک طرف مشوره ها و رهنمایی های ایشان، شما را در امر نوشتن کمک می کند و از جانب دیگر، برای شما الگوی عینی پیدا می شود.

**توقع کمتر:**

انسان ها معمولا به دو گروه تقسیم می شوند که یکی کمالگرا است و دیگری شایق پیشرفت.
کمالگرایی یعنی اینکه کاری را که من می کنم باید صد فیصد بی عیب و نقص باشد. و پیشرفت خواهی به این مفهوم است که انسان کارش را بی عیب و نقص ندانسته و می خواهد نواقص کار هایش را به مرور زمان کاهش دهد.
کمالگرایی باعث می شود که انسان از کارش دل سرد شده و از ادامه دادن آن منصرف شود، ولی علاقه به پیشرفت

سبب می شود تا انسان با اشراف به عیوب کارهایش راه خویش را ادامه داده و بکوشد کارهایی کم عیب تری را تقدیم بدارد.
این واضح است که بشر به دنبال کمالگرایی است که هرگز نمی تواند به آن برسد، چون کاری بشری هرگز نمی تواند بی عیب و عاری از نقص باشد.
در دنیای نویسندگی نیز انتظار این را نداشته باشید که نوشته های تان بی عیب باشد، فقط تلاش کنید کار تان را با گذشت روزها و هفته ها و ماه ها و سال ها خوب تر و بهتر بسازید. به یقین که نوشته های هر نویسنده ی نمی تواند عاری از عیوب و کاستی ها باشد، فقط آن نوشته می تواند بهتر باشد که دارنده عیب کمتر در خود باشد.
این امر کاملاً طبیعی است که مشکلات نوشته های مبتدی خیلی زیاد است که به مرور زمان از میزان این مشکلات کاسته شده و زمانی می رسد که مشکلات مذکور به حد اقلش می رسد. اگر تازه در راه نویسندگی گام گذاشته اید، اصلاً تشویش این را نداشته باشید که نوشته تان مملو از مشکلات است و فراموش نکنید نوشته های بزرگترین نویسندگان دنیا نیز روزی از نوشته شما بهتر نبوده است. این قانون است که ابتدایی هر کاری با مشکل همراه است.

**ساده نویسی:**
ساده نوشتن به خواننده کمک می کند در هنگام مطالعه نوشته تان بیشتر با شما ارتباط برقرار کرده و منظور شما را دریابد. ساده نویسی به مفهوم این نیست که ما به شکل محاوره ی بنویسیم، به این معنی است که زبان نوشتاری ما با زبان گفتاری ما نزدیگ تر باشد. بعضی ها فکر می کنند که پر تکلف نوشتن یک امتیاز در نوشته های شان پنداشته می شود، در حالیکه یک عیب است، چون با آن روش نوشتن، نمی شود که پیام واضح تر و روان تر به خواننده انتقال پیدا کند، که هدف نهایی هر نوشته را تشکیل می دهد.
با نوشتن جملات کوتاه، حذف حرف های ربط اضافی و برداشتن واژه های زاید ... شما به یک نویسنده ساده نویس مبدل شوید. فراموش نکنید اگر در ساده نویسی سبک تان را یافتید، می توانید بعد از آن، پر تکلف نویسی را نیز تجربه نمایید. در آن صورت نه سبک ساده نویسی تان را فراموش می کنید و نه هم از یاد گرفتن روش پرتکلف نویسی باز می مانید.

**مداومت:**
استمرار شرط اساسی رسیدن به هر هدفی است. اگر می خواهید یک نویسنده حرفوی شوید باید این را بدانید که نیاز به استمرار و مداومت در نوشتن دارید. نوشتن یک امر دشوار اما، قابل یادگیری است. بنا بر این شما در این عرصه بیش از دیگر عرصه ها نیاز مند استمرار و تداوم می باشید.
نویسنده شدن در بیشتر موارد، یک کار عملی است. آموختن هر کاری عملی ـ و حتی نظری – ضرورت دارد که به طور مداوم ادامه داده شود، تا اینکه سرانجام منتج به نتیجه ی شود. همانند این که شما در یاد گرفتن خیاطی و معماری و زبان و ... نیاز به استمرار دارید، در هنر نویسندگی نیز محتاج به مداومت می باشید.

**نتیجه گیری:**
اهمیت نوشتن کمتر از اهمیت گفتن نیست، به ویژه در عرصه علم و دانش. چون اگر با گفتن می توانیم افهام و تفهیم کنیم و علم و دانش را انتقال دهیم با نوشتن نیز قادر به این امر می شویم که از یک طرف افهام و تفهیم نماییم و از طرف دیگر دستاورد های علمی و غیر علمی را ثبت کتاب ها نموده و از ضایع شدن آن جلوگیری نماییم. چه بسا از علم و معرفت های که از اثر بلد نبودن بشر با کتابت و نوشتن در دوره ماقبل التاریخ از بین رفته باشد.
متأسفانه با این همه اهمیت و ارزش که نوشتن دارد، در کشور ما به آن کمتر توجه صورت گرفته است، که این را می شود در نوشته های اکثر متعلمین مکاتب و محصلان پوهنتون خیلی واضح و آفتاب گونه دید ... وقتی که گفته می شود در این مورد کم کاری صورت گرفته است، به این مفهوم نیست که هیچ کاری در این عرصه صورت نگرفته باشد، هستند بسیاری از استادان و نویسنده گان بزرگواری که در این راستا تلاش های مثمر و مفیدی را به انجام رسانیده اند، اما، این تلاش ها و کارها به هیچ وجهه کافی نبوده و نیست، بل، نیاز است که نوشتن و نویسندگی را به یک فرهنگ در میان دانش آموزان مبدل نماییم که پیشگامی نهادهای تعلیمی و تحصیلی دولتی و خصوصی در این مسیر حتمی می باشد، به ویژه وزارت های معارف و تحصیلات عالی.

منابع:
۱- کاظمی؛ محمد کاظم. (۱۳۸۶). رهنمای مختصر نگارش و ویرایش. مشهد.
۲- اشراقی؛ سید علی محمد. (۱۳۹۶). آیین نگارش. کابل. چاپ چهارم.
۳- انوری؛ حسن و احمدی گیوی. کابل. چاپ چهارم.

# زموږ د پنځګر او کره کتونکي اړیکي ولې خرابې دي؟

ګل رحمن رحماني، د بغلان پوهنتون استاذ

د مولوي احمد په ګنج پښتو کې یو حکایت داسې دی: بوډۍ ښځه د بام په سر په څه کار بوخته وه، په همدې وخت کې یو وزر ماتی شاهین راغی او د بام بوټۍ پر څنډه کېناست، ستړی ؤ، د الوت توان یې نه درلود. په همدې وخت کې بوډۍ غلې ورځي، د پاسنۍ راتاو منښوکې او اوږدو نوکانو په لیدو یې حیرانېږي، له ځان سره وایي: ځار ځار، ته دې منښوکې او نوکانو ته وګوره څومره لوی شوي، له دې سره به څنګه خواړه خورې او څنګه به تګ کوې! همغه شېبه یو څه راوړي او د شاهین نوکان او د پاسنۍ منښوکې تېره څوکه وربانديې پرې کوي. بوډۍ خپل دې کار ته د خیر ښېګنې او مرستې په سترګه ګوري، فکر کوي چې له شاهین سره یې مرسته کړې، خو له دې ناخبره وي چې اصلا همدا دوه شیان (تېره منښوکه او تېرې پنجې) د هغې د ښکار یا روزي پیدا کولو وسیلې دي او هغه د مات وزر درملنې ته اړتیا لري.

زه چې کله د ادبي کره کتنې سره د نا مسلکي کره کتونکو چلند ته ګورم، تل مې همدا مثال سترګو ته درېږي. ادبي کره کتنه د ادبي او هنري اثارو د ارزونې وسیله ده او کره کتونکی دا مسؤولیت لري چې د خپلې پوهې او مسلک په رڼا کې د اثارو ښې او بدې یا کره او ناکره خواوې لوستونکي ته څرګندې کړي، ځکه چې د اثر د پنځونکي او مخاطب پوهه تل یو ډول نه وي، لیدلوري او زاویې یې هم یو له بل سره توپیر لري، ددې توپیرونو پیدا کول او سپړل د کره کتونکي د کار یو مهم اړخ جوړوي.

په نورو ټولنو کې کره کتونکی خپل مقام لري، نظریاتو او پوهې ته یې یوازې درناوی نه کېږي، بلکې په راتلونکو اثارو کې عملي بڼه هم ورکوي او د اثر مثبتې خواوې وربانديې پیاوړې کېږي، ددې تر څنګ تر ټولو وړاندې د اثر پنځونکی د هغه مننډوی وي چې اثر ته یې د ارزونې او کتنې لپاره وخت ورکړ او لوستونکو ته یې د اثر ارزښت او لارښود ور په ګوته کړ. ښایي همدا لامل هم وي چې عام لوستونکي کره کتنې ته د حکم تر کچې درناوی لري، د پنځګرو له ډلې هم تر ټولو بختور هغه وي چې اثار یې د کره کتونکو د پاملرنې او نقد وړ وګرځي.

د کره کتونکي مثبت او علمي نظر ډېر ځله د کتاب ارزښت هم څو چنده زیات کړی، ښایي همدا لامل به وي چې پنځګر پر کره کتونکي باور لري، خو دا موضوع ولې زموږ په ټولنه کې تر ډېره برعکس ده؟ ولې پنځګر او کره کتونکی یو بل ته په کمین کې ناست دي او یو پر بل باور نه لري؟

زموږ په ادبي چاپېریال کې به ددې ستونزې لاملونه ډېر وي چې زه یې دلته څو مهمو ته لنډه اشاره کوم:

١. کره کتونکی داسې یو شخص دی چې باید پوهه یې له پنځګر څخه اوچته او د ادبیاتو په اړه د پوره پوهې او علمي صلاحیت خاوند وي، خو له بده مرغه چې زموږ یو شمېر کره کتونکي د کره کتنې لپاره کافي او مسلکي پوهه نه لري، ثابت نظر ورسره نه وي او یوازې د تیوري او انتقاد په تولید کې تکړه دي.

٢. کره کتونکی د ادبي اثر محتوا ته په بشپړ ډول نه ورننوځي، اثر د نورو له سترګو ګوري او بیا ورسره له اثر نه خپله ابتدایي یا سرسري اخیستنه یو ځای کوي، په داسې حال کې چې د کره کتونکي ستر مسؤولیت دا دی چې اثر په بشپړ ډول پاڼه پر پاڼه وګوري او د پټو سترګو ارزونه ونه کړي.

٣. زموږ اکثره کتابونه له چاپ وړاندې کره کتنې ته نه وړاندې کېږي، هغه مقدمې یا تقریظونه چې لیکوال یې وربانديې راوړي، هم تر ډېره فرمایشي او د لیکوال له ستاینو ډک دي. کله چې کتاب له چاپ وروسته نقد شي، نو طبیعي ده چې نه اثر ته ګټه لري او نه یې د پنځګر سره د منلو حوصله او زغم وي.

۴. کره کتونکی تر ډېره پورې د علمي معيارونو په اساس پرېکړه نه کوي، له تبعيض او تعصب نه کار اخلي، د ليکوال له فکر، شخصيت او نورو ځانګړنو سره اثر ته تړاو ورکوي او بې پرې ارزونه ترې پاتې وي، همدا لامل دی چې کره کتونکی اعتبار او معيار بايلي، د يوه بې پرې او عالم حيثيت نه شي خپلولی.

۵. زموږ په ادبي بهيرونو کې لا هم د نقد او انتقاد تر منځ توپير نه دی شوی، کله چې نقد وايو نو مانا يې په ټوله مانا د اصولو او معيارونو له مخې د اثر ارزونه ده چې خامیو ته د پخېدو بديلونه هم وړاندې کېږي، يوه ذوقي موضوع



نه ده، هر څوک يې نه شي کولای، خو انتقاد د عوامو ځانګړنه ده، هر څوک کولای شي انتقاد وکړي، په انتقاد کې د سمون بديل نه وړاندې کېږي. لنډه دا چې انتقاد هر څوک کولای شي، خو نقد هر څوک نه شي کولای.

۶. د ادبي ژانرونو يا په ټوله کې د ادبياتو په بېلابېلو برخو کې تخصص ته هم سخته اړتيا ده، خو له بده مرغه چې زموږ کره کتونکي په نږدې ټولو نظمي او نثري ژانرونو، د کره کتنې په بېلابېلو مکتبونو او اصولو کې ځان ته استاذ وايي او خپل نظر ورته د کاڼي کرښه ښکاري.

۷. زموږ د کره کتنې اوسنی بهير تر ډېره منفي پال او عيب لټوونکی دی، يو اثر که څېرته اتيا سلنه ښېګڼې ولري او شل يې بدې وي، نو له ښېګڼو يې تېر دی او پر منفي خواوو يې زور بحثونه کوي، د مثبتو خواوو يا ښېګڼو تشريح او په کې د پنځګر مهارت يې هېر وي، نو طبيعي ده چې د ليکوال زړه ماتېږي.

۸. لکه څنګه چې موږ په ټولنيز لحاظ سره وېشلي يوو، په ډلو او مفکورو پسې ځو، کره کتونکي مو هم ډېر ځله، د ادبي اثر پر ځای د کره کتونکي د فکر، شخصيت، دريځ او حتی په بېلابېلو ادبي بهيرونو او ټولنو کې د غړيتوب، د کره کتونکي له مخالفو ادیبانو سره ناسته پاسته يا اړيکې او يا ورته نورې عقدې پالي، د علمي پر ځای انتقامي کره کتنه کوي.

۹. دا هم بايد هېره نه کړو چې ستونزه يوازې په کره کتونکي کې نه ده، پنځګر هم په دې برخه کې ځينې ملامتۍ لري چې يوه تر ټولو معمولي يې د خپلو خاميو او ماتو نه منل يا خپل اثر ته د بشپړ او نهايي اثر په سترګه کتل دي. په داسې حال کې چې کامل او شامل يوازې قرآنکريم دی.

۱۰. پنځګر زغم او حوصله نه لري، لا هم په بشپړ ډول دې ته تيار نه وي چې د خپل اثر عيبونه ورته په ګوته شي، ځکه خو ځينې ادیبان کله کله وايي چې اثار يې د اولادونو په څېر دي، د بدرنګ او شايسته يا ښه او بد د بېلتون کرښه په کې نه شي را کاږلی.

۱۱. ددې کړکېچ بل لامل دا دی چې پنځګر په خپل اثر ډېر باوري نه وي، ځينې شته تشې يې نه وي ډکې کړې او دا وېره ورسره وي چې که د کره کتونکي پام ور واوړي، نو دده د رسوايۍ امکان زيات دی، ښايي د ځواب لپاره څه ونه لري.

۱۲. يو مهال داسې هم وي چې ځينې ادبپوهان يوه پنځګر ته په ډېرو ستاينو او مثبتونو نظرونو کاذب شخصيت ورکړي، خو کله چې له يوه مسلکي او رښتيني کره کتونکي سره مخامخ شي، نو بيا خپلې پخوانۍ ستاينې د تأييدې وسيلې په توګه وړاندې کوي، کره کتونکی غندي او په بېلابېلو ملحوظاتو يې تورنوي.

له نېکه مرغه چې په اوس وخت کې د خواله شبکو او ادبي بهيرونو په ځانګړي ډول افغان ادبي بهير شتون د کره کتونکي او پنځګر تر منځ د پخلاينې او متقابل درناوي موضوع ته تر ډېره زمينه مساعده کړې ده او تر يوه حده دواړه ځانونه د يو بل بشپړونکي بولي، خو لا ډېر کار ته

اړتیا شته چې دغه فضا صمیمي او علمي شي.

ددې لانجې ګڼ مثالونه زموږ د ګاونډیو او د نړۍ د نورو سترو هېوادونو په ادبیاتو کې هم شته دي. زموږ په کلاسیکه دوره کې هم د پنځګرو او کره کتونکو تر منځ ځینې ګیلې او ګوزارونه شته دي. د همېشه بهار تذکرې لیکوال کاږي چې یوه ورځ شاه عباس صفوي له خپل خلوت نشین میرزا قاسم نه د میرزا صایب د شاعرۍ د جامعیت په اړه پوښتنه وکړه. قاسم ورته وویل چې صایب د دوو بیتونو څښتن دی او هغه دوه بیتونه دادي:

تیغ از ګلوی سوختګان تند نه ګذرد
اب از زمین تفته به لنګر ګذر
بوی ګل و باد سحری چشم به راه اند
ګر میروی از خود به ز این قافلهٔ نیست

وایي میرزا خبر شو، له قاسم یې ګیله وکړه. قاسم ځواب ورکړ: پېژندې مې چې د دوو بیتونو خبره مې وکړه، که نه نو یوازې لومړی بیت دې خپل دی او ستا ټول مضامین له نورو اخیستل شوي دي.

د مسلکي کره کتونکي لومړۍ دنده او مسؤولیت دا دی چې د ادبي اثارو ارزونه وکړي، ښه او بد یا د ادبي ښېګڼې او بد ګڼې سره جلا کړي. په ټوله کې دی د لوستونکي پر وړاندې لاندې مسؤولیتونه لري:

۱. ادبي کره کتنه باید د ادبي اثارو د بدیعي ښکلاوو او ښېګڼو د درک امکانات برابر کړي او په پایله کې یې لوستونکی وکولای شي چې د ادبي اثارو له مطالعې څخه خوند واخلي.

۲. ادبي کره کتونکی مسؤولیت لري چې د ادبي اثارو رښتینې ارزښت په ګوته کړي او وښیي چې د کومو اصولو او قواعدو د رعایت په سبب یو اثر محبوبیت پیدا کوي او کوم لاملونه دي چې اثر د لوستونکو له پامه غورځوي او په ادبي نړۍ کې نه پایي.

۳. ادبي کره کتنه ددې لامل ګرځي چې جعلي او دروغجن ادیبان ونه شي کولای چې لوستونکو ته د اثارو د وړاندې کولو بې ځایه جرئت وکړي.

٤. د کره کتونکي نظر هغه مهال د ډېر درنښت وړ وي چې بې غرضه او پرته له دې چې د لیکوال خپګان یا خوښي په نظر کې ونیسي، وړاندې یې کړي.

۵. د ادبي کره کتونکي نظر باید پر استدلال ولاړ وي او خپله هم د یوه علمي او هنري اثر مقام خپل کړي چې نورو ته د لارښود حیثیت ولري.

٦. د کره کتونکي نظر باید وچ کلک نقد هم نه وي، په منځ منځ کې باید مطلوب پنځګر او نورو ته مشورې او معلوماتي پیغامونه هم وړاندې کړي او تر ډېره پورې ښوونیز اړخ ولري.




۷. کره کتونکی باید له ملا ماتوونکې کره کتنې چې وار له واره په کلي حکمونو ولاړه وي او پنځګر ددې وړ نه بولي چې په ادبي نړۍ کې پاتې شي؛ ډډه وکړي، پنځګر باید وروزي او د شړلو یا زړه تورولو پر ځای یې په یوه مثبت او ګټور غړي بدل کړي.

ددې لانجې بل اړخ له عیني کره کتنې یا objective criticism سره هم تړلی دی، ځکه چې زموږ د کره کتنې په چاپېریال کې دا ډول کره کتنه نه ده عامه شوې. په عیني کره کتنه کې یو ادبي اثر له لیکوال، لوستونکي او واقعي نړۍ څخه جلا ارزول کېږي، یعنې ادبي اثر ته د یوې پر ځان بسیا او خپلواکې ښکارندې په سترګه ګوري، په خپل دروني او ذاتي محک تلل کېږي او د سنتي یا دودیزې کره کتنې خلاف د لیکوال له افکارو او ټولنیز وضعیت سره کار نه لري.

بوی ګل و باد سحری چشم به راه اند
ګر میروی از خود به از این قافلهٔ نیست
ژباړه:
د ګل وږم او نسیم سترګې په لار دي
که له ځانه ځې ترې ښه قافله نه شته
صایب

# د سر مقالې لیکنې اړینې ځانګړنې

لیکوال: ډاکټر مسکین علي حجازي
ژباړن: امیرجان وحید احمدزی

د سرمقاله لیکنې د عملي کار پر مهال تر ټولو لومړی دې ته پام پکار دی چې سر مقاله لیکونکی یا مدیر ته د ورځپاڼې سرلیکنه تر ټولو زیات ارزښت لري. د سر لیکنې په کرښو کې چې نوموړی کوم فکر څرګندوي هغه د ورځپاڼې فکر ګڼل کېږي او د هغه د لیکنې پر بنسټ د سرلیکنې هر مخ د ورځپاڼې روح ګڼل کېږي.

سرلیکنه د ورځپاڼې د ټولو لوستونکو ترجمانه وي. د سر مقاله لیکونکي فکر، تجویز، او تبصره د هېواد پر سیاست او د ژوند پر نورو برخو ژور اغېز پرېباسي. هغه د خلکو د غوښتنو او آرمانونو د ترجماني کولو سره سره د خلکو او لوستونکو فکرونه هم روښانه کوي. یعنې د هغه له لیکنې لوستونکي د لارښوونې هیله کوي. سرمقاله لیکونکي شايي د خپلو دندو د ښه ترسره کولو لپاره دغه ځانګړنې ولري.

**i. په ژبه او بیان برلاسی:**

یو وخت د مدیر څرګنده ځانګړنه دا ګڼل کېده چې د بیان انداز یې شکلی او په رسا غږ وي. د لیکنې رواني او د طرز پیاوړتیا لوستونکي له ځان سره بیايي. په پخوانیو سرلیکنو کې د ذهن پرځای جذبو ته ډېر پام کېده او سر مقاله لیکونکی د خپل بریالیتوب لپاره په ژبه د برلاسي او بیان د انداز د راښکون منندوی ؤ.

په اوسنیو سرلیکنو کې مسجع او مقفی کلیمې نه کارول کېږي او د احساساتو را پارولو لپاره رنګیني د وینا جوهر نه ګڼل کېږي له دې سره پر دلایلو و لاړو فکرونو د اغېزمن او سم څرګندولو لپاره هم په ژبه او بیان بشپړ برلاسی اړین دی. په نویو سرلیکنو کې د ژبې خوند نه وي. خو د سرلیکنو د فکري، معلوماتي، استدلالي اغېزمنتیا او معقولیت لپاره د ژبې رواني، د کلیمو سم انتخاب، د هغو پر ځای کارول او سم تراو نن هم ډېر اړین دي. سر مقاله لیکونکی باید په ښه توګه د خپل دریځ او فکر د وړاندې کولو لپاره، په ژبه ښه پوه وي څو خپل فکر په روښانه توګه سم څرګند کړای شي.

**ii. منطقي ذهن:**

پخوانیو سر مقاله لیکونکو منطق او استدلال ته ډېر پام نه کاوه، مګر نن هره خبره د حقایقو په رڼا کې له دلایلو سره کېږي. نننی لوستونکي پېښې د جذبو پر ځای د عقل او استدلال پر معیار تلي، د هغوی د اغېزمنولو یا عمل ته د تیارولو لپاره اړینه ده چې هره خبره د منطقي اصولو له مخې وشي. زوروره او هنګامه جوړوونکې لیکنه نن هم د لوستونکو جذبې راپارولی شي، هغوی د وخت په څېر له خپل ځان سره بیايي. لیکنه هرې مسلې ته د حقایقو په رڼا کې کتل او د عقل او شعور په مرسته پرېکړه کول دي. د نوي پېر د انسان په موخه دا اړینه ده چې هغه د منطق او معقولیت پر بنسټ ولاړه وي. د ډېرو لوستونکو د اغېزمنولو لپاره اړینه ده چې سرمقاله لیکونکي منطقي فکر ولري او د سرلیکنې د اغېزمنتیا لپاره د خپل دریځ په حق کې معقول او پاخه دلایل وړاندې کړای شي څو د هغه لوستونکي په راتلونکي کې د ضد او مخالف نظرونو د لوستلو تر اغېز لاندې رانشي.

**iii. د خلکو له روان څخه خبرتیا:**

د نښلوونکو او لېږدوونکو وسایلو د پرمختګ له برکته په لږ وخت کې ګڼو خلکو ته لاس رسی ډېر آسانه شوی دی.

پروپاګند او خپرونو د بوې ناچاره(ناګزیرې) اړتیا او مستقل مسلک بڼه خپله کړې. بېلابېل سیال ځواکونه په بېلابېلو رسنیو کې د عام ابلاغ په چارو بوخت دي او ټول په دې هڅه کې دي چې ډېر اوربدونکي، کتونکي او لوستونکي د ځان ملګري کړي. لیکن دا مهال خلک د ډېرې بوختیا له امله ټولو رسنیو ته پام نشي کولی ځکه نو هغوی د ټولو له منځه تر ټولو په زړه پورې رسنۍ خوښوي. هغه رسنۍ چې د دوی له اړتیا او حالت سره همغږې وي.

په دې حالاتو کې دا ډېره اړینه ده چې سر مقاله لیکونکي د

خلکو روان په ښه توګه وپېژني. نن سبا د خلکو ارواپوهنې هم حيرانوونکې پرمختګ کړی او اروپوهانو داسې ساينسي لارې ټاکلي چې د هغو په مرسته د لوستونکو ذهن ډېر ښه اغېزمن کېدلی شي د نظرياتي کشمکش په نننۍ پېر کې يوه بريالي سرمقاله ليکوال ته ښايي چې د خلکو پر روان د ښه پوهېدو ترڅنګ پردې هم پوه شي چې په ځانګړو حالتونو او وختونو کې به د بېلا بېلو خلکو ذهني غبرګون څه وي؟ په بېلا بېلو حالتونو کې انساني ذهن څه ور کار کوي؟ کوم حالات په اغېزمن ابلاغ کې مرسته کوي او پر ذهن د تلپاتې اغېز لرلو لپاره په بېلا بېلو حالاتو کې کومې لارې ګټورې وي؟

يو ښه سرمقاله ليکوال ته د دې معلومول هم پکار دي چې په کومو حالاتو کې کوم ډول رواني خنډونه د اغېزمن ابلاغ په لاره کې موجود وي. هغه څنګه لېرې کېدلی شي او د هغو د شتون پرمهال د پيغام د اغېزمنتيا لپاره کومې لارې غوره کېدلی شي.

**iv. د غور او فکر وړتيا:**

د سرمقاله ليکونکي دنده د حالاتو او پېښو تشريح او توضيح او په بېلابېلو مسايلو کې لوستونکو ته د فکر کولو تر بلنې پورې محدوده نه ده، په ژوند کې ډېرې داسې لوړې او ژورې شته چې له هغو څخه د تېرېدو تر څنګ سرمقاله ليکونکی د لوستونکو لارښوونه هم کوي ليکن نوموړی د ښه فکر، غړېدلو سترګو او حساس زړه د لرلو پر مهال د لارښوونې دنده سمه ترسره کولی شي. د دې لپاره اړينه ده چې نوموړی حالاتو او پېښو ته برسېرن و نه ګوري د هغو تل ته ورښکته شي. د خالص او ناخالص توپير وکړای شي او په پټو سترګو د هر څه د منلو پر ځای له خپل فکر او پوهې کار واخلي. دغه مهال د نوموړي په سرليکنو کې راښکون، اغېز او ارزښت پېدا کېږي. تل د نورو د فکر او نظر له مخې د پېښو منل او په خپله فکر او غور نه کول د سرمقاله ليکونکي تر ټولو لويه نيمګړتيا ده.

**v. د لارښوونې جذبه:**

د يوه سرمقاله ليکوال لپاره يوازې د نظر رسول او په هره موضوع غور او فکر کول کافي نه دي. نوموړي ته دا هم ښايي چې غور او فکر نه د کار اخېستلو تر څنګ د حقايقو تل ته ځان ورسوي او د پېښو په راز د پوهېدو هڅه وکړي، نوموړی بايد دا وړتيا هم ولري چې د عقل او پوهې په رڼا د نورو ذهنونه روښانه کړي. يوازې پر حالاتو د تبصرې کولو پر ځای ښايي چې د زړه پر وينو د فکر ډيوه روښانه کړي او په تيارو کې تيندک خوړونکو ته د خپل فکر د څراغونو په رڼا لاره وښيي.

**vi. متوازن شخصيت:**

پر بېلا بېلو مسايلو، فکري ښوونځيو او د حکومت پر پاليسيو د تبصرو او نظر څرګندولو پر مهال سرمقاله ليکوال بايد د يو منصف او درېيم ګړي حيثيت ولري. د هغه تبصرې او پرېکړې اوږد مهالې پايلې لري د هغه نظر يوازې د يوه شخص نه، بلکې د يوې ادارې او عوامو نظر ګڼل کېږي که سرمقاله ليکوال توند خويه وي نوموړی د خلکو د غوښتنو په پېژندلو او په سمه توګه د عامه نظر په ژباړنه کې ناکامېږي. توند خويي هېڅکله هم مناسبه نه ده. د دې له امله ځينې وختونه داسې ستونزې پېدا کېږي چې سمول او اوارول يې ناشوني وي.

ځينې وختونه دا هم ليدل کېږي چې سرمقاله ليکوال په کومه ځانګړې پېښه، د کوم غير مهم کس د بيان يا د کوم لوستونکي د راغلي ليک او خپرېدلو پر مهال خپلې جذبې نه شي کنټرولولی او د پېښې د ارزښت يا ډول له پېژندلو پرته په تونده او تيزه لهجه سرليکنه ليکي. ليکن د هغې له خپرولو وروسته معلومېږي چې خبر، بيان يا راغلي ليک هېڅ حقيقت نه درلود. له دغه ډول ليکنو څخه يوازې سرليکنې نه، بلکې د سر ليکنې ټول مخ ته زيان اوړي. سر مقاله ليکوال ډېر ځله له څو لورو تر فشار لاندې راځي. ورځپاڼه(يا د ورځپاڼې د ګونډي کېدو په حالت کې د ګوند) د پاليسي خيال ساتل کېږي، له دې سره سره دا هم اړينه ده چې سرليکنه د ژورنالېزم لوړې موخې زيانمنې نه کړي. پر دې د بېلا بېلو ډلو او طبقو له لوري هم ټينګار کېږي. لکه د مزدورانو او مزد ورکوونکو ترمنځ د جنجال په صورت کې مزدوران يا د هغوی ټولنې غواړي چې سر مقاله ليکونکی بايد د دوی د دريځ ملاتړ وکړي، مزد ورکوونکی ورځپاڼې ته اعلان هم ورکوي نو د هغوی ټينګار نور هم زياتېږي. نو په دغه حالت کې سر مقاله ليکوال بايد داسې څه وکړي چې نه له اصولو سرغړونه وشي او نه اړوندې ډلې قهرجنې کړي. د دې لپاره سړې سينې او دماغ، متوازن شخصيت، اخلاق، زغم او پر ژبه او بيان د برلاسي (قدرت) لرلو اړتيا ده.

سرمقاله ليکوال ښايي پر يوه موضوع تر ليکلو د مخه د هغې په ټولو خواوو ځان ښه پوه کړي. نوموړی بايد دومره متوازن، پوه او لرڅاري وي چې د يوې پېښې اړوند د تجويز، تبصرې او نظر ورکولو پر مهال بېړه ونه کړي او نه هم د

خپلو عواطفو تر اغېز لاندې راشي، بلکې د موضوع د ډول او ارزښت له مخې پر هغه ښه غور او فکر وروسته نظر ورکړي. نوموړی باید د خپلې دندې او مسؤولیت له مخې کله هم د پوهې، پت او متانت لمن پرېنږدي. نوموړی باید تل حقیقت او رښتیا څرګند او روښانه ولیکي. د سرمقاله لیکوال په ملاتړ او مخالفت دواړو کې اغېز وي ځکه نو د نوموړي تأئید او مخالفت دواړو ته په ارزښتناکه سترګه کتل کېږي او خلک د هغه د لایل د سند په توګه وړاندې کوي.

د دې مطلب دادی چې اعتدال، زغم او حقیقت خوښونه د سرمقاله لیکنې ځانګړنې دي.

**vii. د پرېکړې ځواک:**

سرمقاله لیکوال یو داسې قاضي دی چې د هغه په عدالت کې استغاثې(شکایت کولو) او د تزکیې لپاره وکیل نه وړاندې کېږي ځکه نو نوموړی د دواړو لورو د دلایلو له اورېدلو پرته یواځې د خپلو څېړنو او تجزیې پرمټ پرېکړه کوي. له همدې امله نوموړی ټول حقایق او قانوني جواز هم په خپله برابروي. له دې سربېره د یوه قاضي پرېکړه د ټول ولس پر برخلیک اغېزه لري. ځکه نو ښایي سرمقاله لیکوال د پرېکړې پیاوړی ځواک او وړتیا ولري. سرمقاله لیکوال ته ښایي چې د یوې پېښې په اړه د تبصرې پر وخت د نوموړي ذهن روښانه وي. د سرلیکنې له پیل د مخه د نوموړي په ذهن کې د سرمقالې بشپړه خاکه موجوده وي. او دا ورته معلومه وي چې د مسلې په کومو خواوو له کومې زاویې څخه د نظر تر څرګندولو وروسته څه ډول پرېکړې ته ورسېږي.

د سرمقاله لیکوال د تمیز ځواک هم د سرلیکنې په معنویت او ارزښت ژور اغېز پرېباسي. د دې لپاره اړینه ده چې نوموړی هره ورځ د پېښو دېرتلیز ارزښت له مخې پرېکړې وکړي چې کومه مسئله یا خبر د سرلیکنې یا شذرات (د سرمقالې یوه وړه برخه) موضوعات وټاکي، له دې پرته په سرلیکنه او شذرات کې وزن نه پیدا کېږي، نه یې څوک په مینه لولي، د موضوع انتخاب، د هغې په اړه د یو ځانګړي نظر څرګندولو پرېکړه، د دلایلو ډول او د لیکنې انداز د دې ټولو په اړه سمه او ژر پرېکړه اړینه ده.

**viii. پراخه مطالعه:**

د ورځپاڼو په دفترونو کې د بېلا بېلو موضوعاتو اړوند کتابونه او نور اړین مواد وي. لیکن که د سرلیکنې لیکوال یواځې په کتابونو انحصار وکړي (یعنې سرلیکنه یې یواځې تر کتابونو محدوده وي) او موضوع ته ژور پام ونه کړي. نو سرلیکنه به یې اغېزمنه او زړه راښکونکې نشي. د غیر ضروري معلوماتو، عددونو او شمېرو لرونکې سرلیکنې لوستونکو ته په زړه پورې نه وي. سرمقاله لیکوال باید یواځې له معلوماتو، عددونو او شمېرو سره بلد نه، بلکې د هغو د پر ځای کارولو وړتیا هم ولري. د دې لپاره پراخه مطالعه او د بحث وړ موضوع پر لاملونو او رازونو پوهېدل اړین دي. یعنې سرمقاله لیکوال باید عددونه او شمېرې پر لوستونکو د رعب اچولو لپاره نه، بلکې د دلایلو او نظر د کره والي او وزن لپاره وکاروي که د مطالعې او پوهې باوجود بیا هم کوم وخت له سرمقاله لیکونکي عددونه، کوم نوم یا نورې خبرې هېرې شي نو معلوماتي کتابونه دې ورپسې و لټوي.

سرمقاله لیکوال ته له دې امله هم پراخه مطالعه او څېړنه اړینه ده چې هغه د ژوند په مختلفو مسلو خپل نظر څرګندوي تر هغو چې سرمقاله لیکوال د یوې موضوع اړوند روښانه او سم معلومات ونه لري نو اغېزمنه سرلیکنه نه شي لیکلی، په دې کې شک نشته چې یو تن په هر څه نه شي پوهېدلی خو بیا هم یوه ښه سرمقاله لیکوال ته ښایي چې د ټولو علومو او مسلکونو څه ناڅه مطالعه ولري.

**ix. ریپورټر کېدل پکار دي:**

سر مقاله لیکوال ته پکار دي چې د یوه ښه ریپورټر ټولې مهمې ځانګړنې ولري. سرمقاله لیکونکی د ریپورټر په څېر په ورځپاڼو یا خپل چاپیریال کې د سرلیکنې موضوع لټوي. د خبرونو په څېر سرلیکنه هم باید نوې وي.سر مقاله لیکوال حقایق، پېښې او معلومات تر پلټنې، غور او شننې وروسته په یوه اغېزمنه بڼه وړاندې کوي. په بله وینا: سرمقاله لیکنه درې پړاوونه لري. د موضوع پلټنه، غور، فکر او لیکل لنډه دا چې په لومړیو پړاو کې د سرمقاله لیکوال کار له ریپورټر څخه توپیر لري. نوموړی پېښې او حقایق تجزیه کوي غور او فکر پرې کوي او په پای کې خپله پرېکړه اوروي او لوستونکو ته لارښوونه کوي.

**x. له ولسونو او مهمو خلکو سره بلدتیا:**

سرمقاله لیکوال باید د بېلابېلو هېوادونو له حالاتو او مهمو شخصیتونو سره بلد وي. د نړۍ د بېلا بېلو هېوادونو او سیمو له کلتور، دود، سیاسي او اقتصادي حالاتو او مهمو کسانو سره له بلدتیا سربېره د خپل هېواد له مهمو کسانو سره وپېژني او د هغوی له سیاسي افکارو او نظریاتو هم خبر وي

ځکه که سرمقاله ليکوال ته د سرليکنې د ليکلو پر مهال د يو هېواد، ولس يا شخص کلتوري، دوديز، جغرافيايي، سياسي او اخلاقي شاليد ښه معلوم وي، نو نوموړی د دغو معلوماتو په رڼا کې سم فکر او پرېکړه کولی شي. چې د دغه وړ سرمقاله ليکوال په سر ليکنه، فکر او پرېکړه کې د تېروتلو شونتيا ډېره لږه وي.

**xi. انساني خواخوږي:**

د انساني خواخوږي د لرلو او غور کولو پرمهال سم فکر رامنځته کېدلی شي. د انساني خواخوږي مطلب دا نه دی چې سرمقاله ليکوال د کومې پېښې، وګړي يا ډلې حالاتو اغېزمن شي. په ځان کې د خواخوږي عواطف نابېره راڅرګند کړي يا په عاطفه کې هومره لاهو شي چې په خپلو خبرو کې کاواکه شي، د دې برعکس له انساني خواخوږي څخه د جوش او جذبې پر ځای د انسانانو د هوساينې او سوکالۍ په اړه فکر مراد دی، دغه وړ انساني فکر وکړي په سمو لارو روان وي او د ستونزو په سم اواري کې ورسره مرسته کوي. په زړه کې د انساني خواخوږي د لرلو له امله سر مقاله ليکوال د ژوند په تيارو لارو کې د نويو فکرونو او پرله پسې کړنو څراغ روښانوي او د نوموړي ليکنه تېروتونکو ته سمه لاره ورښيي.

**xii. د خلکو د حقوقو لپاره جهاد:**

سرمقاله ليکونکی تل د نورو د حقونو لپاره جهاد کوي. هر ژمن سر مقاله ليکوال د تېري کوونکو پر وړاندې هڅه خپله دنده ګڼي. نو موړی د بې وزله، مظلومو او وروسته پاتې طبقو غږ پورته کوي او د هغو د حقوقو د ترلاسه کولو لپاره هلې ځلې کوي، د هغوی دا جګړه د حکومت او هغو خلکو په وړاندې کېدای شي چې د نورو په حقوقو خېټې اچوي. ليکن سرمقاله ليکوال بايد په دې پوه وي چې نن هر طبقه په نورو د ځان لوړ ګڼلو په هڅه کې ده. هره طبقه غواړي چې له قومي مسايلو ځانته ډېره ګټه وکړي. د دې لپاره هر څوک تاسو ته ځان د ټولنې تر ټولو مهم او مظلومه ګڼي او ډېرې غوښتنې لري. لنډه دا چې هر وګړی او طبقه د خپلو غوښتنو د روا والي په برخه کې ډېر دلايل وړاندې کوي. ښکاره ده چې دغه مهال سرمقاله ليکوال د هرې طبقې هره غوښتنه روا او هره طبقه ډېره مظلومه او محرومه نشي ګڼلی. د ټولنې ستونزې او مسايل هغه مهال اوارېدلی شي چې د ټولنې وګړي د هغو د اواري لپاره په ټولنيزه ډول د اخلاص او نېک نيتي له مخې هڅه وکړي. خو بيا هم په هره ټولنه کې ځينې طبقې له نورو ډېرې محرومې او وروسته پاتې وي. هغوی خپلو حقونو ته د رسېدو لپاره د سرمقاله ليکونکي له مهمو دندو څخه ده. ليکن دا ټول هغه وخت شوني دي کله چې سر مقاله ليکونکی د ټولنې د ټولو طبقو او افرادو له حقونو او دندو سم خبر وي. نوموړي ته دا معلومه وي چې حکومت پر خلکو او خلک پر حکومت کوم حقونه لري؟ د يوې طبقې حق او د يوې ډلې مسؤوليت څه دی؟

د حکومت او خلکو د رښتينو حقونو او دندو له خبرتيا سربېره سرمقاله ليکوال بايد د بېلا بېلو ډلو له حالاتو، مسايلو، ستونزو او محروميتونو يا د هغوی تر لاسه شويو حقونو څخه هم خبر وي او د هغه په اړه خپله يو موزون او مناسب نظر ولري. کله چې نوموړی د چا د حق غږ پورته کوي يا پر چا نيوکه کوي نو د نوموړي خپل فکر او نظر بايد د سرمقاله ليکوال لارښوونه وکړي. هغه فکر چې نوموړی يې له غور وروسته د خلکو د حقونو او دندو اړوند لري.

**xiii. د پنځونې وړتيا:**

سره له دې چې سرمقاله ليکوال ځاني او جوړې شوې کيسې نه بيانوي، ليکن د ليکنې د راښکون او اغېزمنتيا لپاره د تخليقي وړتيا او شتون اړين دی. په ځانګړې توګه د جګړې په ورځو او بيړنيو (هنګامي) حالاتو کې کله چې په سرليکنو کې جذباتي رنګ غالب وي او د عامه فکرونو په هڅولو سره ټول ولس د يوه تن په توګه سره يو کېږي، نو دغه مهال د سرمقاله ليکوال تخليقي وړتياوې ځانګړې مرسته کوي په اصل کې دا يوه داسې ځانګړنه ده چې په عامو حالاتو کې هم د سرليکنو کې د تسلسل او تراو پېدا کولو ترڅنګ هغه په زړه پورې کوي هم. ليکنې د تخليقي وړتيا له برکته روښانه کېږي د مولانا الطاف حسين حالي په نظر تخليقي وړتيا يوه فطري ښېګنه ده او ډېر لږ خلک دا ښېګنه لري. تخليقي وړتيا يواځې په کسبي ډول نه تر لاسه کېږي. د سرمقاله ليکوال د پنځونې وړتيا چې څومره زياته وي نو نوموړی هومره په آسانۍ سره ليکنه په زړه پورې کولی شي. دارنګه د زيار او منطقي تفکر په مرسته هم ليکوال بريالی کېدلی شي. ليکن د تخليقي وړتيا کموالی ګام پر ګام هغه ته ستونزې پېدا کوي او ډېر کله نوموړی د ښې ليکنې په ليکلو کې پاتې راځي.

**xiv. له ټولنيزو حالاتو سره بلدتيا:**

سرمقاله ليکوال ته ښايي د خپلې يا هغې ټولنې چې ژوند په کې کوي د هغې له کلتور، دودونو او د خلکو له ګروهونو

سره بلد وي ځکه نوموړی ځينې مهال د يوه مصلح دنده هم ترسره کوي.د ناوړه دودونو، کرکې، تنګ نظرۍ، د کمزورۍ عقيدې او داسې نورو بدګڼو په وړاندې جهاد کوي. په ډېره مېړانه د ټولنې د بې عدالتيو او ګډوډيو پر وړاندې د نيوکې تېغ چلوي. سرمقاله ليکوال يواځې په دې بسنه نه کوي نوموړی د ښو ارزښتونو او دودونو د خونديتوب او دودولو هڅه هم اړينه ګڼي او تل د سمو هيلو او غوښتنو د غوړېدو او پوره کېدو په هڅه کې وي.

سرمقاله ليکوال ته د ټولنې له دودونو او د خلکو له عواطفو، احساساتو او غوښتنو څخه خبرېدل د دې لپاره اړين دي، څو نوموړی د بې خبرۍ پرمهال داسې څه ونه ليکي چې د لوستونکو عواطف زيانمن کړي. ځکه دغه مهال ورځپاڼې ته هم زيان اوړي او لوستونکي له لاسه ورکوي او دا سم حالت نه دی.

**xv. د ولسي غوښتنو احساس:**

سرمقاله ليکوال بايد تل ملي غوښتنو ته پام وکړي د دې غوښتنو کړی ډېره پراخه ده. له اقتصادي مسايلو واخله تر دفاعي چارو پورې ټولې په کې شاملې دي. پربهرنيو پاليسيو د تبصرې کولو پر مهال سرمقاله ليکوال بايد دوست او دښمن ته پام وکړي او داسې څه ونه ليکي چې د هېواد د دښمنانو په ګټه وي. له احتياط پرته د سرمقاله ليکوال ليکنې هېواد او ولس ته د زيان اوښتلو لامل کېږي.

**xvi. د ورځپاڼې له پاليسي خبرتيا:**

نن سبا د سرليکنې مخ ته د ورځپاڼې غږ او د هغې د پاليسي ښکارندوي ويل کېږي. په ورځپاڼه کې سرليکنه مرکزي ارزښت لري په دې چې هغه د ټولې ورځپاڼې ترجمانه ګڼل کېږي. له دې امله ښايي سرليکنه د ورځپاڼې له پاليسي سره برابره وي. سرمقاله ليکوال بايد په دې پوه شي چې د ده ورځپاڼه چې له کومې ډلې يا فکري ښوونځي سره تړاو لري هغوی څه ورَ نظر لري. د ټولنې د بېلا بېلو ډلو، فکري ښوونځيو، ادارو يا سياسي او اقتصادي مسايلو اړوند د هغې پاليسي څه ده او هغه تر يوې ځانګړې مودې پورې پر بېلا بېلو موضوعاتو د څومره سرليکنو ليکل غواړي.

د ورځپاڼې د پاليسي زياته پيروي سره له دې چې د سرمقاله ليکوال آزادي محدودوي ليکن د تکړه ژورناليست په توګه د يوې ورځپاڼې د ليکنو له اداري سره د تړاو مطلب دا دی چې سرمقاله ليکونکی له کوم جبر او زور پرته د ورځپاڼې د پاليسي د وړاندې کولو مسؤوليت مني. که نوموړی کوم وخت داسې محسوس کړي يا دې پايلې ته ورسېږي چې د ورځپاڼې د پاليسي پيروي د هغه فکري سپېڅلتيا سره په ټکر کې ده نو نوموړی حق لري چې پرېکړه وکړي او له بلې يوې داسې اداري سره يو ځای شي چې هلته د دغه ټکر انديښنه نه وي. ليکن نن سبا ژورنالېزم د يوه صنعت او ژورناليست د يوه فنکار بڼه غوره کړې. د دې لپاره پرپاليسي د څنګزنو (فرعي) اختلافونو پرمهال د پوهاوي د لارې اېستل ستونزمن نه وي.

**xvii. مسلکي لاس تېزي:**

سرمقاله ليکوال ښايي ځينې داسې ځانګړنې هم ولري چې د هغو د لاسته راوړلو لپاره پرله پسې مطالعه، تمرين او رياضت اړين وي. په دې ځانګړنو کې د سرليکنې له فن او اسلوب سره بلدتيا هم شامله ده. سرمقاله ليکوال ته په دې ښه پوهېدل پکار دي چې د سرليکنې مناسب پيل څه ډول کېږي؟ تر بحث لاندې موضوع څه وخت روښانه کېږي؟ او نوموړی څه وخت او په کومو ټکو کې خپله پرېکړه وکړي؟ نن سبا په ورځپاڼو کې سرليکنو ته يو ځانګړی ځای ټاکل شوی دی. سرمقاله ليکوال نوموړی ځايته په پام سره سرليکنه او شذرات ليکي په لږو او مدللو ټکو کې د خپلو پټو ارمانونو څرګندول يو ستونزمن کار دی، د دې لپاره ډېر تمرين او رياضت پکار دی په دې فن کې له مهارت پرته د سرمقاله ليکنې او د مخونو د تورولو تر منځ توپير کول شوني نه دي.

د دې بحث پايله د «اې فرينک کنيډلن» په نظر داسې ده:

«د مدير تر ټولو لويه ښېګڼه د هغه د پرېکړې متوازن او غير جذباتي ځواک دی چې د نړۍ په پراخو تجربو ولاړ وي. له دې سربېره مدير بايد له هېوادنيو او نړۍ والو پېښو څخه په ښه توګه خبر وي. نوموړی بايد د دې موخې په هکله ثابت دريځ ولري. ځکه نوموړی عامه فکر رامنځته کوي. ځکه نو نوموړی له څو خواوو تر فشار لاندې وي، ولې نوموړی بايد له فشار، بډو او وېرې پرته خپل کار وکړي، د ژر پرېکړې وړتيا ولري، همدارنګه نوموړی بايد رښتينی، د ښو اخلاقو لرونکی او روڼ ذهنه وي. نه د چا پلوي وکړي او نه هم د کوم ګوند ملاتړ په خپل نظر ټينګ ودرېږي او د نورو د نظر درناوی هم وکړي»

**************
********
****
**

# نقش تلویزیون در تحولات دو دهه اخیر

شعیب رحیمی عضو کمیسیون اجرایی انجمن گهیځ

ما انسان‌ها، در شرایطی بسر می بریم که جهان در حال پیشرفت است؛ تغییرات و تحولات جدی و مهمی در عصر حاضر به وقوع می پیوندد. انسان ها هر روز با یک اختراع جدید روبرو می شوند. یکی از مهمترین پیشرفت‌های علمی این دوران، استفاده از رسانه‌ها به خصوص تلویزیون است. این رسانه توانسته است، نظر تمام دنیا را به خود جلب کند. تلویزیون با برنامه‌های جذاب و دیدنی خود خیلی زود در افکار مردم همه کشورها و شهرها و حتی روستا ها نفوذ می کند.



تلویزیون، از جمله رسانه‌های دیداری و شنیداری است که نقش ویژه‌ای در تحولات تاریخی و تغییرات افکار عامه در جوامع مختلف دارد. تغییرات و تحولات، سیاسی، اقتصادی، فرهنگی و اجتماعی همواره متأثر از نشرات تلویزیون‌ها در کشورها بوده است. از این لحاظ دولتمردان، شخصیت‌های اجتماعی و سیاسی تلاش میورزند تا نشرات تلویزیون‌ها را در اختیار خود داشته باشند. افغانستان، بعد از فروپاشی رژیم طالبان شاهد رشد بی‌سابقه، در عرصه اطلاع رسانی به خصوص تلویزیون بوده است که نمی توان از تأثیرات و نقش تلویزیون در تحولات کشور، به خصوص تحولات دو دهه اخیر اغماض کرد. از سوی هم، ما در حال حاضر در قرن بیست و یکم قرار داریم و دنیا هر لحظه در حال تغییر و تحول است. در هر شهر و روستایی که قدم بگذارید می بینید که فراگیرترین رسانه، تلویزیون است. اعضای یک خانواده را پیدا نمی کنید که در جریان روز حد اقل یکی دو ساعت از اوقات فراغت خود را به دیدن برنامه‌های گوناگون علمی، خبری، اجتماعی، سیاسی، اقتصادی، سرگرمی و ... آن اختصاص ندهند.

بیشترین مخاطبان رسانه‌ها را بینندگان تلویزیون تشکیل می دهند. در دو دهه اخیر شبکه‌های متعدد تلویزیونی در کشور ایجاد شد و به نشرات آغاز کردند؛ اما متأسفانه معیارهای تخصصی و دینی در نشرات آنها کمتر به نظر می رسد. تلویزیون‌های افغانستان تا رسیدن به سقف معیارهای رسانه‌یی و اسلامی فاصله زیادی دارد؛ زمانی می توانیم به رسانه‌های معیاری و آرزوهای خود دست یابیم که قوانین رسانه‌های همگانی را عملی کرده و مطابق ارزش های دینی و اسلامی جامعه خود نشرات داشته باشیم.

**نقش تلویزیون در عرصه‌ی سیاسی:**

در ابتدا تلویزیون‌هایی که در کشور ایجاد شد؛ چندان توجه جدی در عرصه‌ی سیاسی و تغییر افکار عمومی نداشتند. برنامه‌هایی که بیشتر سرگرم کننده بود نشر می شد. اما با مداخله و حمایت کشورهای غربی در عرصه رسانه‌ها به خصوص تلویزیون، بازار سیاسی این رسانه رونق گرفت؛ چون سیاستگذاران غربی بخوبی از نقش تلویزیون در تغییر افکار عامه آگاهی دارند؛ از این لحاظ نشرات بیشتر تلویزیون های فعال کشور را حمایت مالی نمودند تا بتوانند سیاست های خویش را از طریق اطلاع رسانی در جامعه‌ی نا آگاه و سنتی افغانستان عملی نمایند. خبر های ضد و نقیض که از کانال های مختلف به نشر می رسد اتفاقی نیست؛ موضع گیری های که برخلاف منافع ملی گرفته می شود تصادفی نیست؛ برخی از رهبران ما که در گرو کشورهای مختلف قرار دارند عاری از تأثیرات نشرات رسانه‌ها نیست، تفرقه افگنی‌های که بیشتر دامن زده می شود در اختیار ما نیست و ده ها موارد دیگر وجود دارد که

متأثر از نشرات تلویزیون است که کشور ما را سال ها به عقب زده است و نمی گذارد از لحاظ سیاسی استقلالیت خود را داشته باشیم. نقش تلویزیون در این تحولات و نابسانی نباید نادیده گرفته شود. و هم چنان فراموش نشود اگر نقش تلویزیون در عرصه اطلاع رسانی و خبری مؤثر و سودمند بوده است در کنار آن دهها اثر منفی هم از خود بجا گذاشته است.

**نقش اجتماعی تلویزیون در جامعه افغانی:**

نشرات تلویزیون در دو دهه اخیر در جامعه‌ی افغانی ما، امروز همه را آشفته و سرگردان کرده است و بنیاد خانواده و دوستی را از بین برده است. با آنکه تلویزیون، نقش اساسی در ساختار اجتماعی دارد اما جامعه ما شاهد تأثیرات منفی آن بوده و دیدن برنامه های گوناگون تلویزیون بالای روان افراد جامعه نقش مثبت نداشته است.



همیشه نشرات تلویزیون مثبت و سودمند نیست، بلکه در بعضی از اوقات به صورت کامل مضر است و آسیب های مختلفی را به خانواده ها می رساند.

برنامه‌ها، کارتون‌ها، سریال ها و فلم‌هایی که از شبکه‌های مختلف کشور پخش می شود از موضوعات مختلف عاطفی، جنگی و خشن برخوردار است؛ در نتیجه بعضی از این برنامه‌ها و سریال‌هایی که از شبکه های مختلف تلویزیون پخش می شود دارای صحنه های خشن، زد و خورد، درگیری، قتل و جنایت است. در چنین وضعیتی کودکان ما در مقابل این رسانه قرار می گیرند؛ در نتیجه ضررهای مختلفی در اثر دیدن این برنامه ها عاید فرزندان ما می گردد.

بیشتر برنامه‌هایی که امروز از طریق تلویزیون های افغانستان پخش می شود، اثرات جبران ناپذیری را برنسل نوجوان جامعه ما می گذارد. وقتی فرزندان ما، با صحنه‌های سراسر پر از قتل، جنایت و خون ریزی روبرو می شوند بر جسم و روح و روان آنها هم اثر خواهد گذاشت. نا امنی، دزدی و اختطاف در جامعه به شکل گسترده وجود دارد؛ مردم با روح پر از ترس وحشت از خانه‌های خود بیرون می شوند؛ اعتبار زندگی کردن در جامعه‌ی ما روز بروز کمتر شده می رود و چندین نابسامانی‌های دیگری که مردم ما از آن رنج می برند تصادفی نیست؛ بل تولید پخش برنامه‌ها و سریال‌های شبکه‌های تلویزیونی در کشور است.

**تأثیرات نشرات تلویزیون بر فرهنگ:**

در این شکی نیست؛ که ما دارای فرهنگ غنی اسلامی و افغانی هستیم. کشور ما دارای تمدن و آثار باستانی فراوانی است. ولی در دو دهه‌ی اخیر، شاهد از میان رفتن فرهنگ ما بوده ایم؛ فرهنگ و عنعنات ما مورد هجوم گسترده از طریق تلویزیون قرار گرفته است که آخرین نفس‌های خود را می کشد. شبکه‌های تلویزیونی در نشرات خود امروز فرهنگ و رسم و رواج ما را نادیده می گیرند؛ به جای نشر برنامه‌های که مطابق دین و فرهنگ ما باشد برنامه‌های مخرب و سریال‌های را که با روح دین و فرهنگ ما سازگاری ندارد به نشر سپرده می شود. برنامه های دینی و فرهنگی که اطفال ما را تربیه می کند در اصل در جدول نشراتی آنها دیده نمی شود. برنامه‌های که برای زنده نگهداشتن فرهنگ ما مؤثر است به آنها توجه صورت نگرفته است. هجوم فکری و فرهنگی در دو دهه‌ی اخیر چنان گسترده است که حتا حکومت افغانستان توان جلو گیری آنرا ندارد. شخصیت های دینی و فرهنگی به انزوا کشانیده شده است و جایگاه خود را در جامعه از دست داده اند. مکان‌های فرهنگی و دینی که

افتخار کشور ما است در باسازی آن توجه نمی شود. در نهایت حالا نشرات در افغانستان طوری آزاد است که کمتر و حتا به فرهنگ اصلا ارزش قایل نیستند.

**تأثیر پذیری اقتصاد از نشرات تلویزیون:**

همه می دانیم که سیستم حاکم نظام اقتصادی ما بازار آزاد است. تلویزیون ها هم هر روز به گسترش آن اعلانات به نشر می سپارند. بانک‌های موجود همه سودی است و سرمایه داری را اساس کار خود قرار داده اند. بنا برین سیستم در اصل مشکل دارد و اقتصاد عده کمی از مردم را که سرمایه دار هستند در نظر می گیرد. ما امروز از بیکاری، فقر و بیچاره گی سخت رنج می بریم. بیش از ٥٠ در صد مردم ما فقیر هستند. و تلویزیون‌ها در دو دهه اخیر برای بهبود وضعیت زندگی مردم کاری کرده نتوانسته اند.




**ضررهای تلویزیون در دو دهه اخیر:**

١- یکی از مهمترین آفت‌های برنامه های تلویزیون، اعتیاد و عادت کردن است. برخی از مردم ما، طوری معتاد شده اند که اگر چند روز برق نباشد و یا تلویزیون شان خراب شود افسرده می شوند، ما با توجه به عادت کردن به این وسیله دچار مشکل خواهیم شد. همچنین از آسیب‌های عادت کردن به تلویزیون کم رنگ شدن عنصر خلاقیت در انسان ها می باشد، در نتیجه انسان هر چه بیشتر معتاد به برنامه های تلویزیون گردد خلاقیت در او کمرنگ و از طرف دیگر کنار گذاشتن آن مشکل تر خواهد شد.

٢- از ضررهای تلویزیون این است که انسان را زیاده طلب بار می آورد. به علت آنکه برنامه‌ها و سریال‌های این رسانه حالت انفعالی دارند؛ در نتیجه انسان وقتی یک سریال را دید دلش می خواهد برنامه های بیشتری را ببیند و هیچگاهی سیراب نخواهد شد. همواره فکر و اندیشه‌ی آن به تماشای تلویزیون می باشد؛ از درس و مطالعه باز میماند. ما مشاهده می کنیم که فرهنگ مطالعه و کتاب خوانی در دو دهه اخیر به سبب نشرات تلویزیون رشد نکرده است.

٣- یکی دیگر از آسیب‌های برنامه های تلویزیون عدم حرکت ذهن است یعنی اینکه در اثر تأثیراتی که این برنامه‌ها بر سلول‌های مغز انسان می گذارد و حواس انسان را دچار پریشانی می کند. امرروز در نتیجه نشرات دو دهه اخیر می بینیم که افغان ها بیشتر دچار افسردگی هستند و قادر به کنترول خود در مواقع مختلف نیستند.

٤- از دیگر آسیب‌های برنامه‌های تلویزیون عدم رشد عاطفی انسان است، چون ارتباط کلامی بین فلم و بیننده برقرار نیست و ارتباط یک طرفه است، در نتیجه انسان دچار خلای عاطفی می گردد. مردم ما رفته رفته حس انسان دوستی و حس وطن دوستی شان کمتر شده است.

٥- یکی دیگر از این ضررها، تخریب شخصیت است؛ یعنی برخی از برنامه‌ها واقعیت آنچه در جامعه می گذرد را نشان نمی دهند. رسانه ها سریال‌هایی را انتخاب می کنند که یا در مورد آدم های خیلی خوب است و یا خیلی بد، یا در مورد آدم های خیلی پولدار است و یا خیلی فقیر. در نتیجه باز خورد این برنامه ها این می شود که جامعه دچار نوعی دوگانگی و تخریب شخصیت می گردد. افغان ها امروز از هم جدا شده اند پولدار به فکر غریب نیست و غریب هم در مقابل پولدار مغرور، در نتیجه مردمی که با هم برادر هستند از هم فرسنگ ها فاصله دارند.

بد آموزی رفتاری، ترویج مباح بودن رابطه پسر و دختر، بد دهانی و بد لحنی در گفتار، بی هدفی در زندگی، ترویج فرهنگ اسرافی گری و اشرافی گری، سرگرمی‌های بی مورد و برگزاری مسابقات پوچ و بی هدف برای گرفتن یک جایزه اندک، مشکلات جسمی مثل خستگی زیاد، کوتاه شدن زمان خواب، ضعیف شدن جسم انسان و تبلیغ الگوهای نامناسب از آسیب های دیگر تلویزیون می باشد که متأسفانه مردم ما از آن رنج می برند.

# رسنيو ته د مسلکي راپور ليکلو تګلاره!

د ګهيځ ټولنې غړی صبغت الله سجاد

د خبري ژانرونو له ډلې څخه يو مهم ژانر راپور دی چې د خبر نيمګړې برخې بشپړوي، سپړي يې او د يوې پېښې او موضوع په اړه تفصيلي معلومات مخاطبانو ته وړاندې کوي، کوم چې په خبر کې نه وي ذکر شوي
په فارسي ژبه کې د راپور مترادفه کلمه ګزارش دی چې ګزار يې اسم مصدر دی او (ش) وروستاړی ورسره يو ځای شوی چې ګزارش ترې جوړشوی دی. او ددې مصدر يې بيا ګزاردن دی.
د ګزارش کلمه د (Report ) لاتيني کليمې څخه اخيستل شوې چې معنا يې د اطلاعاتو بازګشت دی.
هارون نجفي زاده په خپل اثر (روزنامه نګاری کاربردی) کې د اطلاعاتو بازګشت داسې توضيح کړی دی: کله چې يو څوک د پېښې له ځايه د پېښې په اړوند دقيق او کره معلومات راټول کړي او د يوې رسنۍ له لارې يې د مخاطبانو په واک کې ورکړي دې ته د اطلاعاتو بازګشت وايي. همداراز په انګليسي ژبه کې د report)) مصدر (to report) ده چې د تېرو پېښو د انعکاس معنی لري.
لکه څرنګه چې ژورناليزم د ټولنيزو علومو څخه دی او دا چې په ټولنيزو علومو کې د وخت په تېرېدو سره بدلون راځي نو په همدې اساس د ژورنالېزم پوهان تر دې مهاله راپور ته په يو منل شوي او جامع تعريف نه دي سلا شوي، بلکې هر يو له خپله ځان څخه يو تعريف ورته ورکړی دی.
ځينې وايي راپور د خبر بشپړونکې او پراختيايي بڼه ده، چې له خبره بهر توکي مخاطبانو ته وړاندې کوي، سره له دې په يو بل ځای کې د خبر تعريف دا ډول راوړل شوی دی، چې د خبر شپږګونه عناصرو ته چې: څوک؟ څه شي؟چېرته؟ څه وخت؟ ولې؟ او څرنګه؟ دي، توضيح او تشريح کوي، او تر ډېره د ولې؟ او څرنګه؟ د پوښتنو په ځوابولو راڅرخي، څو د مخاطبانو هغه پوښتنې چې په خبر کې نه دي ځواب شوې په راپور کې پيدا او ځواب شي.
خبر او راپور اصلا دواړه په يو ډول ژورناليستي ليک بڼې پورې اړه لري او دواړه د معلوماتو د لېږد لپاره کارول کېږي، له همدې امله راپور هم د خبر په څېر ليکل کېږي، نو ځکه خو يې ژبه بايد د خبر په څېر څرګنده، روانه او ساده وي.

**د راپور مراحل:**

ټول راپورونه که هغه ټلويزيوني، راډيويي، آنلاين او يا هم چاپي خپرونو لپاره چمتو کېږي د لاندې دريو پړاونو څخه تېرېږي.
۱ـ د موضوع ټاکنه: له هر څه وړاندې لومړی بايد مونږ د راپور موضوع و ټاکو. بې تجربې او لېټ ژورناليستان تل د خپلو ژورناليستيکو فعاليتونو د ترسره کولو لپاره د موضوعاتو په ټاکلو کې له ستونزو سره مخ وي، او ډېر کله خو د ډېرو بې ګټې او تکراري مسايلو انعکاس ته هم زړه ښه کوي. په هر حال د موضوعاتو ټاکنه هم ځانګړی استعداد او ټولنيزه پوهه غواړي که څه هم په تازه راپورونو کې زياتره د راپور سرچينې خبري کنفرانسونه، غونډې، مراسم، آرشيفونه، مشهور اشخاص، څېړې، شخړې، ټکرونه، چاودنې او طبيعي پېښې، لکه: زلزله ،طوفانونه، غرشوېدنه، سېلابونه او نور بللی کېږي، اما په توليدي او تحليلي راپورونو کې موضوع د رسنۍ د اداري لخوا خبريال ته ورکول کېږي او يا هم خپله خبريال موضوع ټاکي او د هغې په اړه راپور جوړوي. چې دا کېدای شي د خبرونو د ځينو هغو نيمګړو اړخونو،چې لوستونکي، اوريدونکي يې په اړه نور معلومات غواړي بشپړول او څېړل وي.
خو د راپور لپاره مونږ بايد؛ د ورځنيو روانو او مهمو مسايلو او جريانونو څخه داسې موضوعات وټاکو، چې په هر اړخيزه توګه د خلکو د پاملرنې، تحليل او تفسير وړ وي.
ځکه که پر داسې مسايلو مونږ راپور او خبر ليکو چې هغه خبري ارزښت ونه لري، خلک د هغې په هکله لوستل نه غواړي، يا ورسره مينه نه لري، نو طبيعي خبره ده چې لوستونکي هم بيا پرې خپل وخت نه ضايع کوي او لوستنې اوريدنې او کتنې ته يې زړه نه ښه کوي او زمونږ هغه زيار هم هسې په اوبو لاهو کېږي چې د راپور پر جوړونه مو ايستلی دی.
۲ـ د معلوماتو راټولول: کله مو چې د راپور لپاره يوه ښه موضوع وټاکله يا د دفتر له لوري يوه موضوع راکړل شوه. نو اوس د ټاکلې موضوع په تړاو د معلوماتو د راټولولو لپاره يو منظم پلان جوړوو او له بېلابېلو مراجعو، کتابونو

انټرنټ او آرشيفونو څخه د معلوماتو لپاره ګټه اخلو، د موضوع د تېر حالت او تاريخي قدامت لپاره کيداى شي چې د بېلابېلو کتابونو او آرشيفونو مطالعې ته اړتيا پيدا شي او په دې ډول په دغه مرحله کې مونږ د موضوع په تړاو په هر اړخيزه توګه پريمانه معلومات راټولوو.او يوه ذهني خاکه ورته جوړو مثلاً: که مونږ وغواړو د (هوا د ککړتيا مخنيوي) په اړه يو توليدي يا تحليلي راپور جوړو کړو، نو لومړى هغه سرچينې ټاکو چې د موضوع سره تړاو لري او لومړى لاس سرچينې هم ورته وايي. لکه د چاپېريال ساتنې د ملي ادارې رئيس، وياند يا بل کوم چارواکى د عامې روغتيا چارواکي، ډاکتران، ښاريان او د هغه ځايونو څښتنان چې د هوا دککړتيا لامل بلل کېږي. له دوى نه بايد مرکې، غږونه، او کليپونه را واخيستل شي، تصويرونه يې برابر شي او داسې نور اړين اقدامات.

په ورځنيو تازه پېښو او غونډو کې خبريال ته لازمه ده چې پېښه او غونډه د لومړي سر څخه تر پايه تعقيب کړي د ځان سره ځيني مهم ټکي نوټ کړي او که راپور ټلويزيوني وي او اړتيا وي نو بايد سټنډاپ، هم ورته غوره کړي او وورسته يې نور اړين معلومات راټول شي. او لر ليد يا پس منظر يې هم وڅېړل شي.

۳ـ د راپور ليکل: کله چې مو د يوې موضوع په تړاو ډېر معلومات ترلاسه کړل، مواد مو راټول کړل، کليپونه مرکې خبري ټوټې، تصويري ټوټې، غږونه، سټنډاپ او نور ترتيب شول، اوس نو د هغې د ځاى پر ځاى کولو او ليکلو مرحله پيلېږي. دا مرحله هم د کمزورو ژورناليستانو لپاره له ستونزو او کړاوونو ډکه مرحله ده. دا ځکه چې په دغې مرحله کې د ژورناليستانو د ليکنې ځواک معلوميږي، چې څنګه مخاطبانو ته خپل پيغام په اغېزناک او راښکونکي ډول ولېږدوي.

د راپور ليکلو لپاره تر هر څه لومړى دا اړينه ده چې ژورناليست بايد د راپور ليکنې تجربه او وړتيا ولري. او دا کار هغه مهال کيداى شي چې ژورناليستان د ليکنې له مهارتونو، طريقو او اصولو سره بلد او هم د ژبې له ادبياتو خبروي. کېداى شي مونږ د راپور لپاره يوه پراخه موضوع ټاکلې وي او معلومات مو هم زيات راټول کړي وي خو اوس د راپور ليکلو په پړاو کې مهم شى د راپور زاويه ده چې مونږ په مشخص لوري بيايي، تر ټولو شکلي راپور هغه وخت چمتو کېداى شي چې په مشخصه زاويه را وڅرخي، ځکه څو زاويې لرونکى راپور له مخاطبانو لار ورکوي مثلا: که وغواړو د هېواد د اداري فساد په اړه راپور چمتو کړو او معلومات مو هم په دې برخه کې ټول کړي دي، خو بيا په همدغه راپور کې مونږ د هوا د ککړتيا موضوع يادوو نو دا بيا يو غير مسلکي کار دى ځکه زمونږ له راپور سره تړاو نه لري لازمه ده چې د هوا ککړتيا په هکله بل راپور چمتو کړو.

د راپور د زاويې ټاکلو څخه بل هدف دا هم کيداى شي، چې څه پېښ شوي وي او حقيقت ولري په همغه زاويه خپل راپور را تاو کړو.

۴- د راپور را ټولونه او ترتيب:.د زاويې تر ټاکلو وروسته د راپور په ليکلو پيل کوو، د ژورناليزم پوهان راپور د جوړښت له پلوه پر څلورو برخو (عنوان، ليډ، متن، شاليد) باندې وېشي.

عنوان د راپور لومړى مهمه برخه ده، چې راپورټر يې د مخاطبانو د پاملرنې د راجلبولو په موخه په خپل خاص مهارت سره، په ډېر راښکونکي او جالب انداز سره راوړي. اصلاً عنوان راپور ته د لوستونکو د ورماتولو په موخه راوړل کېږي.

که مو پام کړى وي، د ورځپاڼو لوستونکي لومړى د ورځپاڼې پر صفحو ځغلنده نظر تېروي او يوازې عنوانونه لولي، کوم عنوان چې ورته جالب او په زړه پورې ؤ؛ همغه مطلب د لوستنې لپاره انتخابوي.

نو په هره اندازه چې عنوان جذاب وي، په همغه اندازه به ډېر لوستونکي راپور د لوستنې لپاره انتخاب کړي.

له عنوانه وروسته ليډ يا افتتاحيه چې د راپور لومړى برخه او د راپور شيره هم ورته وايي راوړل کېږي، چې د خبر څو پوښتنو ته يکې ځواب هم ويل کېږي. ليډ کيداى شي، چې د يو مشهور شخص د خبرو او يا د موضوع پر يوې برخې داسې پيل شي، چې لوستونکي د پاتې مطلب لوستلو ته وهڅوي.

د ليډ په تعقيب د راپور په متن کې، خبريال موضوع په هر اړخيزه توګه تر څېړنې لاندې نيسي، د حقايقو رښتينولى په رڼا کې تحليل او تفسير کوي، نقل قولونه، اسناد او شواهد وړاندې کوي، او بالآخره د راپور په پاى کې خبريال د راپور لمن رانغاړي. د موضوع شاليد، او د موضوع د تېر حالت او تاريخي قدامت په اړه هم معلومات وړاندې کوي.

**مأخذونه:**

• نذير احمد سهار، د راپور ليکنې آرونه
• سمندر، رحيم الله، د نوي ژورناليزم آرونه، نبراسکا مطبعه، ۱۳۸۴ل.
• عطيش، پوهنمل نقيب الله، ليکچر نوټ، شيخ زايد پوهنتون.
• انټرنټ، د ژورناليزم زده کړه، فيسبوک پاڼه.

# د فساد په مخنيوي کې د رسنيو ونډه

امان الله تاند

وړاندې تر دې چې د فساد پر وړاندې د رسنيو پر رول ليکل پيل کړو، اړينه ده چې لوستونکي لومړی د فساد په اړه لا ډېر وپوهېږي نو لومړی غواړو فساد، د فساد ډولونو او د هغو لارو او لاسونو په اړه چې فساد پکې په ترتيب سره پلې کېږي او ونډه لري ليکل وکړو.

فساد څه ته وايي: د فساد پېژندنه شايي ستونزمنه په دې وي چې د فساد ترسره کوونکي، وخت ته په کتو له مختلفو لارو او طريقو څخه کار اخلي، ترڅو فساد د خلکو پر وړاندې په يو ډول قانوني عنصر ثابت کړي، او خپلې شخصي ګټې په دې توګه ترلاسه او عامه ګټې کمې او يا لا له منځه يوسي.

په لنډ ډول او د روښتيا نړيوالې ادارې د تعريف له مخې ويلی شو: د شخصي ګټو لپاره د سپارل شوې دندې څواک کارولو ته فساد ويل کېږي. اوس د پورتني تعريف له مخې د فساد درې عناصر په لاندې توګه يادولی شو:

• شخصي او دولتي ادارې: يعنې فساد په دولتي او شخصي ادارو کې ترسره کېږي او افراد، سياسي ډلې، او ګروپونه په دې کې راتللی شي.

• د واک څخه ناوړه ګټه اخيستنه: په شخصي او يا دولتي ادارو کې د سپارل شوې دندې څخه ناوړه ګټه اخيستنه.

• ګټه اخيستنه: دواړه خواوې د فساد له لوري د ګټې اخيستنې په هڅه کې وي.

ډېری وخت اړينه نه ده چې ګټه اخيستنه دې روپۍ وي، مګر کېدای شي په يو ډول ګټه ترلاسه کول وي. د بېلګې په ډول: په ځينې هغو ټولنو کې چې د فساد کچه پکې زياته وي، که يو څوک وغواړي چې روغتيايي آسانتياوو او يا تعليم ته لاسرسی پيدا کړي، هغوی اړ دي ترڅو رشوت ورکړي. نو په ورته حالتونو کې يوازې هغوی چې د رشوت ورکولو وړتيا لري، روغتيايي او تعليمي آسانتياوې ترلاسه کولای شي او بس. او په دې ډول يوه ډله د خپل اصلي حق (روغتيايي آسانتياوو او تعليم) په برخه کې رشوت ورکوي، او بله ډله چې عامو خلکو ته د (روغتيا او تعليم) په برخه کې د آسانتياوو برابرولو لپاره ګومارل شوې او دنده يې ګڼل کېږي ناوړه پيسې (رشوت) ترلاسه کوي.

فساد کېدای شي په لويه يا کوچنۍ کچه ترسره شي.

په لويه کچه: فساد په لويه کچه په دولتي ادارو او همدارنګه په شخصي ادارو کې په هغو برخو کې ترسره کېږي، چېرته چې پاليسۍ، اجرائيوي پرېکړې او قوانين جوړېږي. په دې کچه کې په لويه کچه روپۍ ښکته پورته کېږي او دې کچې ته سياسي فساد هم ويل کېږي، هلته چې سياسي غونډې، سياسي پروسې او سياسي ډلې د روپو په منفي اغېزو سره جوړېږي او پرمختګ کوي.

په کوچنۍ کچه: په دې برخه کې معمولاً د دولتي ادارو کاروونکو او عامه خلکو ورځنۍ ليدنې او کتنې راټولولی شو. داسې چې هغه دولتي ادارې چې شته او جوړ شوي قوانين او پاليسۍ پلي کوي، هغوی د عامو خلکو څخه د روپو اخيستو په بدله کې خدمتونه وړاندې کوي او د خپلو ورسپارل شوو دندو څخه ناوړه ګټه پورته کوي.

د بېلګې په ډول: د ټکسي موټر چلوونکی د ترافيکو قوانينو خلاف کړنه ترسره کوي، د دې پر ځای چې د ترافيکو پوليس ياد موټر چلوونکی قانوني جريمه کړي، د لږو پيسو په مقابل کې چې د ټکسي موټر چلوونکي څخه يې ترلاسه کوي، نومړی پرېږدي او په دې توګه شته او جوړ شوي قانون ماتېږي او هره ورځ په ورته برخو کې بېلې او رشوت ښکته پورته کېږي کوم چې د جوړ شوو قوانينو پر وړاندې خنډونه جوړوي او د پلي کېدو اغېزې يې تر پوښتنې لاندې راولي.

مونږ په آسانه توګه نه شو ويلای چې د فساد کوچنۍ کچه په کوم ځای کې ختمېږي او يا د فساد لويه کچه په کوم ځای کې پيل کېږي. دا ځکه چې په سياسي فساد کې ډېر وخت سياسي ډلې د خلکو عامه رايې په پيسو اخلي او د خپلې خوښې څوکۍ ترلاسه کوي او په دې ډول خپلې خوښې او ګټې ته په کتو وګړي په مختلفو برخو کې په دندو ګماري. کله چې په ټيټه برخه کې دولتي کارکوونکي خپلې بوختياوې ترسره کوي هغوی اړ دي ترڅو د عامو خلکو څخه بډې ترلاسه کړي، ځکه په لوړه سطحه

د هغوی سره د ترسره شوي هوکړې له مخې د هغوی له قانوني معاش څخه يوه يا څو برخې معاش (تنخوا) د هغوی له خوا چې دوی يې په دندو ګمارلي ترلاسه کېږي. په دې ډول عامو خلکو ته ډېره ستونزمنه ده ترڅو د فساد دغه کړۍ معلومې کړي او د فساد دا څنځير پرې کړي.
تقريباً ډېر څېړونکي په دې باور دي چې رسنۍ په ولسواکۍ، ښې حکومتولۍ، اقتصادي پرمختيا، او د فساد پر وړاندې په مبارزه کې ستر او ځانګړی رول لري. پر همدې بنسټ ويلی شو رسنۍ چې د معلوماتو شريکولو په برخه کې په پراخه کچه لوستونکي او اورېدونکي لري، کولای شي د فساد کچې په ښکته کولو کې ښه ونډه ولري.
بلخوا رسنۍ د فساد پر وړاندې د حکومت، اړينو ادارو او سوداګريزو بوختياوو په اړه د معلوماتو ځانګړې لارې وړاندې کوي او په دې توګه عام خلک د دې جوګه کوي ترڅو اړوندې اداري حساب ور کولو ته اړ باسي. يعنې په ټوله کې د فساد بدې پايلې او اغېزې بربنډوي او په اړه يې ټولنې ته د معلوماتو وړاندې کولو په برخه کې عامه پوهاوی زياتوي. او زياتره وخت هغه سياسي ډلې چې په فساد کې ښکېلې وي، بربنډوي چې له يوې خوا سياسي ډلې چې په فساد کې ښکېلې وي د سياسي خطر له وېرې سره مخ کوي او له بلې خوا د ټولنې عامو وګړو ته دا زمينه برابروي ترڅو هغه ډلې او اشخاص چې په فساد کې ښکېل وي په راتلونکې کې د خپلو پاکو رايو څخه بې برخې او د خپلې ښې راتلونکې لپاره د فساد څخه پاک اشخاص د خپلې ټولنې خدمت ته په کار وګماري.
د اقتصادي همکارۍ او پراختيا سازمان د څېړنو پر بنسټ، رسنۍ د فساد پر وړاندې د عامه پوهاوي په برخه کې څکه رغنده رول لري چې تر اوسه دوه سلنه د فساد اړوند اړينې او سترې پېښې د رسنيو د راپورونو پر بنسټ بربنډې شوې او خلک پرې خبر شوي دي.
دا چې رسنۍ د فساد په برخه کې د عامه پوهاوي لپاره کار ترسره کوي، د هغې ترڅنګ هغه پېښې چې له فساد سر ه مرسته کوي او يا د فساد اړوند پېښې وي، د هغې په اړه د راپورنو جوړولو او د يادو پېښو څېړلو په برخه کې هم دنده ترسره کوي.
د فساد پر وړاندې د رسنيو رول هغه وخت ډېر اغېزناک ثابتېدلی شي، کله چې رسنۍ په قانوني چوکاټ کې دننه خپل آزاد کار ته پرېښودل شي او د کومې ډلې تر منفي اغېزې لاندې نه وي. دا څکه ډېری وخت رسنۍ هڅه کوي ترڅو د فساد اړوندې پېښې د خپلو راپورونو برخه وګرځوي، مګر د ځينو ځانګړو اشخاصو او ډلو د ګواښونو او ځورونو سره مخ کېږي تر دې چې د رسنيو يو شمېر کار کوونکو خپل ژوند هم پکې بايللی دی. او ښه بېلګه يې په مالتا هېواد کې د پاناما اسنادو مخکښه څېړونکې ژورنالېستې(Daphne Caruana Galizia) ډېفنې کاروانا ګاليزيا ده چې په ۲۰۱۷ کال کې په يوې بمي چاودنه کې ووژل شوه او د وژنې پړه يې يوازې د نوموړې فساد ضد کړنو اچول کېدای شي او بس، څکه بل چا يې د وژنې پړه پر



غاړه وانخيسته. د پاناما او يا هغه مواد چې له رسنيو سره د فساد اړوندو پېښو په څېړلو او خپرولو کې مرسته کوي، رسنيو ته د معلوماتو شريکولو قانون په خلاف په لاس نه ور کوي او پر وړاندې يې بېلابېلې ستونزې جوړوي. ترڅو د فساد بدې پېښې د عامو خلکو څخه پټې وساتل شي او په دې توګه د ټولنې يوه ځانګړې برخه د شوي فساد څخه ګټه پورته کوي او د عامو خلکو حق لوټوي.
ځينې وخت داسې هم شوي چې د رسنيو پر وړاندې خنډ نه وي چې رسنۍ دې د فساد اړوندو پېښو راپور کولو او بربنډولو په اړه وګواښل شي، مګر د رسنيو ځينې کار کوونکي په لوی لاس هغو کسانو ته چې په فساد کې لاس لري دا زمينه برابروي، ترڅو هغوی ته په مادي او يا نورو برخو کې د امتيازاتو منلو سره فساد ته لاره هواره کړي.
دلته ده چې د څېړنيز ژورنالېزم اړتيا پيدا کېږي او په دې برخه کې بايد ټول هغه اصول او اخلاق چې د رسنيو کارکوونکو لپاره اړين بلل کېږي، د هغوی مقدسه دنده لا

پرې ځلیږي او هېڅ چا ته د څه منلو په بدله کې دا اجازه ور نه کړي ترڅو د فساد اړوند معلومات د پوښښ په برخه کې د خنډ سره مخ کړي.

**د فساد څو بېلګې چې رسنیو بربنډې کړې:**

لکه څنګه مو چې مخکې یادونه وکړه، رسنۍ د فساد اړوند پېښو رابرسېره کولو کې رغنده ونډه لري، مګر دا چې رسنۍ تر پخوا د ښو وسایلو او امکاناتو لرونکې دي، کولی شي د فساد ژورې پېښې هم په ښه توګه وڅېړي او رابرسېره یې کړي.

رسنۍ په ځانګړې توګه کولی شي د فساد کچې په راکمولو کې ښه ونډه ولري، دا ځکه چې د ترسره شویو څېړنو له مخې د نړۍ په کچه د فساد سترې پېښې د بېلګې په توګه د پاناما کاغذونه یا اسناد چې په ۲۰۱۷ میلادي کال اپریل میاشت کې د یوه څېړنیز راپور چې شاوخوا پنځه کاله پرې کار شوی ؤ، خپاره شول او د هغو لسو هېوادونو مشرانو او سیاسیونو پانګې او سرمایې یې چې په پاناما هېواد کې یې پټې ساتلې وې په نړیواله کچه رابرسېره کړې.

د فساد بله بېلګه په بنګله دیش هېواد کې داسې یادولی شو چې د کاناډا هېواد اړوندې یوې عامه کمپنۍ( Niko Resources ) چې د تیلو او ګازو په برخه کې کار کوي، په ۲۰۰۵ میلادي کال کې یې د کېندنو په برخه کې په بنګله دېش کې فعالیت کولو. د نومورې کال په جون میاشت کې د یاد هېواد (The Daily Star) ورځپاڼې د یادې کمپنۍ یوه مشر (Brian J Adolph) او د بنګله دیش هېواد د انرژۍ وزیر (Mosharraf Hossain) هغه بربښنا لیکونه (ایمیلونه) رسنیز کړل چې د دواړو ترمنځ تبادله شوي وو. په یادو لیکونو کې د یادې کمپنۍ یوه مشر له بنګله دیشي وزیر څخه د کمپنۍ د ادارې په استازیتوب ځانګړې مننه کړې وه، چې د یادې کمپنۍ سره یې په یاد هېواد کې مرسته کړې او په راتلونکې کې یې ورسره د لازیاتو مرستو کولو هیله هم څرګنده کړې وه. د لیک په یوه برخه کې دا هم راغلي وو چې د یادې کمپنۍ مشر بنګله دیشي وزیر ته د لوړې بیې د یوه موټر ډالۍ کولو او د هغې ترڅنګ بنګله دیشي وزیر ته د نیو یارک د سفر بلنه او د سفر د مصارفو پرېکولو وعده هم ورکړې وه. مګر وروسته ثابته شوه چې دا منني او ډالۍ او د سفر بلنه د هغې پېښې په بدل کې وو چې د یادې کمپنۍ په یوه برخه کې چې د ګازو د پلټلو لپاره یې کېندنه ترسره کوله، ستره چاودنه ترسره شوې وه، ځایي اوسېدونکو ته یې ستونزې جوړې کړې وې او خلک یې پر وړاندې لاریونونو ته اړ شوي وو. د یادو لاریونونو تتولو او آراملو په اړه د کاناډا هېواد اړوندې کمپنۍ مشر او د بنګله دېش هېواد د انرژۍ وزیر ترمنځ د ډالۍ او منني اړخونه چې د عامو خلکو ستونزې یې لاپسې زیاتولی شوې د ((The Daily Star ورځپاڼې له لوري بربنډ شول.

په افغانستان کې چې د فساد کچه تر پخوا ډېره او په اړه یې په ملي او نړیواله کچه راپورونه مخې ته راځي، رسنۍ کولی شي د عامو وګړو، اړوندو ادارو او همدارنګه د نړیوالو مرستندویانو لپاره د فساد ټولې پېښې وڅېړي. خو هغه ستونزې چې د رسنیو مخه یې په دې برخه کې ډب کړې د مافیایي کړیو شتون دی چې د رسنیو کارکوونکي آزاد کار ته نه پرېږدي. او بله ستونزه چې د فساد اړوند پېښو څېړلو په برخه کې شتون لري، د رسنیو کار کوونکي د فساد برخې د راپور ورکولو په اړه د عملي او علمي تجربو له کمښت سره مخ دي. په همدې بنسټ اړینه ده ترڅو دولت د هغو مافیایي کړیو مخه ونیسي چې رسنۍ آزاد کار ته نه پرېږدي. او همدارنګه دولت باید د څېړنیز ژورنالېزم په برخه کې داسې بنسټونه رامنځ ته کړي چې کولای شي دولت سره د فساد اړوند پېښو په پیدا کولو کې مرسته وکړي، او د رسنیو ځوان قشر او بشري ځواک په پرمختګ کې د راتلونکې لپاره ګټور ثابت شي.

کله چې رسنۍ د فساد په اړه عامه پوهاوی زیات کړي، دا نه یوازې د فساد کچې په را ښکته کولو کې ونډه لرلی شي، بلکې د هغو دولتي او خصوصي ادارو سره هم د پالیسیو او قوانینو په جوړولو کې مرسته کولی شي، کومې چې غواړي د فساد تېرو تجربو ته په کتو د راتلونکې لپاره پلانونه جوړ کړي. هغه محصلان چې د اجتماعي علومو او په ځانګړې توګه د رسنیز کار په برخه کې زده کړې کوي هغوی باید د څېړنې او مونوګراف برخه د فساد پر وړاندې د رسنیو رول او ونډې ته ځانګړې کړي. په دې توګه لاسته راغلې پایلې کولای شي له یوې خوا د رسنیو کار کوونکي د فساد اړوندو پېښو په سمه توګه څېړلو، راپور کولو او خپرولو ته متوجه کړي او له بلې خوا د فساد مخنیوي په برخه کې ګمارل شویو اشخاصو او اړوندو ادارو سره د پالیسو او قوانینو جوړولو په برخه کې هم مرسته وکړي.

**ماخذ:**

- https://www.transparency.org/what-is-corruption
- https://www.theguardian.com/world/2017/oct/16/malta-car-bomb-kills-panama-papers-journalist
https://panamapapers.sueddeutsche.de/articles/57162ccca1bb8d3c3495bc5e/
- https://www.oecd.org/corruption/anti-bribery/The-role-of-media-and-investigative-journalism-in-combating-corruption.pdf

# د ادبي اثارو ډېربښت او ادبي کره کتنه

ګل رحمان رحماني

اوس چې تر بل هر وخت په پښتو ژبه کې د لیکوالو او چاپېدونکو اثارو شمېر زیات شوی، یا په بل عبارت هر څوک د لیکوالۍ او تخلیق هوډ لري، نو دې چارې د ادبي کره کتنې اړتیا هم تر بل هر وخت لوړې کچې ته رسولې ده، خو له بده مرغه چې لا هم د کره کتنې معیار ښکته او د علمي اصولو پر ځای پر ذوقي مسایلو او تر عادي نظري نقد پورې محدود دی.

زموږ د ادبي کره کتنې یو پړاو داسې هم ؤ چې کره کتنه د هر چا صلاحیت ګڼل کېده او ادبي کره کتنه مو منفي پاله وه. کره کتونکو به یوازې د اثر په منفي خواوو پسې د نقد څراغ را اخیستی ؤ او په رڼا کې به یې د اثر په ګڼو ښېګڼو هم په بې پروایۍ پښه اېښوده، د دوی کوښښ دا ؤ چې د خپل نقد په جال کې د اثر منفي کبان ونیسي، خو دوی ددغه سمندر ښکلا او روڼوالی هېر کړی ؤ چې باید ستایل شوی وی. بله ستونزه هم دا وه چې کله کله به اثر له کره کتونکي هېر شو، له یوې مخې به یې د اثر پنځوونکي ته پام واړووه، یعنې کره کتنه به د اثر پر ځای د اثر پر پنځګر ولاړه وه ، د هغه شخصي ژوند، ایډیالوژي، پخواني کمزوري اثار، پوهه او دریځ به یې نقد کړی ؤ.

اوس پوښتنه دا ده چې په پښتو ادب پوهنځیو کې د کره کتنې مضمون د تدریس او د ګڼو ادبي بهیرونو په رامنځته کېدو سره بیا هم ولې زموږ د ادبي نقد درجه معیاري او هغسې نه ده چې تمه یې لرو، یا ولې د کره کتونکي خبره اهمیت نه لري او یا مو کره کتنه تش د نورو د نظرونو او نقدونو ټولګه وي.

د اوسنۍ ادبي کره کتنې حکم دا دی چې کره کتونکی باید د ادبي اثر منفي او مثبت دواړه خواوې را وسپړي، عادلانه قضاوت وکړي، ښه به دا وي چې منفي پال نه، بلکې مثبت اند ولري، په دې معنا چې لومړی باید د اثر ټولې ښېګڼې او مثبت اړخونه ذکر کړي او بیا منفي خواوو ته ورشي، حتی یو کُلي حکم دا دی چې که چېرته یو اثر اتیا- نوي سلنه ښېګڼې ولري، نو پاتې لس یا شل سلنه منفي برخې هېڅ د یادونې وړ هم نه دي.

بله اندېښنه دا ده چې زموږ نقد ولې د انتقاد او انتقام



شکل لري، کره کتونکی خو باید د ادب د بڼ هغه مالي وي چې بڼ ځنګلي کېدو او یاغیتوب ته پرېنږدي، کوښښ وکړي چې وخت پر وخت ونې او بوټې له وحشي توب وژغوري، خو کله چې د بڼ دغه مالي خپله د وحشیتوب پلوی وي او د بڼ د ښکلا خیال ورسره نه وي، نو دلته باید دغه مسؤولیت ترې واخیستل شي.

اوسنی وخت د پوهې او فکر له اړخه هم له پخوانیو وختونو سره فرق لري، په دې معنا چې زموږ د اثارو لوستونکی هغه پخوانی انسان نه دی، نن علومو او تیوري

ته لاس رسی ښخي اسانه شوی دی، دې چارې لوستونکی یعنې د ادبي اثارو مخاطب هم روزلی دی، د قضاوت او پرېکړې ځواک يې ورکړی، داسې نه دی چې کره کتونکي د ادبي اثر په تړاو هره پرېکړه وکړه، هغه ته به د منلو وړ وي، يا د پنځګر هره پنځونه عالي وبولي، ځکه خو باید د ادبي کره کتنې مسلکي اړخ ته پام وشي او کره کتونکی د احساساتي او يو اړخيز چلند پر ځای پر خپله پوهه، ادبي سلوک او علمي اړخ ډېر تمرکز ولري او له نهايت احتياط څخه کار واخلي.

دا ستونزه شايي اوس هم موجوده وي چې کره کتونکی یوازې ادبي اثر ويجاړوي يا دا حس په طبيعي ډول له هغه سره نغښتی وي، خو د معاصرې ادبي کره کتنې اصول وايي چې که د يوه ادبي اثر کوم اړخ درته خراب ښکاري او د له منځه وړلو يا سمون حکم يې کېږي، نو د سمون نسخه هم باید وړاندې شي او کوم کار چې وړانېږي، هسې وران دې نه پاتې کېږي، تر هغې د غوره جوړښت او سمون طرحه او وړانديز دې ورسره ملګری وي.

زما په نظر چې اوسمهال زموږ د تخليق سرچينې ښې دي، زموږ تخليق هم تر ډېره پورې د ستاينې وړ دی، ځکه چې روانو حالاتو، غميزو او ناورينونو زموږ خلاقو پنځګرو ته ډېرې سوژې ورکړې دي، له طبيعت سره ژور تړاو لري، خو پنځګر نه شي کولی چې خپل اثر د لوستونکي د سوېې برابر شرحه کړي، دا د ادبي کره کتنې د عالم کار دی چې دا کار وکړي، خو دا چې هغه خپل مسؤوليت د پورتنيو ستونزو په سبب په وخت سره نه دی اجرا کړی، نو دلته زموږ د ادبي اثر او کره کتونکي تر منځ يوه فاصله او د هنري توازن نشتوالی ايجاد شوی چې تاوان يې يوازې ادبي اثر ته رسېږي. په بل عبارت؛ پنځګر خپل مسؤوليت اجرا کړی، خو کره کتونکی پکې پاتې راغلی.

په ادبي کره کتنه کې ټولنپوهنه او ارواپوهنه هم بارز رول لري، کله چې زموږ کره کتونکی په دې دواړو برخو کې اړين او د اړتيا وړ درک ونه لري، نو له شک پرته چې د ادبي اثارو هغه برخه چې له دې ځانګو سره تړاو لري، ګوښه پاتې کېږي، دا تياره ګوټ د هغو راتلونکو کسانو لپاره هم کوم مشال نه شي بلولی چې په دې لاره را روان دي، ځکه خو د ادب يوه برخه تته او ګوښه پاتې کېږي.

د تخليقي ادب وده له شک پرته چې د پنځګر او کره کتونکي په ادبي صلاحيت او پوهې پورې تړلې ده، خو د دواړو تر منځ پخلاينه، د قناعت او سمون اصل هم په دې برخه کې د ډېرې يادونې وړ دی، هغه څه چې زموږ د کره کتنې په نړۍ کې تت ښکاري.

دا خبره هم باید هېره نه کړو چې کره کتنه تر تخليق ګران کار دی، دا چې ګران دی، معنا يې دا ده چې د کره کتونکي پوهه بايد تر پنځګر لوړه وي، دی بايد د پنځګر په اثر وپوهېږي، بلکې دا ډول نور اثار او د کره کتنې هغه اصول يې لوستي وي چې په اساس يې ده ته د ښه او بد، کره يا ناکره د تلنې ځواک ورکوي، ددغه محک تر لاسه کول، زموږ په ذوق او ادبي ژمنتيا پورې نه، بلکې په ادبي پوهې او مطالعاتو پورې تړلې ده.

نن چې زموږ د کره کتنې لوستونکي فکر کوي چې دا موضوع د اثر او لوستونکي تر منځ خنډ ګرځېدلې، لامل يې دا دی چې کره کتنې کله کله د اثر له اصلي روح او سپړنې



په بله لار روانېږي، ددې پر ځای چې د اثر سپړنه سمون وکړي، يو بل مضمون پنځوي چې کله کله له اصلي اثر سره هېڅ تړاو نه لري، يا په بل عبارت؛ کره کتونکی د اثر د کره کتنې په نوم پر مخاطب خپله پوهه پلوري.

اوس چې د اثارو او ليکوالو شمېر زيات شوی، هره ورځ د نوو اثارو او ليکوالو له نومونو سره اشنا کېږو، نو د ادبي کره کتنې مسؤوليت هم له حده ډېر محسوس دی، خو د معياري او اصولي کره کتنې چې زموږ د ټولنې، فرهنګ او اثر له روح سره تړاو ولري، داسې کره کتنه نه چې د لوستونکي او کره کتونکي نظر د اثر په اړه يو ډول وي او کوم تفاوت په کې حس نه شي.

موږ که اوس هم د خپلو اثارو په شننه او نقد کې د پوټيک اثر، اپلاتون، ارسطو، سقراط او... نظرياتو ته په خپله پوهه او تيوري ترجيح ورکوو، نو معنا دا چې ددې برخې اوسني اصول او نظريات مو يا لوستي نه دي او يا خو ناسم او د تطبيق وړ نه دي. په اوسنۍ ادبي کره کتنه کې د کره کتونکي او پنځګر تر منځ بدبيني او دښمني خپله هم د ادبي کره کتنې يو مهم بحث دی چې بايد په جلا ډول وسپړل شي.

# ګهیځ په تېرو شپږو میاشتو کې!

ګهیځ د لیکوالو او ژورنالیستانو ټولنې په تېرو شپږو میاشتو کې په بېلابېلو برخو کې بېلابېل فعالیتونه ترسره کړي دي چې په تفصیل سره یې درنو لوستونکو سره شریکوو:

**یاد غونډې او ورکشاپونه:**

• د روان کال د مېزان په ۱۸(مصاحبه رسانه یی و راهکار های مؤثریت آن) تر عنوان لاندې یو روزنیز ورکشاپ جوړ شو چې پکې د بېلابېلو پوهنتونو او تحقیقي مرکزونو لسګونو غړو ګډون کړی وو.




• د ۱۳۹۸ کال د قوس په ۷ مه نېټه د نامتو لیکوال، ژورنالیست او شنونکي احمد وحید مژده په یاد غونډه جوړه شوه چې په یاده غونډه کې په لسګونو مشرانو او ځوانانو او د مطبوعاتي ډګر لارویانو ګډون درلود. په یاده غونډه کې د افغانستان د ژورنالیستانو د مالي ملاتړ صندوق رئیس آصف وردګ هم ګډون کړی ؤ او د شهید مژده له کورنۍ سره یې د یولک افغانیو مرستې وعده وکړه چې وروسته بیا د ګهیځ لیکوالو او ژورنالیستانو ټولنې د رئیس سردار محمد دیندارخېل او د اړیکو مسؤول احمدضیا رحیمزي په شتون کې دغه پیسې د وحید مژده کورنۍ ته ورکړل شوې.




له ټولنو او بنسټونو سره ناستې او مجلسونه:

• د قوس په ۲۸ مه نېټه د ګهیځ لیکوالو او ژورنالیستانو ټولنې د اجرایي کمیسیون یوه پلاوي په هغه ناسته کې ګډون وکړ چې د خصوصي پوهنتونونو او لوړو زده کړو مؤسسې د اتحادیې په همکارۍ د خصوصي پوهنتونونو د ژورنالېزم د پوهنځیو له رئیسانو او لوړ رتبه استازو سره ترتیب شوې وه.



• د جدی په لسمه نېټه د علومو اکاډمۍ د ژورنالېزم انستېټیوټ له آمرې آغلې فرزانه حبیبي سره ناسته ترسره شوه چې په ترځ کې یې د یاد انستېټیوټ او ګهیځ ټولنې تر منځ د ګډو همکاریو پر بڼه او څرنګوالي بحث وشو.




• د جدی په ۱۵ نېټه د علومو اکاډمۍ له رئیس دکتور عبدالظاهر شکیب سره ناسته وشوه چې په ترځ کې یې ښاغلي شکیب ته د ګهیځ ټولنه ور و پېژندل شوه او له ګهیځ ټولنې سره د علومو اکاډمۍ د علمي مرستو او همکاریو پر بڼه او څرنګوالي بحث وشو.

• همدارنګه په تېرو میاشتو کې د ګهیځ له لوري د افغانستان د رسنیو فدراسیون او د افغانستان د ژورنالیستانو د مالي ملاتړ صندوق د مشرتابه پلاوي په غونډو کې په دوام دار ډول ګډون شوی دی.
• د دلوې په ۲۳ مه نېټه د افغان بارز مشورتي شرکت له اداري سره ناسته وشوه اود ګډې همکاري لپاره یې یو بل سره په ځینو مسایلو توافق وکړو.

**د هوکړه لیکونو لاسلیک:**

د دلوې په ۱۴مه نېټه د تابش پوهنتون له رئیس شاغلي پوهندوی محمد محسن فرید او د ژورنالېزم پوهنځي له رئیسې مېرمن مژګان ژاله سره د روان کال د دلوې میاشتې په ۱۴ مه نېټه ناسته ترسره شوه چې په پای کې یې د یاد پوهنتون له ژورنالېزم پوهنځي سره د ګډو همکاریو هوکړه لیک لاسلیک شو. د ګهیځ ټولنې اداره غواړي د ګډې همکارۍ دغه هوکړه لیکونه له نورو پوهنتونو سره هم وغزوي.



**انټرنشپ:**

په تیرو شپږو میاشتو کې د ګهیځ لیکوالو او ژورنالیستانو له ټولنې سره د انټرنشپ په برخه کې ۸ کسانو کار پیل کړی چې دلته ورته د عملي او تخصصي زده کړو تر څنګ د ټکنالوژۍ په برخه کې هم روزنه ورکول کېږي، او په راتلونکې کې به هم دا لړۍ همداسې دوام ولري.

**د نویو غړیو جذب:**

په تیرو شپږو میاشتو کې ۵۰ نویو کسانو د ګهیځ لیکوالو او ژورنالیستانو ټولنې د غړیتوب ویاړ تر لاسه کړی او دا لړۍ هم پر مخ روانه ده.

**رسنۍ ( ټولنیزې شبکې او ویب سایټ)**

• په تېرو شپږو میاشتو کې د ګهیځ ویب سایټ، فیسبوک پاڼو او د واټسپ او ټلګرام په خبري ګروپونو کې په منظم ډول نشرات شوي دي او ټول ګروپونه په تازه خبرونو او موضوعاتو سره نوي شوي دي.
• همدارنګه په تېرو شپږو میاشتو کې د بېلابېلو موضوعاتو په اړه ۳۲ تخصصي او مسلکي لیکنې،د غمرازۍ څلور اعلامیې او د ټولو توافقنامو او غونډو راپورونه نشر شوي دي.




• همدارنګه د ګهیځ مجلې د څلورمې ګڼې لپاره مضامین او مقالې مشخصې شوې، له لیکوالانو څخه یې د ترلاسه کولو او چاپ ته چمتو کولو لړۍ تعقیب شوې ده،چې داده اوس دا مجله ستاسو په لاس کې ده.
• د ملي آرشیف څخه د ګهیځ کلکسیون په تصویري بڼه تر لاسه شو.

**د ګهیځ کتابتون:**



په تېرو شپږو میاشتو کې د ګهیځ ټولنې د کتابتون د لا زیاتو غني کولو لپاره تخصصي او مسلکي کتابونه را ټول شول او د بېلابېلو رشتو اړوند ۹۵کتابونه پکې اضافه شوي دي او دا لړۍ همداسې روانه ده.

# د ګهيځ مهالنۍ مجلې د فوق العاده ګڼې د خپراوي له امله:
# د افغانستان د ژورنالیستانو د مالي ملاتړ صندوق
# د مشر محمد آصف وردګ پيغام

بسم الله الرحمن الرحيم

وحید مژده د افغانستان د رسنيز کهول يوه داسې پياوړې څېره وه چې له اوږدو کلونو را پدېخواه يې په جګړه ځپلي افغانستان کې د سولې، بيان آزادۍ او عدالت د ټينګښت په لار کې مبارزه وکړه، تل يې په خپلو ليکنو، تحليلونو او مرکو کې د افغانستان د رواني غمېزې او تپل شوې جګړې د پای ته رسېدو پر لارو چارو بحث درلود او په دې جګړه ځپلي هېواد کې يې د سولې او امن د ټينګښت لپاره هڅې کړې دي، چې متأسفانه د روان لمريز کال د عقرب په مياشت کې د نامعلومه وسله والو له خوا په داسې حال کې چې د لمانځه د ادا کولو لپاره جومات ته روان ؤ، ووژل شو.

که څه هم وحيد مژده کوم نوم ورکی او نا پېژانده شخصيت نه ؤ او نه يې له چا سره داسې دښمني درلوده چې د هغه د ژوند د اخيستو قصد دې يې کړی وي، اما دادی د نوموړي له وژل کېدو نژدې د څلورو مياشتو تر تېرېدو بيا هم نه د هغه قاتلين وپېژندل شول او نه چا د هغوی د نيولو او په سزا رسولو لپاره د ترسره شويو هڅو يادونه وکړه.

د افغانستان د ژورناليستانو د مالي ملاتړ صندوق، تر دې وړاندې د خپلې کړنلارې له مخې او د صندوق د مديره پلاوي په تأييد، د شهيد وحيد مژده له کورنۍ سره نغدي مرسته هم ترسره کړې ده او دادی دا ځل د ياد صندوق رئيس د خپلې کړې ژمنې په اساس له ګهيځ ټولنې سره په ګډه، د نوموړي شهيد په ياد د ګهيځ مجلې د يوې فوق العاده ګڼې په خپراوي کې هم ونډه اخلي.

د رسنيو د کورنۍ هر غړی مونږ ته د قدر وړ دی، په تېره بيا داسې کسان لکه وحيد مژده چې د افغانستان په جګړه ځپلي ماحول کې يې تل د سولې او پخلاينې داعيه اوچته کړې وه او د عمر تر آخره له وطن او وطنوالو سره په خپله ژمنه ودرېد.

زه په داسې حال کې چې د ګهيځ ليکوالو او ژورناليستانو ټولنې له مشرتابه پلاوي مننه کوم چې تل يې د افغان ژورناليستانو او خبريالانو ننګه کړې او دا ځل يې ماته هم دا فرصت په لاس راکړ چې د افغان رسنيزې کورنۍ د يوه فعال غړي شهيد مژده په ياد د دې مجلې په خپراوي کې شريک شم.

په پای کې زه د نوموړي شهيد روح ته دعا کوم، له لوی څښتن تعالی نه ورته جنت الفردوس غواړم، د نوموړي قاتلين او د هغې عاملين تور مخي او رسوا غواړم.

په درناوي
د افغانستان د ژورناليستانو د مالي ملاتړ صندوق د امتياز څښتن او رئيس
محمد آصف وردګ

# د ګهیځ له البم څخه




















# ګهیځ

مهالنۍ




**د افغانستان د ژورنالیستانو د مالي ملاتړ صندوق له مشر ښاغلي آصف وردګ څخه د زړه له کومي مننه کوو چې د ګهیځ مهالنۍ ددې ګڼې مالي لګښت یې په غاړه واخیست.**

**(ګهیځ د لیکوالو او ژورنالیستانو ټولنې اداره)**